



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کوید-۱۹ کرونا ویروس پټ رازونه

عبدالرشید صمد نجاب

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د کتاب ځانګړتیاوې

**د کتاب نوم:** د کویډ-۱۹ کرونا ویروس پټ رازونه

**لیکوال:** عبدالرشید "صمد نجاب"

**برېښنالیک:** rasheedsamadi.najab@protonmail.com

**د پاڼو ترتیبوونکی:** مبین عابد

**پښتۍ ډیزاین:** مبین عابد

**چاپ شمیر:** ۱۰۰۰ ټوکه

**چاپ ځل:** لومړی

**چاپ نیټه:** ۱۴۰۰ ل، ک


ARSN

(c) ketabton.com: The Digital Library

**که چیرې د دې کتاب له مالوماتو څخه مو ګټه پورته کړه،**
**نو د خپل مور او پلار په حق کې او د لیکوال مور او پلار**
**په حق کې د خیر دعا وکړئ!**

**له تاسو ډېره زیاته مننه چې دا کتاب لولئ!**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ARSN

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سرلیکونه

سریزه ........................................................................ 1

## لومړی څپرکی

### آیا د کوید-۱۹ کرونا ویروس طبیعي ناروغي ده؟ که په لابراتوارونو کې جوړ شوی دی؟

کوید-۱۹ کرونا ویروس څه شی دی؟ .................................................. 4
د کرونا ویروس ډولونه: ...................................................................... 5
د نړیوالو ډاکټرانو پلټنې (څار) او لیدنې .............................................. 6
I . د ډاکټر راشد علي بوټار پلټنې (Dr. Rashid Ali Buttar): ....................... 6
II . د ډاکټر بروس لیپټون پلټنې (Dr. Bruce Lipton): ............................. 10
III . د ډاکټر جو ډیسپینزا پلټنې (Dr. Joe Dispenza): ............................ 13
IV . د ارواح پوه ګریګ براډین پلټنې (Gregg Braden): .............................. 15
د غم او مصیبت یا (ګریف - Grieve) مرحلې: .......................................... 16
آیا د کوید-۱۹ کرونا ویروس طبیعي ناروغي ده؟ که په لابراتوارونو کې جوړ شوی دی؟
........................................................................................................ 17

## دویم څپرکی

### اسلامي موخه د کوید-۱۹کرونا ویروس یا سارس -۲ په را مینځ ته کولو کې

اسلامي موخه د کوید-۱۹ کرونا ویروس په را مینځ ته کولو کې: ..................... 21
د حج مراسمو ځنډول: ........................................................................ 21
د دجال د راوتلو لپاره کار کول : ........................................................... 24
د دجال د راوتلو لپاره د لارو برابرول: .................................................... 24
فِری میسنری (میسونیزم) ، آوینجیلم (آوینجلیزم) او موخې یې: ...................... 32
فِری میسنری یا میسونیزم (Free Masonry): ............................................ 32
آوینجیلم یا آوینجلیزم (Evangelism): ...................................................... 35

## دریم څپرکی

### اقتصادي موخه د کوید-۱۹کرونا ویروس یا سارس -۲ په را مینځ ته کولو کې

اقتصادي موخه د کوید-۱۹ کرونا ویروس په را مینځ ته کولو کې: ..................... 37

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نړۍ نقدو پیسو راټولول او له منځه وړل:................................................ 38
د کوچنیو او منځنیو (متوسطو) سوداګریو له منځه وړل: ............................. 40
د لویو شرکتونو پواسطه د بېلابېلو او ډول ډول توکو (موادو) تولیدول: ................ 41
د دوا جوړولو شرکتونو او لویو شرکتونو غښتې ګټې:....................................... 42
د آمریکا او چین سیالۍ او لانجې: .................................................... 44
د هیوادونو تر منځ د سفر کولو د طرز بدلون: ..................................... 45
د متقاعدینو له منځه وړل او د هغوی امتیازات نه ورکول: ............................. 46
نړۍ په کوچني کلي اړولو نظریه - ګلوبلایزیشن (Globalization): .............. 47
نړیوال کېدلو ساده تعریف: ........................................................... 48
نړیوال کېدلو تعریف د روغتیا نړیوال سازمان لخوا:........................................ 48
نړیوال کېدنه په اقتصاد کې څه شی ده؟................................................... 48
نړیوال کېدنه په جغرافیا کې څه شی ده؟ ................................................. 48
نړیوال کېدلو تاریخچه (لومړنی مهال):..................................................... 49
نړیوال کېدلو بېلابېل ډولونه:.......................................................... 49
اقتصادي نړیوال کېدنه: ................................................................ 49
مالي نړیوال کېدنه:................................................................... 49
فرهنګي نړیوال کېدنه: ................................................................ 50
سیاسي نړیوال کېدنه:................................................................. 50
ټولنیزه نړیوال کېدنه: ................................................................ 50
ټکنالوژیکي نړیوال کېدنه:.............................................................. 50
جغرافیایي نړیوال کېدنه:............................................................... 51
اکولوژیکي یا طبیعي نړیوال کېدنه:........................................................ 51
د نړیوال کیدلو یا ګلوبلایزیشن ګټې:..................................................... 51
د نړیوال کیدلو یا ګلوبلایزیشن نواقص او منفي اغیزې: ................................ 52

## څلورم څپرکی

## د نړیوال بحران موخه د کوید-۱۹ کرونا ویروس په را منځ ته کولو کې

د نړۍ نفوس کمولو نظریه یا ډیپاپولیشن - (Depopulation): ..................... 55

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پنځم نسل ټکنالوژۍ (5G) ونډه په بحران کې: ........................................ 61
د نړۍ په ټولو هیوادونو کې د خلکو د قرنطین کولو موخې:............................. 63
د بېلابېلو رسنیو ونډه په بحران کې:................................................. 65
نړیوال روغتیا سازمان ونډه په بحران کې: ........................................ 71
- نړیوال روغتیا سازمان (WHO) ونډه په بحران کې: ................................. 71
- د افغانستان عامې روغتیا وزارت ونډه په بحران کې: ................................ 74
- روغتیايي شرکتونو ونډه په بحران کې:.............................................. 77
- د مُډرنا (Moderna) شرکت ونډه په بحران کې: ................................... 80
- د فایزر (Pfizer) شرکت ونډه په بحران کې: ...................................... 82
- نړیوال اقتصادي ټولنې سازمان ونډه (World Economic Forum) په بحران کې:. 85
- لویه بیاځل جوړونې نظریه (The Great Reset) او نوی عادي حالت ( The New
Normal):............................................................................. 88

## پنځم څپرکی

## له مخکې وړاندوینې د کوید-۱۹ کرونا ویروس د خپریدو په اړه

کتابونه او لیکل شوې کیسې د کوید-۱۹ کرونا ویروس د خپریدو په اړه: ............ 94
نور کتابونه. . . د ویروسونو او نړیوالو وباوو (ناروغیو) د خپریدو په اړه: ............. 96
فیلمونه د ویروسونو او نړیوالو وباوو (ناروغیو) د خپریدو په اړه:....................... 98
هغه فیلمونه چې پکې د کوید-۱۹ کرونا ویروس په اړه یې اشاره ورته کړې وه: .... 103

## شپږم څپرکی

## پایله اخیستل

پایله اخیستل او په هوښیارۍ سره د کوید-۱۹ کرونا ویروس سره مقابله: .......... 106
سرچینې او مأخذونه: ................................................................ 110

(c) ketabton.com: The Digital Library

ARSN

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

د الله (جَلْ جَلَّا لَهُ) د لویو نعمتونو لپاره چې مونږ ته یې ژوند، ایمان(مسلماني)، روغتیا(سلامتي)، عقل او نور بې شمیره لامحدود نعمتونه راکړي دي مننداوی او شکرګذاره یم. الله (جَلْ جَلَّا لَهُ) کوم ژوند چې انسانانو ته وربخښلی دی د دې ژوند واک او مسئوولیت یې هم ورسره ورکړی دی. د ژوند دا واک د فکرونو کنټرول، انتخابونو او په هوښیارۍ سره پریکړې د انسانانو په ژوند کې دي. دا کتاب چې تاسو به یې ولولئ د دې لپاره لیکل شوی ده چې د ژوند واک او کنټرول مو په خپل لاس کې وي، نور زمونږ ذهنونه او فکرونه کنټرول نکړي، په ژوند کې مونږ ته پریکړې ونکړي. د تاریخ په اوږدو کې ثابته شوې چې لوی ملتونه د نړۍ په بیلا بېلو سیمو کې د هغوی په مینځ کې د ډار، وحشت او ناورین (بحران) په جوړولو سره د کوچنیو ډلو تر کنټرول او ولکې لاندې راغلي دي. لکه څنګه چې مو د کوید-۱۹ کرونا ویروس په بحران (وبا) کې ولیدل په لومړیو کې دا بحران (وبا) طبیعي ښکاریدِه خو لږ وروسته معلومه شوه چې دا بحران په لاره اچول شوی ده؛ یو شمیر هیوادونه، سازمانونه، ډلې او اشخاص د کوید-۱۹ کرونا ویروس د بحران (وبا) په پلمه د خپلو موخو او دیني، صحي، اقتصادي، مالي، سیاسي او بیلا بېلو اجنډاوو د پلي کولو په لټه کې دي. په لومړیو کې د نړۍ په ټولو هیوادونو کې او په افغانستان کې هم دا بحران (وبا) له ډیرې وېرې سره وو، ټول خلک زما په ګډون په ډار او وېره کې وو. د بیلا بېلو رسنیو په پوښښ کې ، د نړۍ د ټولو هیوادونو د حکومتونو او نړیوال روغتیا سازمان لخوا خلکو ته یوه موخه او یو پیغام وړاندې کېدِه؛ نو زه پدې لټه کې شوم چې آیا په رښتیا سره دا بحران (وبا) طبیعی ده که کوم څه پکې شته دي؟ کله چې ما د حقایقو لټون پیل کړ، پدې پوه شوم چې د دې بحران رښتیاوې او واقعیتونه څه دي؟ او ولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې دا بحران (وبا) په لاره اچولی ده؟ له نیکمرغه ډیری پوهان، ډاکټران، عالمان او خبرغوښتونکي انسانان د نړۍ په بېلا بېلو برخو کې وو او ډیره هڅه یې کوله چې واقعیتونه او سم مالومات خلکو ته ورسوي خو دا واقعیتونه او مالومات یې چې وراندې کول د هغه سازمانونو او ډلو له خوا چې غواړي د خلکو کنټرول او د نړۍ بیلابېلو حالاتو کنټرول په لاس کې ولري ناسم بلل کیدل او په ډیری وختونو کې دا واقعیتونه او مالومات یې له مینځه وېوړل او له مینځه یې وړي. پدې کتاب کې تاسو پوه او هوښیارو لوستونکو ته د کوید-۱۹ کرونا ویروس تر شا چې کومې موخې او اجنډاوې پرتې دي له مستند، اسنادو، سرچینو او مأخذونو سره بیان شوي دي، د تاسو مالومات ډیروي د دې لاره تاسو ته پرانیزي چې خپله لټون وکړئ او په بیلا بېلو واقعیتونو او حالاتو چې په نړۍ کې جریان لري ترې خبر شئ؛ تر ټولو اړینه دا چې د ذهنونو او فکرونو کنټرول، خپلواکي (آزادي) او د ژوند ټولې برخې مو په خپل لاس کې وي. سازمانونه، رسنۍ ، ډلې او اشخاص د تاسو پر ځاي پریکړه ونکړي او خپله د ژوند له ټولو موضوعاتو او د نړۍ له حالاتو څخه خبر واوسئ او د خپل ژوند واکمن واوسئ. د کوید-۱۹ کرونا ویروس په بحران (وبا) کې رسنیو، د هیوادونو حکومتونو، د هیوادونو روغتیایي سازمانونو او نړیوال روغتیا سازمان په خبره او ناخبره توګه خلک یې په ډار او وېره کې واچول او دې بحران (وبا) ته یې اعلانونه، بازارموندنه او هر ډول عمل چې په خلکو اغیزمن وو استفاده وکړه تر څو موخې او اجنډاوې یې ژر د پلی کېدلو وړ شي. په ډیرو بحرانونو کې چې په نړۍ کې په لاره اچول کیږي او جوړیږي ډیری وخت مالي او اقتصادي موخې، کنټرول او پر خلکو برلاسه کېدل او قدرت ترلاسه کول د سازمونو، ډلو او محدودو اشخاصو پکې وي. د کوید-۱۹ کرونا ویروس د موخو او اجنډاوو تر خبرېدو وروسته مې دا پریکړه وکړه چې د یو کتاب په چوکاټ کې دا مالومات او واقعیتونه زمونږ د هیواد (افغانستان) پوه او هوښیارو خلکو سره شریک کړم. یوه موضوع باید ووایم: چې د دې کتاب په لیکلو سره زما موخه دا نه ده چې خلکو ته وښیم چې زه یو اتل یم، اصلاً نه یم؛ کوم ډیر لوی کار

(c) ketabton.com: The Digital Library



می هم ندی کړی زما په څېر یو تنبل کس چې د لټون او څار پواسطه دې اندازې مالوماتو او واقعیتونو ته یې لاسرسی وموند تاسو چې زما څخه ډېر پوه، هوښیار او ځیرک یاست د دې کتاب په لوستلو، او د خپل لټون او څار پواسطه کولای شئ چې لا ډېرو ښو مالوماتو او واقعیتونو ته لاسرسی ومومئ او د خپل او نورو د ژوند په ښه کېدلو کې ورڅخه ګټه واخلئ تر څو د ژوند کنټرول، فردي او ټولنیزه خپلواکي (آزادي) مو پخپل لاس کې وي. په وروستۍ کلمه کې یادونه کوم چې هیڅ انسان له خطا او غلطۍ څخه پاک ندی، او پدې موضوع کې زه هم شامل یم؛ تاسو پوه او هوښیار لوستونکي، کولی شئ ما ته د متن تیروتنې او نورې خطاګانې د هغه بریښنالیک چې د کتاب په پیل کې او د کتاب په مأخذونو کې شتون لري راولیږئ یا ایمیل یې کړئ، تر څو د کتاب او د کتاب د متن په ښه والي کې مرسته وکړي .د دې کتاب لوستلو لپاره له تاسو څخه د زړه مننه کوم.

**عبدالرشید " صمد نجاب "**

(c) ketabton.com: The Digital Library


**دا کتاب مو لکه څنګه چې په وړیا توګه لاسته راوړی، تاسـو داسـې یـې وکړئ چې په لوړه بیه مو اخیستی دی، هیله ده چې لـه لوسـتلو او مطـالعې وروسته ګټور او ښه درته تمام شي.**

- **آند او نظر:** که چیری د کتاب په اړه مثبت آند او نظر یا هم منفی آند او نظر لرئ سره له سبب او دلیل یې، د لیکوال سره د دې برښنالیک پواسطه شریک کړئ: rasheedsamadi.najab@protonmail.com

**یادَونه:**

د دې کتاب چاپ شوې کاپي یا نسخه د **سعید انتشارات و** کې شته ده، پـه دري یا فارسي ژبه هم د دې کتاب چاپ شوې کاپي یا نسخه د **سعید انتشارات و** کې شـته ده. کـه چیـرې د دې کتـاب غوښـتنه لـرئ نـو د وټـس اپ شـمیره یـې (۰۷۳۰۲۰۰۷۰۰) ده کولای شئ چې ددې کتاب کاغذي یا چاپ شوې نسـخه تر لاسه کړئ. که کور مو کابل کې وي او ښار ته نـږدې یاسـت کـولای شـئ یـاد شوي انتشاراتو ته چې په آسمایي واټ که موقعیت لري لاړ شئ او کتاب تر لاسـه کړئ. کولای شئ د کابل په نورو کتاب پلورنځیو کې یې هم پوښتنه وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لومړی څپرکی**

## آیا د کوید-۱۹ کرونا ویروس طبیعي ناروغي ده؟
## که په لابراتوارانو کې جوړ شوی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کویډ-۱۹ کرونا ویروس څه شی دی؟

د کویډ-۱۹ کرونا ویروس د سارس له ډول څخه یوه ناروغي ده چې د ۲۰۱۹ م کال د ډیسامبر په میاشت کې د چین هیواد د هیوبای ولایت د واهان په ښار کې وپیژندل شو، او له هغه وروسته په نړیواله توګه خپور شو. له لویو نښو څخه یې سخته تبه، وچ ټوخی او ساه نیونه ده. نورې نښې یې ستړیا، د عضلاني درد، نس ناستې، ستوني درد، بطني دردونه او د ذائقې (د خولې مزه) له لاسه ورکول دي. د نښو د ښکاربېدلو موده یې پنځه (۵) ورځې ده، خو کیدای شي چې له دوو(۲) څخه تر څوارلس ورځو پورې وخت ونیسي. ددې ناروغۍ ډیری پیښې د ډیر عمرلرونکو او هغو کسانو کې چې د بدن دفاعي سیستم یې کمزوری او د تنفس ستونزې ولري لیدل کیږي. د کویډ-۱۹ کرونا ویروس د کرونا وایرس، کرونا، کویډ، سارس ۲ کرونا وایرس، د کرونا تنفسی نوې ناروغي او د واهان تنفسی ناروغۍ په نومونو هم یادیږي. د کرونا ویروس د خلکو تر مینځ د نږدې اوسیدلو په وخت کې کیدای شي چې خپور شي، د ټوخي په وخت کې د مایع څاڅکو پواسطه، پرنجې کولو او خبرو کولو په وخت کې له اخته شویو کسانو له خولې څخه د وتلو او د روغو کسانو د تنفس کولو په وخت کې کیدای شي هغوی ته ورشي، که دا ویروس په آزاده هوا کې وي کیدای شي چې په لمس کولو یې د اخته کیدو سبب شي. د یادونې وړ ده چې دا ویروس تر (۷۲) ساعته یا درې ورځو پورې کیدای شي چې ژوندی پاتې شي او پدې وخت کې کیدای شي چې د خطر سره وي. د کرونا ویروس نوم د کرون یا کرونا (Crown | Corona) لاتینې کلیمې څخه اخیستل شوی چې د تاج په مانا ده. د تاج په څیر او د میلو په څیر شکل یې چې په سترګو لیدل کیږي د کرونا ویروس د نوم ایښودنې سبب شوی دی. د مړینې کچه یې له ۲۶،۰٪ څخه تر ۳.۰٪ پورې رسیږي. باید وویل شي چې په ویروس اخته کېدو کچه د مړینې کچې سره ګډوډه نشي چې ډیر لوړ او د بیلابېلو ګرافونو سره یې ښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کرونا ویروس ډولونه:

د کرونا ویروس اووه یا اته ډولونه شتون لري چې په انسانانو اغېزناک دي. ټول ډولونه یې د عادي زکام یا ریزش په څېر دي. طبي نومونه یې په لاندې ډول دي:

I. 229E - (۲۲۹ اِی)
II. NL63 - (ان ال ۶۳)
III. OC43 - (او سی ۴۳)
IV. HKU1 - (اچ کی یو۱)
V. SARS-CoV - (سارس-کرونا وایرس)
VI. MERS-CoV - (میرس-کرونا وایرس)
VII. SARS-CoV-2 (COVID-19) - (سارس کرونا وایرس-۲ یا کوید-۱۹)

د کرونا ویروس د ټولو ډولونو وضاحت ته یې اړتیا نشته، خو درې وروستي ډولونه یې سره ورته والی لري او دا به واضح شي. د کوید-۱۹ کرونا ویروس په اړه په مخکیني عنوان کې وضاحت ورکړل شو.

### V. سارس-کروناوایرس (SARS-CoV):

د دې ویروس بشپړ نوم سیور اکیوټ ریسپیټوري سینډروم - (Severe Acute Respiratory Syndrome) دی. په ۲۰۰۲ م کال کې د چین په ختیځ کې دا ویروس ښکاره شوی وو. د (۲۰۰۲ - ۲۰۰۳ م) کلونو په اوږدو کې د نړۍ په نهه ویشت (۲۹) هیوادونو کې اته زره (۸۰۰۰) تنه پدې ویروس اخته شوي وو. او دا ویروس د نږدې (۸۰۰) کسانو د مړینې لامل شوی وو. د دې ویروس د مړینې کچه ۱۰٪ سلنه اټکل شوې وه. یو شمیر روسي ساینس پوهان پدې باور دي چې دا ویروس په لابراتوارونو کې جوړ شوی وو او لومړنۍ نمونې یې د امریکا بیولوژیکي وسلو اداره او لابراتوارونو کې شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### VI. میرس-کروناوایرس (MERS-CoV):

د دې ویروس بشپړ نوم میډل ایسټ ریسپیټوري سینډروم - (Middle East Respiratory Syndrome) دی په (۲۰۱۲) م کال کې دا ویروس په سعودي عربستان کې ښکاره شوی وو او وروسته بیا وویل شوو چې د دې ویروس اصلی سرچینه د اُردن هیواد وو. د دې ویروس د خپرېدو لامل یې په هغه وخت کې یاد شوی وو چې له اوښانو او نورو ځارویو څخه انسانانو ته لیږدول شوی دی. دا ویروس د نړۍ په اووه ویشت (۲۷) هیوادونو کې خپور شوی وو او نږدې دوه زره پنځه سوه (۲۵۰۰) تنه پرې اخته شوي وو او د اته سوو شپږ شپیته (۸۶۶) تنو د مړینې لامل شوی وو. د دې ویروس د مړینې کچه ۳۴٪ سلنه اټکل شوې وه. یو شمیر طبی پوهان پدې باور دي چې دا ویروس له ځارویو څخه انسانانو ته لیږدول شوی نه وو مګر په لابراتوارونو کې جوړ شوی وو او د بیولوژیکي وسلو په توګه کارول شوی وو.

## د نړیوالو ډاکټرانو پلټنې (څار) او لیدنې

څیړنې او پلټنې چې د طبي ساینس پوهانو لخوا ترسره شوي دي د کوېډ-۱۹ کرونا ویروس ربښتیاوې او اصلي واقعیتونه یې ښکاره (افشا) کړي دي چې په لاندې ډول ورته اشاره شوې ده:

### I. د ډاکټر راشد علي بوټار پلټنې (Dr. Rashid Ali Buttar):



(c) ketabton.com: The Digital Library



**ډاکټر راشد علي بوټار[1] وايي:** ”د دې ويروس (کويډ-۱۹ کرونا ويروس) په اړه په (۲۰۱۵) م کال کې خبرې شوې وې چې جوړ او خپور شي خو په هغه وخت کې دوو ساينس پوهانو اجازه ورکړې نه وه.

## " ويروس يوه طبيعي واقع شوې پيښه نده"

اړينه ده بايد ټول پوه شي او له پټو پروګرامونو څخه بايد خبر شي ډار او وېره ونلري ځکه چې دا يې هم د پلانونو يوه برخه ده. د ۲۰۲۰م کال د جنورۍ مياشتې له پيل څخه د مارچ مياشتې تر پای پورې هغو کسانو چې ژوند يې له موسمي يخنۍ (يخې هوا) څخه له لاسه ورکړی شمير يې (۱۱۰۸۲۳) کسانو ته رسيږي. په ياده شوې نيټه کې د ساري ناروغيو له امله چې له يو کس څخه بل کس ته ليږدول کيږي (۲۹۵۹۷۹۰) کسانو يا نږدې درې ميليونو کسانو ژوند يې له لاسه ورکړی دی په ټوله نړۍ کې، پداسې حال کې چې د کرونا ويروس له امله (۱۶۷۵۷) کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی ده او د هغو کسانو شميرچې د دې ويروس څخه بېرته روغ شوي دي د هغو شمير (۱۰۲۰۰۰) تنو (کسانو) ته رسيږي. دا ويروس د يو شمېر خلکو په واسطه د بيولوژيکي وسلې په توګه کارول شوی ده، خو رسنۍ وايي چې دا څېړنه يوه آوازه ده، راځئ چې د دې ويروس اصلي ترکيب وګورو چې کويډ-۱۹ څه شی ده؟ لومړنۍ خبره چې بايد وويل شي: هغه دا ده چې ويروس د بيټ (چرمي شاپرک) د غوښې خوړلو، مارانو او يا بل کوم ځاروي څخه لکه څنګه چې هغوی وايي انسانانو ته ليږدول شوی نده. اړينه موضوع (خبره) چې بايد وويل شي هغه دا ده چې ويروس يوه طبيعي واقع شوې پيښه نده...

---

[1] ډاکټر راشد علي بوټار د متحده ايالاتو د ۵۰ غوره ډاکټرانو څخه دی چې له معتبرو پوهنتونونو او کالجونو څخه يې طبي درجې ترلاسه کړې دي. دا مهال هغه په چارلوټ، شمالي کارولينا ايالت کې د يو روغتون رييس دی، او هغه د طبي څېړنو د يوه مرکز رييس هم دی چې په بيلابيلو برخو کې ژورې طبي څېړنې ترسره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**" دا ویروس د شمالي کارولینا په چاپل هیل پوهنتون کې د ۲۰۱۵ م کال د نوامبر په میاشت کې جوړ شوی وو"** او هغو کسانو چې دا کار کړی وو خپل د کار مهمې برخې یې د نیچر (Nature) په ژورنال او ویب پاڼه کې چې د اعتبار وړ د څېړنیزو مقالو د خپرولو لپاره دی په یوې څېړنیزه مقاله ( Research Paper) کې یې خپور کړی وو. د هغو ساینس پوهانو په لیست کې چې د دې ویروس په را مینځته کولو پیښه کې لیدل کیږي د **ډاکټر ژیینګ لي شي** نوم راغلی ده دا هغه څوک ده چې د پتوجنونو (رنځجنو ارګانیزمونو) او معافیت بیولوژۍ په اړه یې په واهان ښار کې یې د واهان ویروس پیژندنې په انستیټیوټ او د چین ساینسي اکاډمۍ کې څېړنې او آزموینې ترسره کړي دي. ډاکټر ژیینګ لي شي دلته مهم رول لوبولی دی. په ۲۰۱۴ م کال کې ډاکټر ژیینګ لي شي یو شمیر جایزې یې د امریکا د دولت لخوا، د چین ملي څېړنې پروګرام لخوا، د چین ساینسي اکاډمۍ ، د چین د طبیعي علومو ملي بنسټ، او د چین د علومو اکاډمۍ او لومړنیو استراتیژیکي څېړنو لخوا لاسته راوړې. په کرونا ویروس د پانګې اچونې او څېړنې د مرستو په اړه یو بل ټکی باید وویل شي: چې په ۲۰۱۵ م کال کې د امریکا دولت ډاکټر ژیینګ لي شي او د چین دولت ته یې لویې پیسې ورکړې د کرونا ویروس څېړنې او پانګې اچونې په موخه او دا څېړنیزه مقاله (Research Paper) او ټول مالومات د دې څېړنې د نوامبر په ۱۲مه د ۲۰۱۵ م کال کې خپاره شوي وو. د یادونې وړ ده چې د ۲۰۲۰ م کال د مارچ په میاشت کې ایډیټرانو (بدلون را وړونکو) پدې څېړنیزه مقاله کې داسې بدلونونه (تغییر) راوړی ده. د ایډیټر یادَونه؛ داسې یې ویلي دي:

" موږ خبر یو چې د ناسمو تیوري ګانو په توګه کارول شوې کیسه دا ده چې د کوید-۱۹ کرونا ویروس په لابراتوارونو کې جوړ شوی دی. شواهد شتون نلري چې دا ریښتیا دي ساینس پوهان پدې باور دي چې یو څاروی کیدای شي د کـرونا ویروس پیـــدا کېدلو اصـــلي سرچینه وي. دا یادَونه د ایډیټر له آند (نظره)

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکل شوې ده، د مقالې ایډیټر یو احمق وو یا په انګلیسي ژبه نه پوهېدِه ، هغه په رښتیا سره ساینس پوه نه وو، ځکه چې پدې څېړنیزه مقاله کې هرڅه روښانه او ښکاره دي، دا یو خبرداری دی چې دوی نه غواړي خلک په رښتیا پوه شي. دوی خلک بې لارې (ګمراه) کوي لکه چې ووایي،" ګورئ ، آسمان نیلک ندی ،تاسو ته آسمان نیلک ښکاري ، په رښتیا سره آسمان نیلک ندی."

د ۲۰۱۵م کال د نوامبر په میاشت کې یو آزمایښت ترسره شو چې پکې یو بد مخلوط کرونا ویروس (کویډ-۱۹) جوړ شو چې دا ویروس د سارس ویروس له ترکیب څخه وو لکه څنګه چې مخکې وویل شو، په هغه وخت کې بحثونه روان ؤ چې آیا داسې یو جوړ شوی ویروس په لابراتوارونو کې د داسې پراخه خپریدو (ساري) ځواک سره دا د دې خطرونو ارزښت لري. دا برخه د دې څېړنیزې مقالې (Research Paper) اصلي برخه ده چې د نیچر (Nature) په ژورنال او ویب پاڼه کې چې د اعتبار وړ ویب سایټ د څېړنیزو مقالو لپاره دی خپره شوې وه. نږدې ټول د کرونا ویروس ډولونه چې له بیټ (چرمي شاپرک) څخه بېلیږي، نشي کولای د انسانانو ویروس اخیستونکو (Receptors) سره مطابقت وکړي یانې (اس ایچ سی ۰۱۴ - SHC014) انسانانو ته د لیږد وړتیا نلري. (اس ایچ سی ۰۱۴ - SHC014) چې د اوسني کویډ-۱۹ځانګړی کود دی، د انسان د ویروس لیږد له لارې د اخته کېدلو وړتیا نلري. دا هغه حقیقت دی چې پدې څېړنیزه مقاله کې په روښانه توګه څرګند شوی دی. نور آزمایښتونه پدې څېړنیزې مقالې کې ښیي چې ویروس په بیټ (چرمي شاپرک) د دې لپاره چې په انسانانو اغیزناک او اخته کوونکی شي دې ته اړتیا لري چې جوړ او بدلون و مومي - کیدای شي چې هیڅکله دا ونشي، که څه هم د دې مخه نشي نیول کیدای. باریک (Baric) او د هغه کاري ټیم طبیعي ویروس (د ویروس طبیعي شکل) یې بیاځلي د جینمونو (هغه بیلابیل کروموزومونه چې مشابه هسته لري) جوړ کړ او ویې لیدل چې د انسانانو په حجرو کې ډیر ورو ورو وده کوي آن دا چې په موږکانو کې د ناروغۍ لامل نه کیږي."

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوازینی اغیزناکه او اخته کوونکې لاره د ویروس جوړول په لابراتوارونو کې دی، غیـر طبیعـي خطـر؛ ریچـارډ ایلبرایـټ (Richard Elbright) متخصـص او بیولوجیسټ په روټجرز پوهنتـون (Rutgers University) کـې د پیسـکټاوې، نیوجرسی څخـه دا نظریـه یـې تاییـد کـړه. دواړه ریچـارډ ایلبرایـټ ( Richard Elbright) او وین هابسن (Wain Hobson) له ډیرې مودې د دې ډول څیړنـو لپاره د انتقاد لاندې دي.

ولې یو ناروغی لیږدونکی، ویروس یا باکتریا پیاوړی، قوي او ځواکمنوي؟ موخه یې څه شی ده؟ په جواب کې هغوی وایي: دا د څیړنیزو موخو لپاره ده. خـو ولـې داسـې څیړنـې وشـي چـې یـو شـی ځـواکمن، لـه خطـرَه څخـه ډک او سـاري (ټولنیوونکی) جوړ شي."

### II. د ډاکټر بروس لیپټون پلټنې (Dr. Bruce Lipton):




**ډاکټر[1] بروس لیپټون وایي:**"هر کال نړدې ۰.۱٪ سلنه د نړۍ خلک د زکام یا کلني ریزش له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي. د کویډ-۱۹ کرونا ویروس د زکام سره توپیر نلري، یو ډول بد او له خطره ډک زکام دی خو د درملنې وړ دی.

---

[1] ډاکټر بروس لیپټون یو بیولوجیسټ او اپي جنټیک دی چې طبي درجې د نیویارک له غوره پوهنتونونو څخه له ځان سره لري، د بیولوژۍ او انسانانو باورونو په اړه یې کتابونه لیکلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوید-۱۹ کرونا ویروس د زکام په څېر دی خو هغوی وایي چې دا ویروس د زکام په څېر ندی. زکام یا ریزش یو شمیر نښې لري چې ډیرو کسانو تجربه کړي دي یو شمیر زکامونه خلک یې په خپل ځان کې تجربه کوي، د دوی د بدن دفاعي سیستم دې ته ژر عکس العمل ښیي مخکې لدې چې نښې یې ځرګندې شي له مینځه یې وړي. د بدن فعاله دفاعي سیستم کولای شي چې زکام یا ریزش د نښو ښکاریدو مخکې له مینځه یوسي. راځئ چې پوه شو زکام څه شی ده؟ د یخنۍ موسم او زکام څه شی دی؟ د ویروسونو بیلابیل ډولونه لکه د راینو ویروسونه او د کرونا ویروسونه شتون لري چې په کلني ډول او هر کال ځرګندیږي او د زکام او ریزش نښې نښانې لري. هغه ویروسونه چې په تنفسي سیستم اغیزه کوي او په ساه ایستلو کې ستونزې را مینځته کوي هغه ویروسونه دي چې د بدن د تودوخې درجې نه په ټیټه درجه کې خپریږي، کله چې یو ویروس حجرې اخته کوي د ۳۷ ـ ۹۸.۶ درجې تر مینځ نه خپریږي دا درجه ډیره توده ده کله چې د تودوخې درجه ټیټه شي ویروس خپریږي له همدې کبله د زکام او ریزش موسم د ژمي سره اړیکه لري او ویروسونه د بدن د تودوخې له درجې نه په ټیټه درجه کې کار کوي او خپریږي. په منځنۍ کچه ډیری خلک د زکام نښې او تنفسي ستونزې لري کیدای شي پرې پوه نشي چې کرونا ویروس لري او دا یوه ستونزه کیدای شي کله چې تنفسي ستونزې په بدن کې شتون ولري کیدای شي د اخته کیدو لامل شي او ویروسونه د ستوني له لارې د بدن نورو غړو ته د ننه شي، د ناروغۍ د بد کېدلو سبب شي خو تنفسي ستونزې ډیر ژر د مړینې لامل نه کیږي، د خطر سره به وي خو د درملنې وړ ده که سمه درملنه وشي، ځکه کرونا ویروس د زکام په څیر او یو بد د خطر سره زکام دی. باید وویل شي: چې د خلکو د نفوس لویه برخه د دې ویروس له امله ژوند به له لاسه ورنکړي. د رسنیو ګواښونه او د رسنیو خبرونه د ډار او لویې وېرې لامل کیږي د مثال په توګه په رسنیو کې نه وایي: چې **سږکال د ساري ناروغیو له خطره ډک کال به وي په ځان پام وکړئ**، خو هغوی وایي: **ساري ناروغي دوام لري چې د میلیونونو کسانو د مړینې لامل به شي.** کله

(c) ketabton.com: The Digital Library




چې داسې خبر واورېدل شي او ولیدل شي هرڅوک چې وي فکر کوي چې حالات عادي ندي کله چې میلیونونه کسان مړه کیږي پدې میلیونونو کسانو کې به زه هم شامل واوسم دلته ده چې ډار او وېره را مینځته کیږي او وېره یوه ریښتینې ستونزه کیږي. په یو شمیر هیوادونو کې هر کس (ډیری خلک) چې د کرونا ویروس لپاره معاینه شول ولیدل شؤ چې نږدې ۵۰٪ سلنه خلک چې معاینه شوي وو پدې ویروس اخته وو خو نښې نښانې یې په بدن کې شتون نه درلود، ځکه چې د بدن دفاعي سیستم یې پیاوړی او فعاله ؤ او سم کار یې کاوه په هغوی کې د دې ویروس نښې نه څرګندیدې او د کرونا ویروس پرې حمله نشوای کولای او اغېزه یې پرې نه درلوده. لویه ستونزه ډار لدې ویروس څخه دی د ویرې په وخت کې د بدن بیولوژي بدلون مومي او د ډار په وخت کې د بدن ډیره انرژي مصرفیږي تر څو د ډار څخه په بدن کې تېښته وشي. کله چې په خبره توګه د ویرې په وړاندې ساتنه په بدن کې را مینځته شي د بدن دفاعي سیستم له کاره غورځیږي، استرس د بدن دفاعي سیستم دَروي او له کاره یې غورځوي او ډیره انرژي ساتي او بیا یې مصرفوي. مونږ ټول به د کرونا ویروس اداره کړو د اخته کېدلو په وخت کې به د ساه ایستلو او تنفسي ستونزو لامل شي خو بیا هم د درملنې وړ ده. په رسنېو اوخبرونو کې د کوید-۱۹ کرونا ویروس په اړه مالومات په افراطي ډول وړاندې کیږي، په روښانه توګه کوید-۱۹ کرونا ویروس مرګونې ناروغي ده خو دا کوم حالات چې روان دي حقیقت د مسئلو ندي، لکه څنګه چې مخکې هم یادَونه وشوه زکام او موسمي ریزشونه او ویروسونه راځي د اخته کیدلو لامل کیږي خو ټول خلک د خطر سره مخ ندي هغه کسان چې له مخکې ناروغۍ لري، د ډیر عمر خاوندان دي او طبي کار کوونکي دي د خطر سره مخ دي. د کوید-۱۹ کرونا ویروس ځکه چې مخکې هیڅکله د انسانانو په بدن کې یې شتون نه درلود او د انسانانو د بدن دفاعي او د ساتنې سیستم بلدتیا ورسره نلري پدې دلیل دا ویروس (کوید-۱۹) ژر او له خطر سره د نورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویروسونو او زکامونو په پرتله د انسان په بدن برید کوي او د ساه ایستلو او نورو ستونزو لامل کیږي خو بیا هم پدې ویروس اخته کېدل د طبي ډاکټرانو او متخصصینو پواسطه د درملنې وړ ده. هغه کسان چې پیاوړی او فعاله د بدن دفاعي سیستم لري د هغوی د مړینې لامل هیڅکله نشی کیدای او د هغوی لپاره د کوید-۱۹ کرونا ویروس د عادي زکام په څېر دی. اندیښنه او ډار باید له مینځه لاړ شي ځکه چې اندیښنه او ډار د استرس لامل کیږي او استرس په بدن کې داسې هورمونونه تولیدوي چې په بدن کې ډېره انرژي مصرفوي او د بدن د ساتنې او دفاعي سیستم د دربېدو او د کاره ولېدلو سبب او لامل کیږي."

### III. د ډاکټر جو ډیسپینزا پلټنې (Dr. Joe Dispenza):




**ډاکټر[1] جو ډیسپینزا وایي:** " کله چې انسانانو تـه روحـي او عـاطفي ضـربې (ټراما – Trauma) ورکړل شي ګواښونه، خطرونـه او د بهرنـۍ نـړۍ وضـعیت د خپلو حواسو له لارې داخلي نړۍ ته لیـږدوي او دا د انسـان داخلـي نـړۍ کـې د بدلون لامل کیږي د مثال په توګه بېلابېلو رسنیو چې د کوید-۱۹ کرونا ویروس په اړه مالومات او خبرونه خپـروي، د بیرنـي وضـعیت او خطرونـو تکـرار د انسـان

---

۱ ډاکټر جو ډیسپینزا یو عصب پیژندونکی، عقلي او عصبي ډاکټر دی چې پدې برخه کې اسناد او درجې د آمریکا متحده ایالاتو له غوره او معتبرو پوهنتونونو څخه لري. او همدارنګه د اعصابو او انسانانو د باورونو په اړه یې کتابونه لیکلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



احساسات او داخلي حالت بدلوي او د انسان مغز کې پدې ډول ځای په ځای کيږي چې د بیرني حالت انځورونه ورو ورو په دایمي حافظه کې زیرمه کیږي او دا انځورونه په قوي ډول د انسان مغز کې ثبت کیږي. کله چې خلک غوره حالات هم تجربه کوي، بیا هم دا ثبت شوي احساسات او پیښې د افرادو بیولوژي بدلوي او په عصبي سیستم کې دي تجربو ته فکر کوي او احساسوي یې، او دا فکر او احساس اوسنی حالت او اوس یې کیږي، دا پیاوړي احساسات په مغز کې داسې جینونه ټاکي چې د ناروغۍ او خپګان لامل کیږي. هغه احساسات چې د بهرنۍ پېښو څخه لیدل کیږي په تدریجي ډول د اشخاصو هغه جینونه غوره کوي چې د روحي اوعاطفي ضربو لامل کیږي. وروسته، کله چې هغه وار وار د دې پېښو په اړه فکر کوي او په خپل مغز کې یې بیاکتنه کوي، دا اغیزې د انسان بدن باندې هم اغیزه کوي، او بدن دا حالت په ریښتیني ډول جذبوي. او دا حالت په ورځ کې شاوخوا ۵۰ - ۱۰۰ ځله تکراروي او باور کوي چې دا حالت او مغزي عکسونه د مخه په مغز کې شتون لري. برعکس، انسان کولی شي په مغز کې داسې پېښه رامینځته کړي چې د کثرت او برکت په اړه فکر وکړي او پیاوړي احساسات رامینځته او احساس کړي. خو، کله چې انسانان ښه والي ته فکر وکړي، په مغز کې داسې جینونه ټاکل کیږي چې د روحي، رواني او عاطفي حالت د ښه کېدلو لامل کیږي، او د راتلونکي لپاره هیله لرونکي احساسات او په مغز کې ښه عکسونه رامینځته کوي، او د دې لامل کیږي چې د تېرو ناوړه او ثبت شوې پیښې په مغز کې له مینځه یوسي. او دا حالت د انسان په بدن هم اغیزه کوي او ښه کیږي.“

(c) ketabton.com: The Digital Library



### IV. د ارواح پوه ګریګ براډین پلټنې (Gregg Braden):



**ګریګ براډین وايي[1]:** "رسنۍ او خلک د ویروس، فیزیکي اغېزو ، ښه کېدلو، واکسینونو او دواګانو په اړه خبرې کوي، مګر هغه څه چې نه لیدل کیږي دا دي چې د رواني او احساسي اغېزو په اړه خبرې نه کیږي. د ویروس خپرېدل په خلکو کې د غوسې، زړه خوړنې، ګډوډۍ، بې وزلۍ او ژور خپګان لامل شوی دی. د تاریخ په اوږدو کې د لومړي ځل لپاره، ټوله نړۍ یا سیاره په ورته وخت کې داسې ماتم او غم تجربه کوي. هرڅوک په شعوري یا غیر شعوري ډول ، په پوهې یا ناپوهۍ سره په غم او ماتم (ګریف - Grieve) کې دي. پوښتنه دا ده چې د څه شي څخه په غم او ماتم کې دي؟ د دې پوښتنې ځواب ځینې خلک حیرانوي. د ژوند لاره چې مخکې یې شتون درلود هغه یې له لاسه ور کړې او د دې نه خواشیني او په غم کې دي، د ژوند لاره چې څو اونۍ او څو میاشتې د مخه شتون یې درلود، دا وضعیت له مینځه تللی دی ، ټولنیز فعالیتونه نه ترسره کیږي ، کنفرانسونه نه ترسره کیږي ، رستورانتونو او هوټلونو ته تلل امکان نلري ، سپورټونه او سپورټي فعالیتونه نه ترسره کیږي ، دا ټول هغه شیان دي چې پخوا یې شتون درلود او اوس مهال له لاسه تللي دي او ټولو خلکو لپاره د خواشینۍ، غم او ماتم

[1] ګریګ براډین یو ساینس پوه او نوم لرونکی لیکوال په آمریکا متحده ایالاتو کې دی. د ارواح پوهنې په برخه کې څو کتابونه یې لیکلي دي. هغه بیلابیل کنفراسونه په بیلابیلو ښارونو کې د ارواح پوهنې په برخه کې په لاره اچولي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لامل شوی دی. غم او مصیبت او شیانو له لاسه ورکول د ارواح پوهنې له پلوه پنځې مرحلې لري چې په لاندې ډول ورته یادونه کیږي:

**د غم او مصیبت یا (ګریف - Grieve) مرحلې:**

1. انکار او نه منل (Denial)
2. غوسه او عصبي کیدل (Anger)
3. ژور خپګان (Depression)
4. تړون (Bargaining)
5. منل (Acceptance)

یادې شوې مرحلې د کوید-۱۹ کرونا ویروس په خپریدلو کې په عملي توګه لیدل کیږي. ډیری خلک په وېره ، ګډوډۍ او مخنیوي کې ژوند کوي ، کوم چې انکار او نه منل په ګوته کوي. ډیری خلک اضطراب ، بې وزلۍ ، تریخ مزاجۍ ، او په خوب کې ستونزې تجربه کوي، چې غوسه او عصبي کیدل په ګوته کوي. د وېرې احساس ، د بیچارګۍ او بې وسۍ احساس کول، او له ستونزو څخه تېښتېدل په خلکو کې ژور خپګان څرګندوي ځکه چې دا حالت په نړۍ کې هیڅکله نه ؤ تجربه شوی، خلک باید پوه شي چې دوی د غم (ګریف - Grieve) دغه مرحلې تجربه کوي. ځینې خلک د تړون په مرحله کې دي د ژوند په معنا باندې پوهیږي او د نورو سره مرسته کوي. د اوسني مهال په اړه فکر کول او لیدل چې څه پیښیږي او په راتلونکي کې به څه پېښ شي د دې حالاتو منل د غم او مصیبت د مرحلو څخه منل ښيي. دا د غم او مصیبت مرحلې باید په ربښتوني ډول ومنل شي او تېرې شي، په ارواح پوهنه کې یوه اصطلاح د عادي حالت د بدیل په توګه د نارملسی بیاس - (Normalcy Bias) په نوم شتون لري چې ډیری خلک کوښښ کوي د ژوند ستونزو سره ځان بلد کړي او د ژوند وضعیت په عادي توګه وګڼي او دې شته حالت سره ژوند وکړي دا حالت د انکار او نه منلو له جملې څخه دی. کله چې وضعیت عادي شي خو بیا هم کوم ژوند چې مخکې د کوید-۱۹ کرونا ویروس څخه شتون یې درلود هغسې به نه وي. یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوی وضعیت د ژوند به شتون ولري. د انسانانو په مغز کې د عادي ژوند یو عکس ثبت دی او کله چې دا مرحلې د غم او مصیبت تجربه کوي ورته سخته تمامیږي او د دې حال څخه ځوریږي. مخکینی ژوند باید هیر شي او شته وضعیت ومنل شي له نورو سره مرسته او همکاري وشي د ژوند ښه وضعیت او راتلونکي ته هیله مِن او خوشبینَ کېدلو ته اړتیا ده."

## آیا د کوید-۱۹ کرونا ویروس طبیعي ناروغي ده؟ که په لابراتوارونو کې جوړ شوی دی؟

کرونا ویروسونو تاریخ دلته د یادَونې وړ ده، کرونا ویروسونه په ۱۹۳۰م کال کې په څاروېو کې وپیژندل شو، په ۱۹۴۰م کال کې د کرونا ویروسونو په اړه خبرونه خپاره شؤ. انسانانو ته د کرونا ویروس لیږد او امکان یې په ۱۹۶۰م او ۱۹۶۸م کلونو کې د ساینس پوهانو لخوا مطالعه او وڅارل شو، او له هغه وخت راهیسې په زرګونو مطالعات او پلټنې په کرونا ویروس باندې ترسره شوي دي. اووه یا اته ډوله د کرونا ویروسونه شتون لري چې انسانانو ته یې لیږد امکان لري. **د کوید-۱۹ کرونا ویروس یا سارس-۲** په ۲۰۱۹م کال کې وپیژندل شو او اوس چې ۲۰۲۰م کال دوام لري یو ډول د کرونا ویروسونو څخه دی. اوس به دې پوښتنې ته مخه کړو چې آیا د کوید-۱۹ کرونا ویروس طبیعي ناروغي ده؟ که په لابراتوارونو کې دا ویروس د انسانانو په لاس جوړ شوی دی؟ د کوید-۱۹ کرونا ویروس یا سارس-۲، د سارس ویروس (SARS-CoV) ۲۰۰۲م، میرس ویروس (MERS-CoV) ۲۰۱۲م او (HIV) ویروس له ترکیب څخه په لابراتوارونو کې د انسانانو په لاس جوړ شوی ده، د دې ویروس طبیعي حالت ته یې بدلون ورکړی ده، د خپرېدو کچه، ساري توب او خطر یې څو ځله ورته ډېر کړی دی او ورڅخه یې یو پیاوړی او له خطره ډک ویروس جوړ کړی ده. د ځینو خلکو په ذهن کې کېدای شي پوښتنه پیدا شي چې دا څنګه امکان لري؟ په ځواب کې باید وویل شي چې هو امکان لري په امریکا متحده ایالاتو کې، چین او یو شمېر اروپایي هیوادونو کې د نباتاتو طبیعي او جنیټیکي حالت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بدلـــون ورکوي ترڅو ښه ډېر حاصل او میوه ورکړي. مثال په توګه د غنمو طبیعي او جنیټیکي حالت ته بدلون ورکوي تر څو ژر ورسیږي، غټې دانې او ښه حاصل ترې واخیستل شي دا کار خو یې البته ښه کار ده. آیا د ویروسونو طبیعي حالت ته بدلون نشی ورکولای؟ البته چې کولای شي، د ښو کارونو ترسره کول ستونزمن دي خو خرابو کارونو ترسره کول ډیر زحمت نه غواړي. د نړۍ ډیری لوی اقتصادي هیوادونه د بیولوژیکي وسلو د جوړولو ادارې لري، او کله چې اړتیا وي، د دې هیوادونو ادارې او استخبارات بیولوژیکي وسلې جوړوي او د ناوړه موخو ترلاسه کولو لپاره یې د خپلو خلکو یا نورو هیوادونو او خلکو پروړاندې یې کاروي، پدې برخه کې امریکا متحده ایالات او چین مخکښه دي. د کوید-۱۹ کرونا ویروس په جوړولو، خپرولو او په لاره اچولو کې لوی ماسټر پلان شتون لري، کله چې د هیوادونو تر مینځ همغږۍ ، د نړیوال روغتیا سازمان ویناوو او د ټولو هیوادونو روغتیایي سازمانونو ویناوو ته چې وکتل شي په بشپړه توګه یو پیغام په ځان کې لري هغه هم ډار را مینځ ته کول، وېره او ګواښ کول خلکو ته د روغتیایي او اقتصادي پلوه. د هیوادونو بېلابیلې رسنۍ، معتبره ویب سایټونه لکه ګوګل، یاهو، فیسبوک، ټویټر او یوټیوب ناسم مالومات وړاندې کوي د پېسو لاسته راوړلو لپاره د یوې ځانګړې ډلې د ګوتو اشارو ته چې دا ډول ناوړه موخې لري تاوویږي. کله چې طبي ساینس پوهان چې د دې ویروس (کوید-۱۹) په اړه یې څیړنې کړې دي او رښتیا وایي او سم مالومات وړاندې کوي دا مالومات ناسم بلل کیږي، آوازې او د آوازو تیوریګانې بلل کیږي. په لسګونو طبي ساینس پوهان چې سم مالومات یې وړاندې کړې دي او واقعیتونه یې ویلي دي د هغوی څیړنې او مالومات پاک شوي دي او له مینځه وړل شوي دي ترڅو خلک پوه نشي او په تشویش پاتې شي ترڅو هغوی خپلو موخوته ورسیږي. د ۲۰۲۰م کال د اپریل میاشت په پای کې د سټانفورډ په پوهنتون کې (Stanford University) څیړنې وشوې او پکې څرګنده شوه چې د کوید-۱۹ کرونا ویروس یا سارس-۲ د مړینې کچه د انفلونزا سره توپیر نلري او یوازې د کوید-۱۹ کرونا ویروس یا ســـارس-۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مړیني کچه له (۲۶،۰-۳،۰ ٪) سلنه ده، خو دا ځیرنې او سم مالومات یې هیڅکله خپاره نشول د دې پرځای د اخته کېدو او مړینې کچه د بیلابیلو رسنیو په واسطه د ساعت پر بنسټ او ۲۴ ساعته خپرېږي تر څو د نړۍ خلکو په ذهنونو کې ښه ځای ونیسي او په هغوی کې د ډار او ویرې سبب شي او تر څو چې هغوی خپلو ناوړه موخو ته ورسیږي. د یادونې وړ ده چې نږدې (۵۰) میلیونه کسان په کال کې د بیلابیلو لاملونو په سبب ژوند له لاسه ورکوي. بې له کویډ-۱۹ کرونا ویروس یا سارس-۲ نه ډیری خلک هر کال په نړۍ کې د ناروغیو او نورو عواملو له امله خپل ژوند له لاسه ورکوي ، مګر دا هیڅکله د پوښښ لاندې نه راځي او نه تعقیب کیږي او په دومره ګرمه توګه نه خپریږي. یو په یو به دا شمیرې (کچې) به یادې شي، اوس مهال چې د ۲۰۲۰م کال د مې د میاشتې[1] پیل ده د ساري ناروغیو له امله ( ۴،۵۰۵۱۳۱ ) کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی ده، د موسمي زکام له امله ( ۱۶۸۸۹۵) کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی ده، نږدې ( ۲،۶۳۷۸۴۴ ) ماشومانو چې عمر یې له پنځو کالو څخه ټیټ وو له بیلابیلو عواملو څخه یې خپل ژوند له لاسه ورکړی ده، نږدې (۱۰۷۲۶۵) مېندو د زیږون (ولادت) پر مهال خپل ژوند یې له لاسه ورکړی ده، نږدې (۴۱،۷۶۷۹۵۹) کسان په ایډز یا HIV اخته دي او په پایله کې ( ۵۸۳۳۹۰) کسانو یې خپل ژوند له لاسه ورکړی ده، د سرطان له امله ( ۲،۸۵۰۱۸۵ ) کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی ده، د ملاریا له امله ( ۳۴۰۴۰۲ ) کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی ده، د سګرټ څښلو له امله ( ۱،۷۳۴۸۴۸ ) کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی، د الکول یا شرابو له څښلو له امله (۸۶۷۹۷۱) تنو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی، نږدې ( ۳۷۲۱۴۴ ) تنو ځان وژنه کړې ده او ټرافیکي پیښو له

[1] دغه یادې شوې شمیرې د ۲۰۲۰م کال د مې میاشت د ۶ نېټې دي چې د دې کتاب د لیکلو په وخت کې بیان شوي دي دا شمیرې د وخت په تیریدو سره زیاتیږي. د دې کتاب د لوستلو په وخت کې که غواړئ چې په خپلو سترګو د افرادو د مړینې کچه د کویډ-۱۹ کرونا ویروس او نورو لاملونو له امله یې چې ژوند له لاسه ورکړی وګورئ نو دغه آدرس (www.worldometers.info) ته لاړ شئ په پاڼه کې لږ لاندې راشئ یوه برخه د (Health) په نوم لري چې هلته دا ټولې کچې لیکل شوي دي د کویډ-۱۹ کرونا ویروس او د نورو لاملونو د مړینې کچه وګورئ او پرتله یې کړئ درته به مالومه شي چې څه روان دي؟ او ولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



امله ( ۴۶۸۴۶۴ ) کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. په ټوله نړۍ کې د اووه میلیاردو او اووه سوو میلیونو څخه ډېر کسان ژوند کوي او دا هغه ناروغۍ او لاملونه دي چې د دې کال تر دې مودې د نړۍ د خلکو د مړینې سبب او لامل ګرځیدلي دي. ډېری لاملونه او عوامل چې یاد شول د کوید-۱۹ کرونا ویروس په پرتله څو ځله د ډېرو کسانو د مړینې او مرګ سبب او لامل کرځیدلي دي. خو د هیڅ یو په اړه یې رسنۍ ، د روغتیا نړیوال سازمان او په نړۍ کې نورې سرچینې خبرې نه کوي ، دلته ده چې باید وپوهول شي د دې ټولو پیښو او همغږۍ ترشا؛ ناوړه او شومې موخې شتون لري. د یادونې وړ ده چې له پورته یادو شویو ناروغیو او لاملونو څخه سګرټ څښول او الکول (شراب) څښل په نظر کې ونیسو د مړینې او خطر کچه یې څو ځله د کوید-۱۹ کرونا ویروس یا سارس-۲ څخه ډېره ده که چیرې د کوید-۱۹ کرونا ویروس یا سارس-۲ په څیر د ډار، ویرې او خطر سره معرفي شوي وای د ډېرو خلکو د مړینې څخه مخنیوی به شوی وو، په نړۍ کې غوره، ښه نظم او اصلاحات به راغلي وای. د ژوند ښه کېدلو او ښه ژوند کولو لپاره که دا ټولې همغږۍ او د رسنیو زیار او کوښښ، د هیوادونو روغتیایي سازمانونو، د روغتیا نړیوال سازمان او د بېلابېلو هیوادونو حکومتونو کارول شوي وای کیدای شي دا ځمکه او دا نړۍ د دې دنیا په جنت به تبدیل شوي وای خو د خواشینۍ ځای دی چې داسې نه ده. د جوړونې لپاره هڅې لږې دي خو د یو بل د بایلنې لپاره ډېرې دي. الله (ج) مونږ انسانانو ته عقل را کړی دی او استفاده باید ورڅخه وکړو، پوه او هوښیار انسان پدې پوهیږي چې دا ټولې همغږۍ او دا کارونه په طبیعي او په ناڅاپي ډول نشي کېدای. په وروسته سرلیکونو کې لا ډېر مالومات به د ناوړه او شومو موخو په اړه چې د کوید-۱۹ کرونا ویروس یا سارس-۲ په جوړولو او خپرولو کې نغښتي دي په روښانه توګه به بیان شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویم څپرکی

## اسلامي موخه د کوید-۱۹کرونا ویروس یا سارس-۲ په را مینځ ته کولو کې

### اسلامي موخه د کوید-۱۹کرونا ویروس په را مینځ ته کولو کې:

د پېړیو راهیسې د مسلمانانو او غیر مسلمانو ترمینځ مبارزه روانه ده ، د اسلام او مسلمانانو لومړۍ شپږ(۶) یا اوه (۷) پېړۍ د مسلمانانو او اسلامي نړۍ لپاره طلایی دوره او غوره کلونه وو ، چې په غیر مسلمانانو یې ډېره اغېزه کړې او د دې لامل شوی دی چې د مسلمانانو سره په زړونو کې دښمنۍ او غوسې وساتي. نږدې دوه پېړیو راهیسې ، د مسلمانانو او اسلامي هیوادونو ترمینځ نفاق شتون لري ، او مونږ مسلمانان هم په ډېر غفلت او ناخبرۍ کې یو ، چې د اسلامي هیوادونو د کمزورۍ لامل شوی دی. په مقابل کې یهودیان، عیسویان او نور غیرمسلمانان په کلکه سره یو ځای شوي دي او د مسلمانانو او اسلامي نړۍ د کمزوري کولو او له مینځه وړو لپاره یې په ښکاره او پټه توګه کار پیل کړی دی. دوی له هیڅ وسیلې او واسطې یې ډډه نه ده کړې ، دوی په بېلابېلو نومونو او بېلابېلو پلمو په اسلامي هیوادونو برید کوي. دا ځل ، د کوید-۱۹ کرونا ویروس یا سارس-۲ په لاره اچول او خپرول له دې څخه استثنا ندي په وروسته سرلیکونو کې په روښانه توګه به وویل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حج مراسمو ځنډول:

د کویډ-۱۹ کرونا ویروس په را مینځ ته کولو او خپراوي کې د حج مراسمو ځنډول یې یو له موخو څخه وو چې **شیخ عمران نظر حسین** لومړی د دې په اړه د یو حدیث شریف یادَونه کوي او بیا ټولې خواوې یې بیانوي.



[1]**شیخ عمران نظر حسین وایي:** "په صحیح البخاري په (۱۵۹۳) شمیره حدیث شریف کې راغلي دي چې خلک به د الله (ج) د کور حج مراسمو ته به دوام ورکړي او خلک د عمرې حج مراسمو ته به دوام ورکړي تر څو چې جوج او ماجوج را وځي او وروسته حدیث شریف دوام کوي تر څو به د آخرت (قیامت) ورځ به را نشي تر څو چې د حج مراسم **پاتې یا ونه درول** شي. دا حدیث شریف په صحیح البخاري کې راغلی دی. (حدیث شریف شمیره : ۱۵۹۳)

---

۱ شیخ عمران نظر حسین یو اسلامي عالم، آخرت پیژندونکی، اقتصادپوه او د بیلابیلو نظامونو کارپوه د ټوباګو او ټرینداد له هیواد څخه دی چې بیلابیلې موضوعګانې او د نړۍ نا منظم وضعیت د اسلام له نظره په روښانه توګه د قرآن کریم او حدیث شریف سره سم بیانوي او په خپل نوم ویب پاڼه او د یوټیوب چینل لري که هر څوک لا ډیر معلومات غواړي نو کولای شي د ویب پاڼې یا د یوټیوب چینل څخه یې یو ځل لیدنه وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا پېښه به د جوج او ماجوج و د راوتلو تائیدونکې وي. [1]شیخ عمران نظر حسین وایي چې زه وړاندوینه کوم چې د حج درېدل او پرېښودل به پیښ شي.
کومه پېښه به وشي؟ چې د حج مراسمو د پريښودلو او درېدلو لامل به شي؟ لویه جګړه.

کله چې اسرائیل لویه جګړه پیل کړي د دوی دولت او نظام د منطقوي پراختیا لیدونکي به وي او وروسته بیا د کانکمیټانټ (Concomitant) کلیمه استفاده کوي یانې په یو وخت کې پېښېدل، په یو وخت کې برید په آمریکایي ډالر او وروسته دا پیسې او د ټولې نړۍ کاغذي پیسې به را ښکته شي او له کاره به ولوېږي. د آمریکا متحده ایالاتو اقتصاد به له مینځه لاړ شي او بیا وروسته اسرائیل به د آمریکا پر ځای د نړۍ واکمن ځواک او هیواد په ټوله نړۍ کې به شي. دغه لویه جګړه په ډېره لویه کچه د مسلمانانو په احساساتو به داسې اغېزه وکړي چې سعودي عربستان دولت به د حج مراسمو اجازه به نه وَرکوي ځکه داسې حج به په زیات ګومان د سعودي عربستان د دولت بنست ته به خطر وي، نو هغوی به ځینې د چرګ او غوایي کیسې د یو شمیر ویروسونو په اړه چې روغتیا او سلامتۍ ته خطر ده دا به جوړې کړي او د روغتیا نړیوال سازمان څخه به مشوره واخلي او بیا وروسته به د حج مراسم ځنډوي او بل کال به د حج مراسمو ځنډېدل به دوام وکړي چې په پایله کې د حج مراسم به پرېښودل او وبه درول شي، چې دغه پېښه یانې د حج مراسمو پرېښودل او درېدل کولای شي چې د پېښو څخه یوه یې وي، په داسې حال کې چې د حج مراسم څو زره کاله لمانځل شوي دي او سرته رسیدلي دي."

[1] دغه خبرې د شیخ عمران نظر حسین په ۲۰۰۴م کال کې یانې نږدې ۱۶ کاله مخکې په یو سمینار کې د جامه په مسجد د سان فرناندو په ښار د توباګو او ټرینداډ په هیواد کې تر سره شوي دي په هغه وخت کې شیخ د دې ویروس یانې د کوید-۱۹ کرونا ویروس له پیښېدو خبر وو او دا یې بیانه کړي وه او کومې موخې چې پکې وې هغه یې د حدیث شریف سره سم څرګندې کړې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دجال د راوتلو لپاره کار کول:

په څو وروستیو لسیزو کې یهودیان، نصرنیان او د هغوی خادمان په بېلابېلو نومونو د دجال د راوتلو لپاره یې کار کولو ته سرعت ورکړلی ده دا کارونه یې په ښکاره توګه ندي په ډول ډول پلمو او بېلابېلو دسیسو په نړیواله توګه غوارې پلې یې کړي چې د دې کارونو څخه یو د کوید-۱۹ کرونا ویروس خپرول او په لاره اچول دي. دجال چې د الله (ج) په امر او حکم د ځمکې پر مخ کوم ځای کې په ځنځیر تړل شوی دی تر څو هغه وخت پورې چې ورته لاره برابره نشي راوتلای نشي یو شمیر اسلامي پوهان (عالمان) یادَونه کوي چې د دجال د راوتلو څخه مخکې په نړۍ کې به درې یا څلور لویې پیښې به واقع شي. دا ټولې پیښې د دجال د راتللو لپاره لارې دي او غوارې چې د نړۍ ټول خلک مرییان او غلامان وګرځوي. د کوید-۱۹ یا سارس-۲ خپربدل د ټولو کارونو دربدل د نړۍ په ټولو هیوادونو کې، د ټولې نړۍ خلکو قرنطین کول، د دولتونو دروغ ویل او تېرایستل د خلکو په ټوله نړۍ کې، دروغ ویل او د خلکو تېرایستل او د خلکو ذهنونو پروګرامول د رسنیو په واسطه په ډیرې همغږۍ او یو وخت کې دا ټول په نړۍ کې د تېرایستلو او نړیوالې لوېې دسیسې څرګندونه کوي.

## د دجال د راوتلو لپاره د لارو برابرول:

په نړۍ کې تر څو چې ناورینونه او بې نظمۍ خپل وروستي حد ته ونه رسیږي او لاره د دجال راوتلو ته برابره نشي نه راوځي، د دې په اړه **شیخ عبدالله حکیم کوِیک** هغه پیښې چې په اوسنۍ نړۍ کې پېښیږي او مخکې پیښې شوې دي د اسلام له نظره یې بیانوي چې لدې څخه کولای شو چې د کوید-۱۹ کرونا ویروس خپربدلو ته اشاره وکړو او همدارنګه د دجال د راوتلو په اړه یې په بشپړه توګه خبرې کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





**شیخ عبدالله حکیم کوِیک وایي:** " زمونږ په ټولنو کې یو څه د پېښېدو په حال کې دي چې ویلی شو چې مونږ د دجال د راوتلو یوې د مخه تیارې دورې ته د ننه کیږو. (و العیاذبالله). ډیر شمېر مشران (رهبران) په نړۍ کې سره راټول شوي دي او ډیری یې وایي چې د ځمکې تودوخه ښه څیز دی یانې د یخونو اوبه کېدل په شمالي قطب کې مونږ لپاره ښه دي. خو ربښتیا د دې پرخلاف دي لکه څنګه چې یو شمیر مشران (رهبران) وایي، ځمکه د ورانۍ په حال کې ده. ګرینلنډ، چې په شمالي آمریکا کې یوه ټاپوزمه (جزیره) ده، نږدې ۴۵٪ سلنه یخونه یې اوبه شوي دي، چې دا پېښه ساری نلري! هیڅکله د ګرینلنډ یخونه داسې اوبه شوي نه وو. دا پداسې حال کې ده چې د ځمکې طبیعي یخونه سیندونو ته توییږي او اوبه کیږي او په مونږ انسانانو هم اغېزه کوي د ځمکې دا تودوخه او ګرمېدل د تشویش لامل کیږي. په هندوستان کې یو شمیر ښارونه د اوبو د نشتون سره به مخ شي، هغوی ویلې وو چې نږدې ۲۱ ښارونه په هندوستان هیواد کې په ۲۰۲۰ م کال کې د طبیعي او د ځمکې لاندې د څښلو اوبو د نشتون سره به مخ شي.

دې وچکالۍ او بې نظمۍ سره، د نورو ځایونو اوبه په ناسمه او غیر طبیعي توګه جاري شوي دي. د آمریکا په منځنیو ساحو کې ځواکمن سیلابونه جاري شوي دي، په داسې ځواکمنه توګه سیلابونه جاري دي اوبه پورته بیایي او سیندونه پورته راځي چې هیڅکله مخکې په تاریخ کې دا ډول پېښې ثبتې شوې نه وې. په چین

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې د مسلمانانو لپاره ځایونه (کمپونه) او د اوړي لوی د میشت ځایونه یې ورته جوړ کړي دي؛ چې هغوی ورته د زده کړې او مهارتونو د پراختیا مرکزونه وایي، خو ربښتیا یې دا دي چې له یو میلیون څخه زیات اویګور (اویغور) مسلمانان پدې ځایونو (کمپونو) کې تر څارنې لاندې ؤ، په ډېره خطرناکه توګه دغو ځایونو (کمپونو) کې تر څارنې لاندې ؤ. په منځني ختیځ کې هغوی د پیړۍ د معاملې په اړه د فلسطین خلکو لپاره خبرې کوي. کله چې دا معامله سرته رسیږي د فلسطین خلک به هلته شتون نلري هغوی دا معامله یې تحریم (منع) کړې وه. دا معامله یو عیب او بې عدالتي ده. زمونږ په ټولنو کې داسې څه د پېښېدو په حال کې دي چې مونږ د دجال د راوتلو یوې د مخه تیارې دورې ته د ننه کیږو. والعیاذ بالله. او دجال، د مسیح ضد یو مکار، یو مکرجن، د مکر او چال استاد، دغل باز او چال باز تعریف شوی دی، هغه څوک چې د دروغو او جعلي خبرونه جوړوي، وروستی مکرجن، او مونږ د دغو دسیسو دورې ته تګ په حال کې یو او حیران یو چې پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) د دې وخت په اړه یې خبرې کړې وې، چې اوس مونږ پکې ژوند کوو، ځکه چې الله (ج) دا یې ورته برابر کړي وو، هغه څه له خپل ځانه نه ویل. پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) مونږ ته فرمایلي دي او مونږ ته یې یادَونه کړې ده: چې د چال او مَکر کلونه به خلکو ته راشي. **سنواتٌ خَداعات** یانې کله چې دروغ ویوونکی به د باور وړ وي او ربښتیا ویوونکی، به دروغ ویوونکی شمیرل کیږي. خائن او چالباز سړی به د باور وړ وي، امین او مسئول سړی به خائن بلل کیږي، **روبیضة** فرد به خبرې کوي، **روبیضة** فرد به نظر ورکوي او خبرې به کوي او هغوی (اصحابو کرامو رضی الله عنهما) وویلې چې دا **روبیضة** څه شی دی. هغه (رسول الله صلی الله علیه وسلم) وویل: **الرَجُل التَافة** یانې ډېر بې شرمه او ډېر بې ارزښته فرد به د خلکو په لویو کارونو او مسائلو خبرې کوي، و **صدق رسول االله (ص)** دا وخت را رسیدلی دی، د دسیسو وخت، د وهمونو وخت، د خپلواکۍ وهم، د سولې وهم، د برابرۍ وهم او آن تر دې چې زمونږ په مسلمانو هیوادونو او سیمو کې، کله چې خلک د مظاهرو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرکونو ته راځي وژل کیږي، [1] انتخاب شوي دموکراتیک مشران (رهبران) د نړیوالو مخکې نیول کیږي او بندیان کیږي او د نړۍ د سترګو په مخکې وژل کیږي. کلیوال (بومي) ټولنې او خلک په بیلابیلو ساحو کې، تر اوسه پورې په غریبۍ کې ژوند کوي، د هغوی ښځې د خلکو د سترګو پر وړاندې نیول کیږي، د بریدونو او وژلو لاندې راځي یو شمیر مشران (رهبران) د ترلو دروازو شاته پریکړې کوي او برعکس یې خلکو ته وایي او یو شمیر ښه مشران (رهبران)، ځکه چې کم ښه مشران (رهبران) شتون لري، داسې احساس کوي چې محاصره شوي دي، احساس کوي چې هره کلیمه چې وایي ترڅار لاندې دي او د برید لاندې به راشي، نو ځکه دا وخت، د خلکو تر ټولو بد وخت دی. او مونږ د مؤمنانو په توګه د آرامتیا احساس کوو چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د دې وخت په اړه یې خبرې کړې وې، چې دا وخت به پېښ شي، او آنحضرت (صلی الله علیه وسلم) مؤمنانو ته یې ویلي دي: تاسو به د قیامت په ورځ تر ټولو بدو خلکو تر مینځ به دوه مخي خلک (افراد) وویني، یانې داسې خلک (افراد) چې یوې ډلې ته به په یو مخ راځي او بلې ډلې ته به په بل مخ راځي. او مونږ ته د عادي خلکو په توګه چې پدې وخت کې ژوند کوو ډېره سخته ده، اوس وخت کې سخته ده ځکه چې پخوا او په ډېرو وختونو کې، د عدالت په وختونو کې، رښتیا (حقیقت) واک درلود. که چیرې څوک ریښتونی وي، هغه باید و پیژندل شي، او دا هغه څه دي چې کولای شئ **قوة الحق** یې ونوموئ. دوه کلیمې **قوة او حق**؛ سړی (فرد) د رښتیا (حقیقت) سره باید وپیژندل شي، خو اوس رښتیا دا دي، چې که چیرې دا دوه کلیمې تاوې کړئ، **قوة او حق** نه بلکې **حق القوة** یانې **حق او قوة** ترې جوړیږي. په همدې توګه څه که څوک (فرد) ریښتونی وي که نه وي، که چیرې واک ولري، نو حق هم لري. دا یوه دسیسه ده او مونږ د مؤمن په توګه باید خپل

---

[1] د شیخ عبدالله حکیم کویک اشاره د مصر انتخاب شوي رییس جمهور محمد مرسی ته ده چې د اسرائیل او خادمانو پواسطه لومړی بندي او بیا وروسته هلته ووژل شو او د اخوان المسلمین ګوند چې د اسلامي پوهانو او د الازهر پوهنتون ښوونکو څخه جوړ شوی ګوند وو فعالیتونه یې ودرول شؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان پیدا کړو ځکه هغه وخت نده چې د مسلمان په توګه پټ شو او د خپلې خپلواکۍ (آزادۍ) لپاره وژاړو او عذر وکړو، داسې وختونه تېر شوي دي او پیغمبر(صلی الله علیه وسلم) دې په اړه ویلي دي: په ټوله کې مونږ ایمان لرو چې ټول واک او اقتدار د الله (ج) سره دی او مونږ وایو **لا حول ولا قوة الا بالله** هیڅ اقتدار او واک نشته پرته د الله (ج) څخه. **اِنَ القوةَ لله جَمِیعًا** [هغوی به باور وموميږ] چې ټول واک او ځواک د الله (ج) سره دی، په رښتیا سره ټول واک او ځواک په ټوله کې د الله (ج) سره دی. (البقره سورة: آیة – ۱۶۵). خو پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) مونږ ته یې ویلي دي، آنحضرت (صلی الله علیه وسلم) وویل: **المومن القوی خیر و احب الی الله من المومن الضعیف و فی کل خیر** " (یو ځواکمن مؤمن د یو ضعیف مؤمن څخه غوره او ښه دی. خو په دواړو کې ښه والی شتون لري). شیخ عبدالله حکیم وايي: زمونږ په سطحه، لږ تر لږه کوښښ کولای شو او خپلو اولادونو ته زده کړه ورکولای شو چې زیار وباسې تر څو قوی او ځواکمن واوسي، په اراده، همغږي او ځواکمن واوسي، پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) دې په اړه خبرې کړي دي، ځکه چې ډیر خلک چې د واک په اړه فکر کوي، د سوک، چاقو، وسلې یا بم په اړه فکر کوي، خو پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) وویل: " **لیس الشدید بالصرعة انما الشدید الذی یملک نفسه عند الغضب** " نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) وویل: قوی او ځواکمن کس ښه غیرې نیوونکی ندی، بلکې ځواکمن او قوی کس هغه دی چې د غوسې په وخت کې ځان کنټرولوي. نو همدا راز زمونږ ځواک د شخصیت کلکوالي ته اړتیا لري، د معنویت ځواک او د اړتیا وړ ځواک، د ذهن ځواک دی تر څو د پوهې فرهنګ جوړ کړو، ساینس او علوم د دې نړۍ مطالعه کړو، د الله (ج) څخه د حکمت او هوښیارۍ غوښتنه وکړو، حکمت او هوښیارۍ ته ډیره اړینه ضرورت لرو اوس مهال چې دې نړۍ کې ژوند کوو د **سنوات خداعات** وخت دی نو اجازه ورکړئ او کوښښ وکړو چې ځوانان داسې وروزو چې د هر کار په ترسره کولو کې ځواکمن واوسي، ځواکمن زده کوونکي په ښوونځي او د زده کړې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرکزونو کې وي. ځواکمن په کار کې، ځواکمن په هر کار کې چې په خپلو ملتونو کې یې سرته رسوو، یووالی او اتفاق مونږ ته ځواک راکوي. که مسلمانانو ته وګورو، زمونږ لید هغوی ته باید داسې نه وي چې زمونږ د خپلوان په توګه یا هغه څوک چې مونږ سره یې ژبه او څېره یو شان ده، بلکې هر یو د مؤمنانو څخه، مونږ یوه لویه ټولنه یو که د قبیلې په توګه ورته ګورو، په هغه وخت کې مونږ کوچنۍ ټولنې یو چې ژر د نورو د واک لاندې راتللای شي او له مینځه تللای شي. وخت ورکړئ، نورو مسلمانانو ته سلام ووایئ، هغو خلکو ته چې نن د تاسو څخه توپیر لري هغوی ته سلام وکړئ. که یو مسلمان په ستونزه کې ګورئ په رښتیا سره تاسو خپله په ستونزه کې یاست، که یو مسلمان ګورئ چې په غم او مصیبت کې دی، هغه غم او مصیبت هم د تاسو یوه برخه ده. مونږ باید یو بل ته دعا وکړو. دا وخت زمونږ لپاره دی، دا آزمایښت او امتحان دی. دا په تېرو وختو کې په تاریخي توګه پېښه شوې ده او مونږ د آزمایښت وروستۍ مرحلې ته رسیږو، د دسیسو وروستي حد ته رسیږو او همدا رنګه باید ځان دې مرحلې ته تیار کړو، خپلې دندې سرته ورسوو، آن کوچني کارونه لکه ثابت قدمَ پاتې کېدل په خپلو لمونځونو کې، کوچني شیان لکه د دې اجازه ورنکړو چې حرام شیان زمونږ خولې ته راشي، کوچني شیان؛ لکه مطمئنه کېدل لدې نه چې خپلو ټولنو سره مرسته وکړو، کوچني شیان؛ لکه د خلکو ستونزو حلول په ټولنه کې، نامسلمانو ته ښودل د دې چې په رښتیا سره اسلام څه دی؟ او که ګورو چې د یو چا سره بې عدالتي کیږي چې مسلمان ندی، نو داسې احساس کوو چې دا بې عدالتي مونږ ته هم پېښه شوې ده باید د دې بې عدالتۍ په مقابل کې ودرېږو. مونږ باید د خپلو مسلمان مشرانو څخه ملاتړ وکړو، کله چې ژوندي دي د هغوی څخه ملاتړ وکړو نه چې کله مړه وي. دا بسنه نه کوي کله چې مسلمان مشر (عالِم) لدې نړۍ لاړ او یوازې ووایو رحمه الله. خو کله چې ژوندی وو، سخت وخت یې تېراوه، کله چې مونږ لپاره او زمونږ کورنیو لپاره په تکلیف کې ؤ څه مو ورته وکړل؟ که چیرې یوازې همدا د دعا اوملاتړ لار وي. پام کوئ آن کله چې تفریح کوئ او خوند اخلئ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفریح او خوند اخیستلو څخه په اسلامي طریقه خپل ځان باید خبر کړو. پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) مونږ ته ویلي دي چې، هیڅوک به له تاسو څخه په ریښتوني توګه ایمان ونلري،" **لا یومن احدکم یکون هواه تبعا لما جئت به** " ( هیڅوک به له تاسو څخه په ریښتوني توګه ایمان ونلري، تر څو غوښتنې یې، خوند اخیستل یې، چکر او تفریح یې په هغه طریقه نه وي چې ما ورته راوړي دي ). نو ځکه آن کله چې مونږ تفریح کوو او خوند اخلو، پام مو وي او هوښیار واوسو، څه چې پېښیږي هغو ته مو سترګې خلاصې وي، په خاصه توګه کله چې په مسجدونو او د الله (جل جلا له) په کورونو کې یو، مونږ باید د الله (ج) څخه دعا وغواړو، په خاصه توګه د حکمت او پوهې لپاره، د کارونو سرته رسولو لپاره په حکمت او پوهې سره. که چیرې څه د حکمت او پوهې په اړه اورو، باید په اړه یې فکر وکړو او په نظر کې یې ونیسو. شیخ عبدالله حکیم وایي: زه تاسو د اسلام یو له سترو مشرانو (حضرت عمر ابن خطاب رضی الله عنه) د حکمت او پوهې څخه مو خبروم، الله (ج) هغه ته ډیر حکمت او برکت یې وربخښلی وو. هغې روحیې ته اوس مهال اړتیا لرو، په روایتونو کې راغلي دي کله چې حضرت عمر(رضی الله عنه) به له یوې کوچنۍ کوڅې څخه تېرېدِه او قدم به یې ایښودِه، ملعون شیطان به په هغه لاره تګ نکاوه او له بلې لارې به یې تګ کاوه. د حضرت عمر(رضی الله عنه) د حکمت او پوهې په اړه په ژباړه او روایتونو کې راغلي دي چې ویلي دي: له الله (جل جلا له) څخه ووېرېږئ، ځکه یوازې هغه ژوند کوي، ټول نور شیان له مینځه ځي، پدې اړه فکر وکړئ. له چا څخه چې باید وېره او ډار وشي هغه الله (جل جلا له) دی. هر څه، هر پاچا، هر وزیر او هر ځواک به له مینځه لاړ شي مګر الله (جل جلا له). هغه د دې سنوات خداعات وخت په اړه مونږ ته یې په ښه توګه ویلي دي: په عزت، رېښتوني او صادقه اوسئ، په عزت خو متکبر او مغروره نه، په عزت او رېښتوني اوسئ، ځان ته درناوی ولرئ او نورو ته درناوی ولرئ، صادقه او رېښتوني اوسئ. او همدارنګه حضرت عمر(رض) ویلي دي: باور او اعتبار هغه دی چې کوم کارونه چې سرته رسوئ کوم څه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایئ او کوم څه چې فکر کوئ د هغو تر مینځ توپیر شتون ونلري دا په ریښتوني توګه باور او اعتبار دی، او آن هغه څه چې د تاسو په ذهن کې شتون لري، ترڅو منافق او چالباز ونه اوسئ. هغه همدارنګه ویلي دي: د چا د شهرت لپاره مه ګمراه کیږئ. که چیرې د چا د شهرت په اړه اورئ مه ګمراه کیږئ. هغه ویلي دي: (حضرت عمر رض) د یو چا په اخلاقي بنسټونو (اصولو) باندې باور مه کوئ تر هغه پورې چې هغه مو لیدلی نه وي چې په غوسه کې دی او وګورئ چې څه ډول رویه کوي. یانې د چا په اخلاقو او رویې باور مه کوئ تر څو مو چې په غوسه کې نه وي لیدلی، وګورئ چې څنګه عمل کوي، بیا پوهیږئ چې څه ډول فرد (شخص) دی؟ په یاد ولرئ چې کوم فرد (شخص) ځواکمن دی، آنحضرت (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: " **الذی یملک نفسه عند الغضب** " (څوک چې د غوسې په وخت کې ځان کنټرول کړي، هغه فرد یا شخص ځواکمن دی ). دا هغه څه دي چې پام کې یې ونیسو او درناوی یې وکړو. نو ځکه دا وخت مونږ تېروو او یادَونه یې کوو چې استراحت ونکړو، ځکه الله (جل جلا له) **حیاتٌ لاَ یموت** دی، (الله جل جلا له ژوندی دی او هیڅکله نه مري ).

[1]شیخ عبدالله حکیم وایي: هوښیار اوسئ، پام کوئ، کوښښ کوئ داسې کارونه وکړئ چې د نړۍ د عدالت لپاره وي او دعا کوئ چې الله (ج) په ضعیفو او معصومو خلکو د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) په امت کې رحم وکړي. دعا کوئ چې الله (ج) د دې امت د عزت او د ښځو د عزت او د کورنیو د عزت څخه ساتنه وکړي. دعا کوئ چې الله (ج) د دې امت د سړیو څخه ساتنه وکړي او ځواک ورکړي تر څو په نړۍ کې په عدالت او برابرۍ سره رهبري وکړي. او دعا وکړئ چې له دې نړۍ څخه د تګ په وخت کې الله (جل جلا له) دې دا کلیمه " **لااله الاالله محمد رسول الله** " زمونږ د ټولو په نصیب کړي. (آمین).“

---

[1]شیخ عبدالله حکیم کوِیک د امریکا متحده ایالاتو یو اسلامي عالم او تاریخ لیکونکی دی چې خپلې اسلامي زده کړې یې د مدینې ښار او د کاناډا هیواد په تورانتو ښار کې ترسره کړې دي. هغه بیلابیلو هیوادونو ته سفر کوي په اسلامي سمینارونو او غونډو کې ګډون کوي او اسلامي مسائل نړیوالو ته بیانوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فِري میسنري (میسونیزم) ، آوینجیلم (آوینجلیزم) او موخې یې:

فِري میسنري (Free Masonry) یو پټ سازمان (اداره) ده چې د نړۍ ټولو هیوادونو کې غړي او برخې لري او هغه خلک چې په بېلابېلو ټولنو کې نفوذ لري پکې غړیتوب لري. د کوید-۱۹ کرونا ویروس جوړول، بدلون او په لاره اچول د کوچنیو پروګرامونو(کرنلارو) څخه یې دی. هغوی یوازې غوښتل چې په عمل کې وګوري، آیا راتلونکې موخې ټول جهان لپاره چې یې لري د پلې کېدلو وړ دي که نه؟ د کوید-۱۹ کرونا ویروس یې وکولای شو چې په ډېرې هوښیارۍ او په بریالیتوب سره پلي او خپور کړي. د نړۍ ټولو هیوادونو وضعیت، دولتونو او نړۍ د نړۍ ټول خلک یې په ریښتوني او ذهني توګه کنټرول کړل او اوس مهال یې کنټرولوي. دلته د[1]فري میسنري او آوینجیلم چې د فري میسنري کوچنۍ برخې دي په اړه به یې پوه شئ.

### فِری میسنری یا میسونیزم (Free Masonry):



فِري میسنري د (آزاد بنسټ یا بنا) یا (آزادو معمارانو) په مانا ده. فري میسنري یو پټ سازمان (اداره) ده چې د جوړېدلو وخت یې د اوولسمې پیړۍ پای او د اتلسمې پیړۍ پیل دی. فري میسنري د ایلومیناتي او کابالا په نومونو هم یادېږي. د فري میسنري ځینو مقالو او لیکنو کې ایلومیناتي او کابالا ورڅخه جلا ګڼل کېږي که چیرې جلا هم وي خو یو شان موخې لري. د فِری میسنري غړي چې په کومو ځایونو کې سره راټولېږي د لوژ په

[1] پدې کتاب کې د فري میسنري (Free Masonry) په اړه لنډ مالومات وړاندې شوي دي. که غواړئ د دې سازمان په اړه او د نړۍ نورو پټو سازمانونو په اړه او د هغو پېښو په اړه چې پدې وروستیو پیړیو کې په نړۍ کې پېښې شوي دي پوه شئ ژر به زما بل کتاب د ورستیو پیړیو دسیسې او پېښې په نوم به چاپ شي په هغه کې بشپړ مالومات شته کولای شئ ویې لولئ د نړۍ له اوسني او پخوانیو واقعیتونو څخه ځان خبر کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library






نامه یادیږي چې د مسیحیانو د کلیساوو سره ورته والی (شباهت) لري خو پدې لوژونو کې له ویرې ډک مراسم سره له سمبولونو، نښو، اور او د شیطان پرستۍ مراسمو سره ترسره کیږي. هر څوک چې د دې سازمان (ادارې) غړیتوب اخلي د میسن او فري میسن په نوم یادیږي. په ۱۷۱۷م کال کې څلور لوی لوژونه په لندن کې سره راټول شول او لومړنی د نړۍ فري میسنري لوی لوژ یې سره جوړ کړ. په ۱۷۲۳م کال کې د (اندېرسن) په نوم یو سړي د فري میسنري لومړنی کتاب (د فري میسنري بنسټ پانه) په نوم یې ولیکِه او خپور یې کړ. په ۱۷۶۳م کال کې د اسکاټلند لوی لوژ یې جوړ کړ او له هغه څخه وروسته خپل فعالیتونه یې ډېر کړل. فري میسنري یو سیاسي – لیبرالي سازمان (اداره) ده چې د غربي سرمایه




دارانو او یهودیانو (صهیونستانو) د واک غوښتنې د موخو په چوپړ کې دی. فري میسنري د نړۍ هیومانیزم (Humanism) پر بنسټ ولاړ دی، د (کائناتو د یو معمار) یا (ساعت جوړونکي خدای) باندې باور لري، دا هغه باور دی چې ایلومیناتي او ډئیست ډله (د بې دینو ډله) ) داسې باور لري. د میسون ډلې د پام وړ خدای د توحید، یکتا پرستۍ، پیغمبر او دین څخه خالي دی. په ربښتوني توګه د میسونیزم بنسټ په پټ الحاد او ښکاره شرک باندې ولاړ دی. د فري میسنري سازمان (اداره) په ټولو هیوادونو او بیلابیلو ټولنو کې نفوذ لري. یو شمیر میلیادران او میلیونران د هیوادونو - په خاصه توګه د آمریکا، د هالیووډ سینمایي لوبغاړي، د هیوادونو سندرغاړي، زیات شمیر د آمریکا رئیس جمهوران او ځینې نور د ټولنو نفوذ لرونکي خلک د فري میسنري غړیتوب لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني خلک پخپله غوښتنه د دې سازمان غړيتوب اخلي او هغه کسان چې د دې سازمان غړيتوب ونه مني د دې سازمان له خوا نوم بدي، ترور او يا هم وژل کيږي. د آمريکا څو رئيس جمهورانو چې د فري ميسنري سازمان غړيتوب يې ندی منلی د دې سازمان له خوا ترور او وژل شوي دي؛ چې د جان اِف کينډي وژنه او ترور کولای شو له دې بيلګې څخه ياد کړو. د دې سازمان وروستۍ موخه د نړۍ د ټولو هيوادونو کنټرول د سياسي، اقتصادي، مالي، فرهنګي او فکري پلوه دی چې د کويډ-۱۹ کرونا ويروس د لاره اچونې پواسطه يې وکولای شول چې دې موخو ته ورسيږي. د نړې ټول هيوادونه يې د سياسي، اقتصادي، مالي، فرهنګي او فکري پلوه د بيلابيلو رسنيو په مرسته چې په واک کې يې لري ويې کولای شو کنټرول يې کړي. د فري ميسنري (ايلوميناتي يا کابالا) سازمان غواړي چې نړۍ کې د هغوی د خوښې يو حکومت شتون ولري؛ د نړۍ ټول هيوادونه او د نړۍ ټول خلک د دوی مرييان (غلامان) وي. د فري ميسنري (ايلوميناتي يا کابالا) سازمان نور باورونه او موخې يې په لاندې ډول په څو شميرو کې بيانيږي:

۱- په ساعت جوړونکي خدای ايمان او باور
۲- بې ايماني او بې باوري په پيغمبرانو (عليهم السلام)
۳- په يو خاص دين او احکامو يې عمل نه کول
۴- په ظاهره توګه باور په پرمختګ، مُډرن کېدلو او پرمختګ باندې خو په پټه توګه د خپلو غلطو موخو د عملي کولو په لټه کې
۵- باور پدې باندې چې اوسنی تمدن تر ټولو بشپړ او غوره تمدن دی د ټول بشريت لپاره البته په خپلو باورونو يې
۶- د يو دولت جوړول او عملي کېدل په ټوله نړۍ کې د ليبرالي او ميسوني شعار (برابرۍ، ورورلۍ او خپلواکۍ) سره
۷- د انګليس، آمريکا او نړيوالو سرمايه لرونکو استعماري موخو پرمخ وړل د (پرمختګ، تمدن او مدنيت) په پلمه (بهانه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸- باور په اباحه ګرۍ (جنسي آزادي د سړي له سړي سره او ښځې له ښځې سره یا لدې څخه هم بده د حیواناتو سره)

۹- د سکولاریستۍ او بې دینۍ نظام جوړونه او پراختیا

۱۰- د فري میسنري دایمي پراختیا او په نړۍ نفوذ او د لیبرال دولت جوړونه، نړیواله سرمایه داري د فری میسنري سازمان په مشرۍ او رهبرۍ سره

۱۱- سخته علاقه لرل د اتلانو داستانانو، نښو او سمبولونو سره د یهودیت (صهیونیزم) د شعارونو او د تحریف شوي تورات په واسطه

## آوینجیلم یا آوینجلیزم (Evangelism):

اونجلیزم د فري میسنري (ایلومیناتي یا کابالا) سازمان یوه کوچنۍ برخه ده چې دې فرقې د ۱۸۲۰م او ۱۸۳۰م کلونو کې خپل فعالیت یې په آمریکا کې پیل کړی، بیا وروسته خپل فعالیتونه یې په نورو هیوادونو کې پیل کړل او اصلي ځای یې په آمریکا دی. په سمه توګه د دې ډلې تعداد معلوم ندی خو په ځینو مقالو او لیکنو کې ویل شوي دي: چې له ۱۰-۱۵٪ د شمالي آمریکا (آمریکا او کاناډا هیوادونو) مسیحیان د آونجلیزم پیروان دي. آونجلیزم ډلې پیروان نظر په شمیر او تعداد یې رسنیز سهم (برخه) لري او اوس مهال نږدې ۱۵۵۰ راډیو او ۳۵۰ ټلویزیوني شبکې د آونجلیستانو په واک دي او همدارنګه زیات شمیر انټرنټي شبکې او انټرنټي ویب پاڼې هم په واک کې لري. پرته له شکه چې دغو رسنیو خپله ونډه د کوید-۱۹ کرونا ویروس په بحران کې سرته رسولې ده. دا ډله (آوینجلیستان) د آمریکا د فرهنګ په بدلون او عمومي رسنیو کې خپل ځانونه اغیزمن خلک ګڼي. همدارنګه دوی ځانونه د لیبرالیزم او سکولاریستۍ پر ضد مدعیان ګڼي. دا ډله د فري میسنري (ایلومیناتي یا کابالا) سازمان په څیر د دجال په ژر راوتلو باندې باور لري. هغوی باور لري چې دجال به ژر راووځي او نړۍ به په سخت عذاب ونیول شي او یوازې بیاځلي زیږدلي مسیحیان به وژغورل شي. د دې ډلې پیروان د یهودیانو (صهیونستانو) سره نږدې او ښې اړیکې لري. هغوی باور لري چې په آخرالزمان کې یهودیان د ټولې نړۍ څخه باید فلسطین هیواد ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاړ شي او د دجال په راوتلو سره به ۱۴۴۰۰۰ زره کسان له یهودیانو څخه بـه پـه حضرت عیسی (ع) ایمان راوړي او د بیاځلي زیږدلي مسیحیانو سره به جنت تـه ځي او نور ټول د نړۍ یهودیان به د دجال پـه لاس ووژل شـي. د آونجلیسـتانو پـه باور اووه کاله وروسته د دجال له راوتلو څخه، به حضرت عیسـی (ع) د بیـاځلي زیږدلي مسیحیانو سره یو ځای ځمکې ته را ښکته شي او دجال ته به په فلسـطین کې په وروستۍ مقدسه جګړه یانې آرماګېډون کې ماته ورکړي او [1]حضرت عیسی (ع) به وروسته له هغه څخه زر (۱۰۰۰) کاله په ټولـه نـړۍ کـې د اورشـلیم پـه مرکزیت حکومت وکړي. اوسني اونجلیستان پدې باور دي چې اسـرائیل اسـتثنا دی او صهیونیزم او اسرائیل د الله (ج) لخوا یو مقرر شوی کار د فلسطین شاوخوا هیوادونو او سیمې ته دی. هغوی د یهودیانو دښـمنان خپـل دښـمنان ګڼـي او پـه اسلامي هیوادونو په خاصه توګه په فلسطین له هیڅ ډول ظلم او بدۍ څخـه لاس نه اخلي. اونجلیستان په ډیره لویه کچه د آونجلیزم د خپرولو او تبلیغ کولـو لپـاره مصـــرفونه کـــوي تـــر څـــو خپلـــو بـــدو او شـــومو موخـــو تـــه ورســـیږي.

---

۱- د دجال د راوتلو په اړه او د حضرت عیسی (علیه السلام) د راتګ په اړه د اسلام مقدس دین د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د احادیثو شریفو په رڼا کې د آخرالزمان او د قیامت لویو نښو په بحث کې په سمه او روښانه توګه بیان شوي دي. هر څوک که غواړي کولای شي د قیامت لویو نښو په بحث کې دا موضوع ولولي او مطالعه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریم څپرکی

## اقتصادي موخه د کوید-۱۹کرونا ویروس یا سارس -۲ په را مینځ ته کولو کې

### اقتصادي موخه د کوید-۱۹کرونا ویروس په را مینځ ته کولو کې:

په مخکینیو څپرکو (فصلونو) کې د کرونا ویروس په اړه مالومات او طبي نظرونه، اسلامي موخې د کوید-۱۹ کرونا ویروس په را مینځته کولو کې؛ مالومات درته وړاندې شول. پدې څپرکي (فصل) کې اقتصادي موخې د کوید-۱۹ کرونا ویروس په را مینځته کولو کې به درته وړاندې شي، ترڅو درانه او د قدر وړ لوستونکي پوه شئ په نړۍ کې هغه ډلې چې غواړي د نړۍ ټول هیوادونه او د نړۍ خلک کنټرول کړي او تر ولکې لاندې یې راولي؛ څه موخې او کومې شومې او بدې کړنلارې لري؟ او څه ډول اقتصادي لویې لوبې د کوید-۱۹ کرونا ویروس په نوم او په نورو نومونو په لاره اچوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نړۍ نقدو پیسو راټولول او له منځه وړل:




په ۱۹۷۱م کال کې د آمریکا رئیس جمهور د نیکسون په نوم لویې سوداګریزې راکړې ورکړې چې په سره زرو (طلا) او سپینو زرو (نقره) باندې کیدلې هغه یې ودرولې؛ لدې کال څخه مخکې لویې سوداګریزې راکړې ورکړې په سره زرو، سپینو زرو، نقدو پیسو او په بیلا بیلو نقدو پیسو ترسره کیدلې، قوانین او مقررات هم د دې لپاره شتون یې درلود. نیکسون په ۱۹۷۱م کال کې یو [1] استانډرډ ډالر د سرو زرو (طلا) پر ځای (Dollar off the Gold Standard) یې را مینځته کړ او آمریکا د نړۍ ټولو هیوادونو ته یې قوانین او مقررات کېښودل تر څو لویې سوداګریزې راکړې ورکړې د سرو زرو، سپینو زرو او نورو پیسو پر ځای یوازې په ډالرو ترسره شي چې دا کار د آمریکا دولت ته یې د وخت په دوام سره ډېرې لویې ګټې ورسولې. ځکه تقدي پیسې (ډالر چې په استانډرډ پیسو تبدیل شول) کولای شي ډېر چاپ کړي، هغو هیوادونو چې اقتصادي وضعیت یې ښه ندی هغوی ته یې پور (قرضه) ورکړي او خپلو خلکو ته زیاتې نقدې پیسې یا د نقدو پیسو په نوم د کریډیټ په شکل په آمریکا کې پور (قرضه) ورکړي، هغه هیوادونه چې د آمریکا څخه پور (قرضه) اخلي د آمریکا د دولت په واسطه او د آمریکا خلک د بانکونو په واسطه چې ورته پور (قرضه) ورکوي ښه کنټرولیږي او تر ولکې لاندې

---

۱- هرڅوک که لا ډېر مالومات غواړي د دې استانډرډ او اقتصادي مسائلو په اړه؛ کولای شي په انټرنټ کې د دې مسائلو لټون وکړي ډېرې مقالې او لیکنې شته دي چې دا مسائل یې روښانه بیان کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې راځي. د کويډ-۱۹ کرونا ويروس په لاره اچول کلونه مخکې يې ورته پلان نيولی وو، هغه ډلې چې غوارې د ټولې نړۍ او آمريکا اقتصاد کنټرول کړي نړدې له ۳۰-۴۰ کاله کيږي چې تر ټولو لوی اقتصادي ناورين (بحران) په لټه کې وو او د (۲۰۲۰) م کال په مارچ مياشت کې د نړۍ تر ټولو لوی اقتصادي ناورين (بحران) پيښ شو او د کويډ-۱۹ کرونا ويروس د ناورين (بحران) په نوم يې پټ کړ. په آمريکا کې هغه ډلې چې غواړي د ټولې نړۍ او د آمريکا اقتصاد په لاس کې ولري په هره لسيزه کې يو اقتصادي ناورين (بحران) را مينځته کوي ځکه هغوی پانګه (سرمايه) لرونکي او پانګه (سرمايه) اچوونکي دي؛ شرکتونه، پيسې او لويې پانګې (سرمايې) په واک کې لري. په اقتصادي ناورين (بحران) کې غريب او متوسط خلک خپل کارونه او دندې له لاسه ورکوي او بې کاره کيږي، ساتلې نقدې پيسې هم مصرفوي او نقدې پيسې د پانګې (سرمايې) لرونکو جيب ته ځي د کويډ-۱۹ کرونا ويروس په ناورين (بحران) کې هم همداسې وشول او د غريبو او متوسطو ټولنو پيسې پدې توګه را ټولې شوې. د کويډ-۱۹ کرونا ويروس ناورين به په وخت سره (دوه يا درې کلونو کې) صحي نه بلکې اقتصادي وي. آمريکا او چين او هغه ډلې چې غواړي د ټولې نړۍ اقتصاد يې په لاس کې وي هغوی نقدې پيسې، سره زر(طلا) او سپين زر(نقره) نه غواړي او نه يې خوښيږي ځکه پدو باندې په ټولييزه توګه کنټرول نلري. هغوی غواړي په ټوله نړۍ کې يو ډول پيسې په ډيجيټلي شکل او کريپټوګرافي (ډيجيټل پټ سيسټم د پيسو لپاره) يا د کريډيټ په شکل شتون ولري او يوازې مرکزي بانکونه يې کنټرول کړي او په لاس کې يې ولري. د کويډ-۱۹ کرونا ويروس يوه دسيسه او چال دی، له اقتصادي پلوه موخه يې بې نقدو پيسو ټولنې، د نقدو پيسو له مينځه وړل، د نړۍ د خلکو خپلواکي (آزادي) اخيستل او د نقدو پيسو راټولول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کوچنیو او مینځنیو (متوسطو) سوداګریو له مینځه وړل:




د ۲۰۲۰م کال د مارچ په میاشت کې تر ټولو لوی اقتصادي ناورین او تر ټولو لوی ناورین د سهامو په بازارونو (مارکیټونو) کې پیښ شو خو د کوید-۱۹ کرونا ویروس په پلمه یې پټ کړ. خلک له دې اقتصادي ناورین څخه خبر ندي ځکه د ناورین پر مهال خلک قرنطین ؤ او په کورونو کې یې وخت تېراوه. په څو روانو (آینده) کلونو کې د کوید-۱۹ کرونا ویروس پایله به صحي نه بلکې اقتصادي وي او پایله به یې شته د نړۍ اقتصادي سیستم له مینځه وړل وي. د کوید-۱۹ کرونا ویروس په لاره اچونې څخه یوه موخه یې د نړۍ اقصادي سیستم له مینځه وړل هم دي. کله چې د کوید-۱۹ کرونا ویروس له امله ټول فعالیتونه او کارونه د نړۍ په ټولو هیوادونو کې ودرېدل، دا ټولې پېښې کېدل تصادفي او پخپله نه وې، بلکې دا ټولې پېښې په قصدي توګه پلان شوې وې تر څو کوچنۍ سوداګرۍ، مینځنۍ سوداګرۍ، کورنۍ سوداګرۍ آن یو شمیر لویې سوداګرۍ له مینځه یوسي. د دې سوداګریو مالکانو خپلې سوداګرۍ یې له لاسه ورکړې؛ او ټول هغه کسان چې پدې سوداګریو کې بوخت وو هغوی خپلې دندې او کارونه یې له لاسه ورکړل. د کوید-۱۹ کرونا ویروس له امله چې کوم ناورین را مینځ ته شو، دا بحران له صحي پلوه، اقتصادي او مالي پلوه د ټولې نړۍ په هیوادونو یې اغیزه وکړه فردي سوداګرۍ، کوچنۍ سوداګرۍ او منځنۍ سوداګرۍ یې له مینځه وېوړې او یا یې داسې ناورین (بحران) سره مخ کړل چې بیاځلې به هیڅکله خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړني حال ته به بېرته ونه ګرځي. ۵۰٪ سلنه زیانونه چې سوداګریو ته د نړۍ په ټولو هیوادونو کې رسیدلي دي تل پاتي زیانونه دي او دا زیانونه د جبران وړ ندي. په رېښتوني توګه د کویډ-۱۹ کرونا ویروس ناورین صحي نه بلکې اقتصادي ناورین دی، په آمریکا کې نږدې (۴) تریلیونه ډالره او د نړۍ په ټولو هیوادونو کې نږدې (۱۲) تریلیونه ډالره زیان (ضرر) نړیوالې سوداګرۍ ته رسیدلی دی.

## د لویو شرکتونو پواسطه د بېلابېلو او ډول ډول توکو (موادو) تولیدول:



د کویډ-۱۹ کرونا ویروس خپرېدل او ټولو فعالیتونو درېدل د نړۍ په ټولو هیوادونو کې، ښه وخت یې د ډول ډول توکو (موادو) د تولید لپاره لویو شرکتونو ته برابر کړ. د بېلګې په توګه د روغتیایي (صحي) توکو تولید په خاصه توګه د ماسکونو ډول ډول تولید؛ چې دا ماسکونه د لویو شرکتونو په واسطه لومړی تولید او بیا په جېګه بیه په خلکو خرڅ شول. په چین کې یو شمیر شرکتونو داسې ماسکونه تولید کړل چې یو ځل تولید شوي او کارول شوي ماسکونه بیاځلي جوړ کړي، دوه ځلي او څو ځلي یې دا ماسکونه خرڅ کړل چې په میلیونونو یَن (د چین د پیسو نوم) پیسې دې شرکتونو د کویډ-۱۹ کرونا ویروس له ناورین څخه ګټه یې پورته کړه. په افغانستان کې هم یو شمیر شرکتونو د بیلابیلو ټوټو (تکو) څخه ماسکونه یې تولید او جوړ کړل او یو څه ګټه یې واخیستله. په آمریکا او ډیری د نړۍ نورو هیوادونو کې لویو شرکتونو د عفوني ضد توکو (موادو) تولید ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخه کړه او میلیونونه ډالر ګټه یې ورڅخه واخیستله. آیا که کوید-۱۹ کرونا ویروس پېښ شوی نه وای؟ دا شرکتونه دې ټولو تولیداتو ته یې مخه کوله؟ هیڅکله یې هم دا کار نکاوه. په ډېری مقالو، لیکنو او څېړونو کې څرګنده شوې ده چې د کوید-۱۹ کرونا ویروس په لاره اچول شوی دی. د مانیپولیټېډ - (Manipulated) انګلیسي کلیمه چې په لاره اچول شوي، جوړ شوي یا کار شوي په مانا ده؛ پدې مقالو، لیکنو او څېړنو کې ورته استعمال (کارول) شوې ده. له اقتصادي پلوه ډېری اقتصاد پوهان او اقتصادي او مالي چارو شنونکي د کوید-۱۹ کرونا ویروس او ناورین په لاره اچول شوی ګڼي او د لاره اچولو څخه یې موخه د نړۍ د ټولو هیوادونو لویو شرکتونو ډېره زیاته او بې ساري ګټه بولي. کولای شئ په راتلونکو سرلیکونو لا زیات مالومات پدې اړه ولولئ.

## د دوا جوړولو شرکتونو او لویو شرکتونو غټې ګټې:



د کوید-۱۹ کرونا ویروس له ناورین څخه د دوا جوړولو شرکتونو او لویو شرکتونو په نړۍ کې تر ټولو ډېرې لویې ګټې یې پورته کړې. په آمریکا کې د دوا جوړولو لوی شرکتونه چې د بیګ فارما - (Big Pharma) او فارموسوټیکل کمپنیز - (Pharmaceutical Companies) په نوم یادېږي، ټولې دواګانې او روغتیایي (صحي) توکي تولیدوي (جوړوي)، په خپلو خلکو ډول ډول دواوې په ډېره لوړه بیه خرڅوي. د کوید-۱۹ کرونا ویروس له ناورین څخه مخکې دې لویو شرکتونو بیلا بیلې دواګانې چې د روغتیایي (صحي) پلوه ډېرې ګټورې هم نه وې او جانبي زیانونه یې هم درلودل هغه یې په ډېره لوړه بیه پلورلې (خرڅولې) او ډېرې غټې ګټې یې پورته کړې، خو د کوید-۱۹ کرونا ویروس د خپرېدو پر مهال وخت یې مناسب ولیدِه هر ډول دوا چې ډېره ګټه یې دې شرکتونو درلودله هغه دواګانې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ډېره لوړه بیه په خلکو و پلورلې. د دوا جوړلو لوی شرکتونه د یو شمیر میلیادرانو دي (مالکان یې دي) یا لوی سهم لرونکي یې یو شمیر میلیادران دي چې د کوید-۱۹ کرونا ویروس په ناورین کې یې بیلا بیلې دواګانې په خلکو و پلورلې او لویې ګټې په میلیونونو ډالر یې لاسته راوړل. په آمریکا کې د روغتیایي بیمې سیستم شتون لري د کوید-۱۹ کرونا ویروس په ناورین کې د روغتیایي بیمې شرکتونو هم ډیرې ګټې تر لاسه کړې. د نړۍ په نورو هیوادونو کې او په افغانستان کې هم د دوا او روغتیایي توکو جوړولو شرکتونو د کوید-۱۹ کرونا ویروس له ناورین څخه یې ګټه واخیستله او ویې کولای شو چې هغه دواګانې چې لږ یا ډېر د کوید-۱۹ کرونا ویروس په مخنیوي کې یې مرسته کوله په لوړه بیه یې وپلورلې. د بیلګې په توګه په هندوستان او افغانستان کې د ملاریا دوا د کلوروکین او هایدروکسي کلوروکین په نومونو په لوړه بیه وپلورل شوه. د کوید-۱۹ کرونا ویروس د تود بازار په مینځ مهال او وروستیو کې هغه دواګانې چې په رښتیا سره د کوید-۱۹ کرونا ویروس په درملنه کې یې مرسته کوله د یو شمیر ناخبره ډاکټرانو او یا هم د پروګرام شویو ذهنونو سره او د انګلستان او آمریکا هیوادونو لخوا د دې دواګانې کارول (استفاده) یې منع شوه څکه ګټه یې دې هیوادونو او د دوا جوړولو شرکتونو ته نه رسیدَه. د دوا جوړولو شرکتو ترڅنګ د تکنالوجۍ لویو شرکتونو او نورو لویو شرکتونو هم د کوید-۱۹ کرونا ویروس له ناورین څخه یې ډیره ګټه پورته کړه. د آمازون (Amazon)، اپَل (Apple)، ګوګل (Google) او فیسبوک (Facebook) شرکتونو چې پدې وروستۍ لسیزه کې د تکنالوجۍ د برخې لوبډونکي دي د کوید-۱۹ کرونا ویروس له ناورین څخه د تولیداتو او آنلاین (پرلیکه) خدماتو او انټرنټي خدماتو په واسطه په میلیاردونو ډالره ګټې یې پورته کړې. د والټ ډیزني (Walt Disney) او راک فیلر (Rock Feller) شبکه یې شرکتونو د آنلاین لوبو او فیلمونو په جوړولو (تولید) او نورو فعالیتونو سره په میلیاردونو ډالر د کوید-۱۹ کرونا ویروس له ناورین څخه یې ګټې واخیستلې. د ۲۰۲۰م کال د اپریل په میاشت کې لویو شرکتونو تر ټولو لوی اقتصادي ناورین او د سهامو د بازارونو په ناورین کې نږدې (۵۱) میلیارده ډالره ګټې یې پورته کړې. د والټ ډیزني (Walt Disney) شرکت د کوید-۱۹ کرونا ویروس د ناورین پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهال یوازې په یوې میاشت کې (۱.۴) میلیارده ډالر ګټه یې تر لاسه کړه. ډېری میلیادران په خپلو ناستو کې له رسنیو سره وایي چې هر اقتصادي ناورین د دوی لپاره یو چانس او وخت دی، چې ډېره ګټه ترلاسه کړي هغوی ربښتیا وایي ځکه لوی نړیوال شرکتونه په واک کې لري او د لویو شرکتونو مالکان وي یا پانګه اچوونکي او سهم لرونکي په لویو شرکتونو کې وي.

## د آمریکا او چین سیالۍ او لانجې:




اقتصادي سیالۍ د آمریکا او چین تر مینځ کلونه کیږي چې دوام لري، پدې وروستیو کلونو کې آمریکا په چینایي شرکتونو او چین په آمریکایي شرکتونو په میلیاردونو ډالر بندیزونه لګولي دي. دا دوه هیوادونه خپلې اقتصادي موخي په نورو هیوادونو کې هم مخکې وړي، یو بل ترمینځ لانجې لري. د کویډ-۱۹ کرونا ویروس په ناورین کې اقتصادي بڼه یې د صحي بڼې څخه یې ډېره اغیزناکه ده. د کویډ-۱۹ کرونا ویروس له لاره اچولو او خپریدو څخه مخکې څو اقتصادي هیوادونه لکه چین، روسیه، برازیل، هندوستان او جنوبي افریقا سره راټول شول چې د آمریکایي ډالر استانډرد پرځای بدیل پیدا کړي او لویې راکړې ورکړې په ډالرو ترسره نکړي. کله چې آمریکا د دې هیوادونو لدې تصمیم څخه خبر شو د کویډ-۱۹ کرونا ویروس په لاره اچول یې تیز کړل ترڅو ټول اقتصادي نړیوال نظامونه بدل کړي. ترڅو د نړۍ ټول هیوادونه اصلي مسئلې هیرې کړي او خلک د کویډ-۱۹ کرونا ویروس سره او په لاره اچول شوي ناورین سره بوخت وي. آمریکا او چین د نړۍ لومړی او دوم اقتصادي هیوادونه دي، کله چې یو ځواک او اقتصاد په نړۍ کې شتون ولري او نوی ځواک او اقتصاد پیدا کیږي، د دې دوه ځواکونو او اقتصاد ترمینځ جګړه ترسره کیږي. اوس مهال چین د آمریکا اقتصاد او ځواک ته خطر دی. د تاریخ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوږدو کې لیدل شوي دي چې کله شته د نړۍ اقتصاد او ځواک، نوی او تازه اقتصاد او ځواک یې تهدید او خطر لاندې راولي ترمینځ یې جګړې سرته رسیدلي دي. په (۵۰۰) وروستیو کلونو کې نږدې (۱۶) ځله د نړۍ دوه ځواکونو ترمینځ سیالۍ او لانجې پېښې شوي دي؛ چې (۱۲) ځله یې جګړه او جنګ یې پایله وه. د انساني او بیلابیلو وسلو په واسطه جنګونو تر څنګ؛ څلور ډوله نورې جګړې یې هم ترمینځه شوي دي: ۱- سوداګریزه او اقتصادي جګړه لکه سره جګړه په ۱۹۳۰م کال کې، ۲- ټکنالوژیکي جګړه د ډول ډول ټکنالوژیو سره، ۳- جیوپولیټیکه یا جیوپولیټیکي جګړه لکه اوس مهال چې په چین کې شتون لري او آسیایي هیوادونو ته به یې پایله څه ډول وي؟، ۴- د پانګو (سرمایې) جګړه، چې د دې ډول جګړې بیلګه د آمریکاي لویو شرکتونو د پانګو د تللو مخنیوی کول چین ته او همدا شان عکسل العمل ښودل د چین لخوا له آمریکا سره کولای شو یاد کړو، چې څو میاشتې مخکې د کوید-۱۹ کرونا ویروس د خپرېدو څخه د آمریکا او چین ترمینځ دوام یې درلود.

## د هیوادونو تر مینځ د سفر کولو د طرز بدلون:




د کوید-۱۹ کرونا ویروس خپریدو سره د ټولو فعالیتونو ترڅنګ سفر کول له یو ځای څخه بل ځای ته او له یو هیواد څخه بل هیواد ته لږ یا ډیر ودرېدِه. په څو میاشتو کې چې قرنطین وو سفر کول د ډیرو هیوادونو ترمینځ شتون یې نه درلود خو کله چې قرنطین له ډیرو هیوادونو څخه لیرې شو سفرونه او نور فعالیتونه هم کم یا زیات پیل شول. ډیری څیړونکي پدې باور دي چې د سفرکولو طرز به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیوادونو تر مینځ بدلون وکړي. ځمکني او هوايي سفرونه به بدلون وکړي هر څوک چې سفر کوي په بېلا بېلو د کوېډ-۱۹ کرونا ویروس په پلمه به معاینه کېږي. په ټوله نړۍ کې یو شرکت یا څو شرکتونه په شبکه یې بڼه او په ټولییزه توګه یو یا څو هوايې شرکتونه او نور د ډول ډول سفرونو شرکتونه به شتون ولري.

## د متقاعدینو له مینځه وړل او د هغوی امتیازات نه ورکول:



د کوېډ-۱۹ کرونا ویروس په لاره اچولو څخه یو له موخو څخه یې د متقاعدینو حقونه او امتیازات نه ورکول او د متقاعدینو له مینځه وړل دي. په فرانسه، جاپان او ډېرې هیوادونو کې د متقاعدینو د حقوقو لپاره د دولتونو په مقابل کې لاریونونه وشول، خو په آمریکا کې د متقاعدینو د حقوقو قانون او (401K) ماده شتون لري او هغه هم د والسټریټ (Wall Street) په لاس کې دی. په منځنۍ کچه د هر متقاعد او اطفایې کار کوونکي پیسې (۱.۲) میلیونه ډالر ده، دا پیسې او د متقاعدینو نورې پیسې د والسټریټ په واسطه غلا شوې دي. په (۱۰) لسو آینده کلونو کې او تر ۲۰۳۰ م کار پورې نږدې (۲) میلیارده متقاعد کسان به په نړۍ کې شتون ولري. د جاپان، ارجنټاین، چین، ایټالیا، آلمان (جرمني) او نورو ډېرې هیوادونو کې متقاعدینو ته د ورکولو لپاره به هیڅ شی شتون ونلري. د نړۍ ډېرې هیوادونه به اقتصادي ناورین کې وي. کله چې د کوېډ-۱۹ کرونا ویروس په آمریکا کې خپور شو ډېر مرګونه او د مرګ پېښې د متقاعدینو او زړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وګړو پکې وې. بېلا بېلو رسنیو او د روغتیا نړیوال سازمان د کوید-۱۹ کرونا ویروس لپاره په ښه بڼه تبلیغات او اعلانونه یې وکړل؛ ډېرې خلک د روحي او رواني پلوه یې په ژورخفګان کې راګیر کړل او په هغوی کې ډار یې را مینځ ته کړ او د بدن دفاعي سیستم یې ورته کمزوری کړ ترڅو ویروسونو او ناروغېو ته یې بدن ښه تیار شي، په قصدي توګه په نړۍ کې د ډېرو خلکو د مرګ لامل شول.

## نړۍ په کوچني کلي اړولو نظریه ګلوبلایزیشن-(Globalization):




نړیوال کېدل - ګلوبلایزیشن (Globalization) د کوید-۱۹ کرونا ویروس په خپرېدو کې د نړۍ په ټولو هیوادونو کې یې ونډه درلوده. نړیوال روغتیا سازمان (WHO)، ملل متحد (UN) او د سوداګرۍ نړیوال سازمان (WTO) د نړیوال کیدلو د نظریې د پلي کیدلو لپاره مینځ ته راغلي دي. دا سازمانونه په مستقیمه توګه د نړۍ اړول په کوچني کلي یا نړیوال کېدلو نظریې اصلي پلویان او طرفداران دي. د صحي، سیاسي او اقتصادي پلوه دې سازمانونو د کوید-۱۹ کرونا ویروس د خپرېدو پر مهال خپلې کړنې یې د نړۍ خلکو ته څرګندې کړې. د ناورین د له مینځه وړلو پر ځای یې؛ د ډار، ویرې او غیر مستقیم ذهني اخطارونو په لټه کې وو؛ او د صحي، سیاسي او اقتصادي پلوه دې سازمانونو خپل کار په سمه توګه سرته ورساوه. نړیوال کیدل یوه اړینه موضوع ده او ډېرو توضیحاتو ته اړتیا لري چې درنو لوستونکو ته به یې په اړه مالومات وړاندې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نړیوال کېدلو ساده تعریف:

نړیوال کېدل یا ګلوبلایزیشن ګړندي کول د فعالیتونو په ټوله نړۍ کې او تبادلـه د اجناسو، خدماتو، پانګې، ټکنالوجۍ او بېلا بېلو فرهنګونو په مانـا ده. د نړیـوال کېدلو له اغیزو څخه د اړیکو زیاتوالی د بیلابیلو سیمو او خلکو تر مینځ پـه نـړۍ کې دی.

## نړیوال کېدلو تعریف د روغتیا نړیوال سازمان لخوا:

روغتیا نړیوال سـازمان - نړیـوال کېـدل یـې د اړیکـو زیـاتوالی او د خلکـو او هیوادونو اړیکې یو له بل سره یې تعریف کړی دی. دا تعریف دوو عناصر ته اشاره کوي: اول - د نړیوالو سرحدونو پرانیستې پاتې کیدل د اجناسو، خدماتو، پـانګو، خلکو او د هغوی د نظرونو لپاره. دویم - د سازمانونو او پالیسو بدلون پـه ملـي او بین المللي سطحه ترڅو په لومړي عنصر کې د یادو شویو شـیانو د تبـادلې لپـاره آسانتیاوې برابرې شي.

## نړیوال کېدنه په اقتصاد کې څه شی ده؟

نړیوال اقتصاد اړین پاتې کیدل د توکو او خدماتو د زیـاتوالي پـه پایلـه کـې، د نړیوالې پانګو لیږد د هیوادونو تر مینـځ او د ټکنـالوژۍ چټـک او لـوی پرمختـګ کولای شي نړېوال کېدل په اقتصاد کې تعریف شي. نړېوال کېدل په اقتصـاد کـې دوو ټکو ته اشاره کوي: اول: دا چې دوه اړخیزه او نړیوال بازارونه د سوداګرۍ لپاره د سیمو او هیوادونو لپاره شتون لري. دویم: دا چې د مالوماتو لیږد د سیمو او بـېلا بېلو هیوادونو تر مینځ د ډول ډول فعالیتونو او کارونو لپاره سرته رسیږي.

## نړیوال کېدنه په جغرافیا کې څه شی ده؟

نړیوال کېدل په جغرافیا کې د ټولنو او نـړۍ هیوادونـو تـر مینـځ اړیکـو تـه لـه اقتصادي، اجتماعي، فرهنګي، ټکنالوژیکي او سازماني پلوه اشاره کـوي. دا ډول پروسې او بیلا بیلې تبادلې (راکړې ورکړې) د سیمو او نړۍ هیوادونو ترمینځ مـخ په زیاتېدو دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نړیوال کېدلو تاریخچه (لومړنی مهال):

یو شمیر خلک پدې آند دي چې نړیوال کېدل کله چې انسان د طبعیت له ژوند څخه ښارونو لوري ته یې مخه کړه دا پدیده را مینځ ته شوې ده. د نړیوال کېدلو نظریې پیل نږدې ۶۰ زره کاله مخکې یاد شوی دی او پدې نظر دي چې د وخت په تېرېدو سره د سوداګریو، معاملاتو او فرهنګي تبادلې (راکړې ورکړې) سره دا پدیده را مینځ ته شوې ده. سمه تاریخچه د نړیوال کېدلو نظریې د شلمې (۲۰) پیړۍ دویمه نیمایي ښودل شوې ده. د ۱۹۵۰م کال څخه وروسته نړیوال کېدل د هیوادونو ترمینځ په بېلا بېلو برخو کې پیل شو. کله چې انټرنیټ په ۱۹۸۹م کال اختراع شو د دې نیتې څخه وروسته نړیوال کېدل او ګلوبلایزیشن د انټرنیټ او ټکنالوجۍ په واسطه ډیر ژر زیاتوالی یې وموند.

## نړیوال کېدلو بېلابېل ډولونه:

د نړیوال کېدلو یا ګلوبلایزیشن بېلا بېل ډولونه شتون لري چې په لاندې ډول بیانیږي:

### اقتصادي نړیوال کېدنه:

نړیوال کېدل په اقتصاد کې د سوداګریزو سیسټمونو پرمختګ د شرکتونو او نادولتي سازمانونو او ادارو ترمینځ د ملتونو څخه په لوړه درجه په بېلا بېلو سیمو او هیوادونو کې کولای شي وشمېرل شي.

### مالي نړیوال کېدنه:

نړیوال مالي سیسټم را مینځ ته کول د بین المللي اسعارو د تبادلې لپاره او د پیسو سیسټم کولای شي مالي نړیوال کېدنه وشمېرل شي. د بېلګې په توګه بازارونه یا د سهامو مارکیټونه د مالي نړیوال کېدلو بیلګه کیدلای شي. کله چې د یو هیواد بازار یا د سهامو مارکیټ خرابیږي د نورو هیوادونو په بازارونو او د سهامو په مارکیټونو او په نړیوال اقتصاد هم اغیزه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فرهنګي نړیوال کېدنه:

د فرهنګونو یو ځای کېدل، اعتقادونه، باورونه، رواجونه او عادتونه د هیوادونو او بېلابېلو سیمو ترمینځ د یو نړیوال فرهنګ په توګه او د یو خاص فرهنګ له مینځه تلل په یو هیواد کې یا په یوه سیمه کې کولای شي د فرهنګي نړیوال کېدنې په توګه وشمېرل شي.

## سیاسي نړیوال کېدنه:

د بین المللي سازمانونو را مینځ ته کول او پرمختګ لکه د روغتیا نړیوال سازمان (WHO)، ملل متحد (UN) او نادولتي سازمانونه - اداري (NGOs) کولای شي سیاسي نړیوال کېدنه وشمېرل شي. یاد شوي سازمانونه او اداري په سیاسي او بین المللي پرېکړو کې ونډه لري، خو له بده مرغه ډېری وخت یوې خوا ته او د یو هیواد په ګټه یا د یوې خاصې ډلې لپاره کار کوي. د بیلګې په توګه د کوید-۱۹ کرونا ویروس په ناورین کې د یوې خاصې ډلې د موخو د پلي کولو لپاره یې په ټولو هیوادونو او خلکو لپاره یې ونډه درلوده.

## ټولنیزه نړیوال کېدنه:

د مالوماتو لیږد نږدې ریښتوني وخت سره، د پېښو او پاېلو اړیکه او لیږدول کولای شي د ټولنیزې نړیوال کېدنې په توګه شمېرل کېدای شي. د خلکو تلل او سفرکول بېلابېلو ټولنو ته هم د ټولنیزې نړیوال کېدنې په توګه هم شمېرل کیږي.

## ټکنالوژیکي نړیوال کېدنه:

د ډیجیټلي او ټکنالوژیکي نړۍ پدیدې لکه فیسبوک، انسټاګرام، اسکایپ او یوټیوب چې میلیونونه کسان یې د نړۍ په بېلابېلو سیمو او ځایونو کې سره نښلولې دي، چې دا ټکنالوژیکي نړیوال کېدنه شمېرل کېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جغرافیایي نړیوال کېدنه:

د اجناسو او ډول ډول شیانو لیږد رالیږد د نړۍ په بیلابیلو سیمو کې، د آسانتیا را مینځ ته کول په ځمکني او هوایي لیږد رالیږد کې او د خلکو سفر کـول پـه ځینـې هیوادونو کې بې له ویزې څخه - جغرافیایي نړېوال کېدنه شمیرل کیږي.

## اکولوژیکي یا طبیعي نړیوال کېدنه:

د ځمکې سیاره د داسې یوې پدېدې په توګه ګڼل چې ټولو نړېوالو او ټولو خلکو پورې اړه لري. د چاپېریال څخه ساتنه، د هوا د ککړتیا څخه مخنیوی، د ځنګلونو او شنو ځایونو څخه ساتنه او د ځاروېو د نسلونو له مینځـه تللـو څخـه مخنیـوی کول اکولوژیکي یا طبیعي نړېوال کېدنه شمیرل کیږي.

## د نړیوال کیدلو یا ګلوبلایزیشن ګټې:



نړېوال کېدل یو شمیر ګټې او مثبت اړخونه لري؛ د مثال په توګه د سوداګرۍ په برخه کې ، اقتصادي، فرهنګي او مالي راکړې ورکړې د سـیمو او نـړۍ هیوادونـو ترمینځ د نړېوال کېدلو مثبتې برخې شمیرل کیږي. د نړېوال کېدلو ښـکاره اغیـزې په نړېوال اقتصاد کې، د سوداګریو زیاتوالی او په اقتصادي او مالي راکـړو ورکـړو کې څرګندیږي. په ۱۹۷۰م کال کې د آزاد بازار نظریه په بېلابېلو سوداګریو کـې را مینځ ته شوه، ډیرو هیوادونو او سیمو ورڅخه ګټه پورته کړله. چټکې سـوداګریزې راکړې ورکړې چې د اقتصادي پرمختګ لامل شـوی دی، د ډول ډول ټکنـالوژیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړول او په لاره اچول چې په کارونو کې د آسانتیا لامل شـوی دی، د مالومـاتو لیږد او خپرول په چټکه توګه د نړۍ له یوې سیمې څخه د نړۍ بلې سـیمې تـه دا ټول د نړېوال کېدلو یا ګلوبلایزیشن ګټې او مثبت اړخونه دي. د خلکو خبرېدل د رواجونو، عادتونو او یو د بل له فرهنګونو څخه په نړۍ کې؛ او د خلکو سفر کـول د نړۍ هیوادونو او سیمو ته دا ټول هم د نړېوال کېدلو په ګټـو او مثبتـو برخـو کـې شمېرل کیږي.

## د نړیوال کیدلو یا ګلوبلایزیشن نواقص او منفي اغیزې:




نیت او غوښتنه په لومړیو کې د موخو او نظریاتو (ایډیاوو) څخه د ټـولې نـړۍ ښه کېدل، خېر او ښه والی وي خو وروسته بیا ډېری هیوادونه، دلـې او سـازمانونه او اداري ټول شیان ځانته غواړي. د هر څه نیول، مالکیت او کنټرول یوازې ځانتـه غواړي. د نړېوال کېدلو نظریه که څه هم ګټې او مثبت اړخونه لـري خـو لـه هغـو څخه سترګې پټې شوي دي؛ د منفي اړخونو څخه یې یو شـمیر هیوادونـه، دلـې، سازمانونه او اداري ګټه پورته کوي او ترې استفاده کوي. ډېری هیوادونو د نړېـوال کېدلو د نظریې د عملي کېدلو یا ګلوبلایزیشن له امله یې خپل خـاص فرهنګونـه له لاسه ورکړي دي، مالي او اقتصادي خپلواکۍ (آزادي) یې له لاسـه ورکـړې ده، ځواکمن اقتصادي هیوادونه د اقتصادي پلوه کمزوره هیوادونو اقتصاد یې پـه لاس کې نیولی دی؛ کولای شي دولتونه او خـــلک یـې تـر ولکـې او کنټـرول لانـدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



راولـي. پـانګې او شـتمنۍ پـه ناعادلانـه او نـا برابـره توګـه د نړېـوال کېـدلو یـا ګلوبلایزیشن نظریې د عملي کېدلو په پایله کې دوام لري. د نړېوال کېدلو له امله د ۱۹۸۹ او ۱۹۹۰م کلونو څخه تر اوسـه (پـه وروسـتیو ۴۰ کلونـو کـې) ځینـې هیوادونه د اقتصادي پلوه آسمان ته پورته شوي دي او ځیني هیوادونه د اقتصـادي پلوه د ځمکې تل ته ننوتي دي. د نړۍ هیوادونه د نړېـوال کېـدلو پـه پایلـه کـې د اقتصادي پلوه په درېو برخو وېشل شوي دي: لومړی درجه هیوادونه، دویمه درجه هیوادونه او دریمه درجه هیوادونه یا درېمه نړۍ، چې په ټولییزه توګه درېمه درجـه هیوادونه یا درېمه نړۍ لدې څخه ډېر زیات اغیزمن شوي دي او مالي، اقتصادي، سیاسي او فرهنګي خپلواکۍ (آزادي) یې پکې له لاسه ورکـړي دي. د ښـو بېلګـو څخه یې زمونږ خپل هیواد افغانستان دی. د نړېوال کېدلو د نورو نواقصو څخـه دا دي چې لوی نړېوال شرکتونه کوچني او متوسط شرکتونه له مینځه وړي او یـوازې هغوی خدمات او تولیدات وړانـدې کـوي. پـه یـوه څېړنـه کـې چـې د اوکسـفام (Oxfam) سازمان له خوا شوې ده نږدې (۸۲٪) سلنه پانګه او شتمني د خلکـو لویو شرکتونو او (۱٪) سلنه خلکو ته ورځي. د چاپېریال ککړتیا د وسـایلو او ډول ډول وسلو پواسطه په بېلابېلو هیوادونو کې چې په نـورو هیوادونـو اغېـزه کـوي د نړېوال کېدلو او ګلوبلایزیشن له نواقصو څخه دي.[1] د کوېډ-۱۹ کرونا ویروس په لاره اچولو او ناورین کې ښکېلو هیوادونو او سازمانونو او ادارو د نړېـــوال کېدلو یا ګلـوبلایزیشـــن له نظـــریې د دغـــو ســـازمـــــــانونو په مرســـــته لکـه د روغـــــتیا نړېـوال ســـــــــازمان (WHO)، ملل متحـــــــــد (UN) او

---

۱- درانه لوستونکي کیدای شي فکر وکړي چې ولې؟ دومره مالومات د نړېوال کېدلو په اړه ورکړل شوي دي، ځکه چې دا ډول نظریې کلونه مخکې را مینځ شوي دي او مونږ د افغانستان خلک ترې سم خبر نه یو، کله چې د کویډ-۱۹ کرونا ویروس په څېر پېښې را مینځ ته کیږي ټول لاس او پښې کیږو، هر څوک چې هر څه وایي د هغه پسې ځو. کله چې خبر واوسو دا کار نه کوو او خپله ځانونو ته پریکړې کولای شو.د نړېوال کېدلو (Globalization) نظریې د کویډ-۱۹ کرونا ویروس سره یې اړیکه درلودله او اړینه وه چې په اړه یې ډېر مالومات تاسو وړاندې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



[1]بېلا بېلو رسنیو (Mainstream Media) څخه يې د خپلو بدو او شومو موخو د لاسته راوړلو لپاره يې ورڅخه ښه استفاده وکړه.

ARSN

۱- بېلا بېلې رسنۍ (Mainstream Media): په دې اصطلاح کې ټولې رسنۍ او ټلویزیوني شبکې، راډیوګانې، ویب پاڼې، رسنۍ او ټولنیزې شبکې پکې شاملېږي. بېلا بېلو رسنیو د کویډ-۱۹ کرونا ویروس په تبلیغ او ناورین کې او د خلکو د مغزونو په پروګرامولو کې هم لویه ونډه درلودله او اوس مهال دا ونډه لري.


(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورم څپرکی

## د نړیوال بحران موخه د کویډ-۱۹ کرونا ویروس په را مینځ ته کولو کې

### د نړۍ نفوس کمولو نظریه یا ډیپاپولیشن - (Depopulation):

د کویډ-۱۹ کرونا ویروس جوړول او په لاره اچول د نړۍ نفوس کمولو یا ډیپاپولیشن - (Depopulation) د نظریې یوه برخه ده. د نړۍ نفوس کمولو نظریه څو پیړۍ مخکې را مینځ ته شوې ده، د دې نظریې د عملي کولو لارې ډیرې زیاتې ښودل شوي دي: چې یوه یې د ساري ناروغیو جوړول او په لاره اچول په بیولوژیکي توګه په لابراتوارونو کې د انسان په لاس ده. یو شمیر هیوادونه، سازمانونه او خلک په عملي توګه د دې نظریې د پلي کولو لپاره کار کوي چې ښه بېلګه یې د کوید-۱۹ کرونا ویروس دی. په آمریکا کې د دې نظریې د عملي کولو لپاره څرګندې لارې چارې، پوهنتونونه او سازمانونه شتون






(c) ketabton.com: The Digital Library



لري. ارېنه ده چې درانـه لوسـتونکي د دې نظریـې د تـاریخچې، خلکـو او هغـو سازمانونو په اړه چې د دې نظریې په عملي کولو کې شامل دي پـوه شـي. نـږدې (۲۴۰۰) کاله مخکې په پخواني یونان کې افلاطون د نړۍ **نفوس د کنټـرول** پـه اړه خبرې وکړې، ارسطو د نړۍ **نفوس د کنټرول** لپاره په نطفـه کـې د ماشـوم لـه مینځه وړل (سقط کول) یې نظـر ورکـړ، پـه ۱۷۹۸م کـال کـې د نـړۍ **نفـوس د کنټرول** د بنسټ په اړه یـوه مقالـه ولیکـل شـوه، د تومـاس ملتـوس ( Thomas Malthus)په نوم د یو سړي پواسطه خپره شوه، پدې مقاله کې دې سړي ویلي وو چې د نړۍ **نفوس د کنټرول** لپـاره نـاروغۍ پـه لاره اچـول، جګـړې، ناورینونـه







(بحرانونه)، قحطې، ولګې او نسل وژنې ترسره شي ترڅو د انسانانو د مړینې کچه زیاته شي او هغه پدې باور وو چې بدمرغۍ او انساني نـاورین د نـړۍ **نفـوس د کنټرول** حل لاره ده. په ۱۸۵۹م کال کې چارلز ډاروین د نسل او نژاد پیدا کېدو په اړه یې کتاب خپور کړ هغه هم د نړۍ **نفوس د کنټرول** په اړه پخپل کتاب کې یې ورته اشاره کړې وه. په ۱۸۸۳م کال کې د ډارویـن د تـره (کاکـا) زوی د فرانسـس ګالټون په نوم یو کتاب د نژاد جوړونې، نسل او نژاد په اړه یې خپـور کـړ او هغـه د نسل او نژاد کنټرول اصـطلاح یـې د یوجنیـک (eugenic) پـه نـوم یـاده کـړه. د یوجنیک (eugenic) کلیمه د یـوجنیس (eugenes) اصـطلاح څخـه اخیسـتل شوې ده او د نرېوال نسل او نژاد یا د نړېوال پیداښت پـه مانـا ده. د شـلمې پیـړۍ (۲۰) په لومړیو کې د یوجنیک نظریه په پوهنتونو کـې پـه یـو اکاډمیـک نظـم او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیسیپلین باندې بدله شوه، سازمانونه د دې نظریې د پلي کولو لپاره جوړ شول او پانګه اچوونې ترسره شوې چې دا نظریه نړیوال ملاتړ پیدا کړي. څو انسټیټیوټونه د یوجنیک نظریې د عملي کولو لپاره را مینځ ته شول او د انساني نسل او نژاد په اړه یې بیلابیلې حیرانوونکې نظریې یې وړاندې کړې. پدې انسټیټیوټونو کې دا نظریه چې د انسانانو نسل او نژاد یو شان دی رد شوه او نژادي تعصب یې د انسانانو ترمینځ درس ورکاوه او د نژادي تعصب او ضد د انسانانو ترمینځ نظریه یې را مینځ ته کړه. پلنډ پَرینټ




هوډ - (Planned Parenthood) یا پلان شوي والدین سازمان د مارګاریټ سانګر په نوم د یوې ښځې پواسطه چې په کلکه توګه د یوجنیک نظریې طرفداره وه جوړ شو. د آی بي ایم (IBM) شرکت رئیس توماس جې واټسن ( Thomas J. Watson) یو شرکت د واټسن سوداګریز ماشینونه ( Watson Business Machine) په نوم یې په پولنډ کې را مینځ ته کړ؛ تر څو د نازیانو سره په دویمه نړیواله جګړه کې مرسته وکړي. په ټوله دویمه نړیواله جګړه کې د دې شرکت سوداګري او د دې شرکت مرسته د هټلر او نازیانو سره یې دوام درلود او د آی بي ایم شرکت په واسطه د جګړې عملیات له نیویارک څخه اداره کېدل. د نورنبرګ په یوې محکمې کې یو




شمیر نازیانو وویل چې د یوجنیک پروګرام (نسل وژنه، د انسانانو وژل او د نړۍ نفوس کنټرول) د آمریکا د سترې محکمې پواسطه د دویمې نړیوالې جګړې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهال د آمریکا لخوا په لاره اچول شوی وو. نازیان او هټلر په دویمه نړیواله جګړه کې جنګي جنایتکاران وپیژندل شول، خو د آی بي ایم (IBM) شرکت او د هغه مالک توماس جې واټسن په مقابل کې هیڅ کار ترسره نشو. آی بي ایم شرکت (IBM) په یو نړیوال شرکت بدل شو او توماس جې واټسن دا شرکت یې خپل ځوی د ټام واټسن (Tom Watson) په نوم ته وسپاره. د بیل ګیټس ( Bill Gates) پلار په پلان شوي والدین (Planned Parenthood) شرکت کې یې




کار کاوه او د هغه شرکت د بورډ پیاوړی غړی وو. د بیل ګیټس ( Bill Gates) مور په آي بي ایم شرکت کې یې کار کاوه او د هغه شرکت د بورډ پیاوړې غړې وه. بیل ګیټس د آی بی ایم شرکت سره شریک شو او د مایکروسافټ (Microsoft) شرکت یې جوړ کړ. بې له هیڅ ډول طبي تجربې بیل ګیټس د ډیر کلک او له فشارَ ډک د جبري واکسین او د نړۍ نفوس د کنټرول پلوي (طرفدار) دی. آیا دا ټولې پېښې تصادفي




دي؟ د بیل ګیټس او د هغه د میرمن سازمان ( Bill and Melinda Gates Foundation) د روغتیا نړیوال سازمان ( World Health Organization = WHO)، ملل متحد (United Nations = UN)، آمریکا روغتیایي ملي انسټیټیوټ ( National Institute of Health = NIH) او د ناروغیو د کنټرول

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرکـز (Center for Disease Control = CDC) مصـروفونه او مـالي منـابع برابرې او پوره کوي. بیل ګیټس د ټولو خلکو د قرنطین کېدلو په وخت کې په ټوله نړۍ کې او د کوید-۱۹ کرونا ویروس د ناورین په وخت کې یې ویل: تر څو چې د نړۍ ټولو خلکو ته واکسین ونه شي، ګڼه ګونه او یو ځای راټولېدل د نړۍ د ټولـو خلکو امکان نلري. د کوید-۱۹ کرونا ویروس د آمریکا د رئیس جمهـور ځـواب ویوونکی ټیم د بیل ګیټس جبري واکسین اجنډا عملي کوي چې په سر کـې یـې




ډاکټـر انتـوني فـاوچي ځـای لـري او همدارنګه ډاکټر فاوچي د بیل ګیټس او د هغه د میرمنې د سازمان ریاست هـم په غاړه لري. د ۲۰۱۷م کال د جنـورۍ په میاشت کې ډاکټر[1] انتونی فـاوچی د جورج ټاون په پوهنتون کې په خپلې یوې[2] وینا کې وویل چې د آمریکا پـه آینـده ریاست جمهورۍ کې (ټرمپ په ریاست جمهـورۍ کـې) بـه یـوه سـاري، ټولـه نیوونکې او نړېواله ناروغي شتون ولري. د ملاریا ضد او د ایډز ضد سـازمانونه د بیل ګیټس سازمان په واسطه جوړ شوي دي، دا سـازمانونه پـه میلیونونـو ډالـر او

[1] دا سړی (انتوني فاوچي) په ۲۰۱۷م کال د کوید-۱۹ کرونا ویروس له خپرېدو خبر وو. په دوه حالتونو کې سړی کولای شي د راتلونکو پېښو په اړه خبر وي، اول دا چې غیبي علم څوک ولري. دویم دا چې هر څه یې له مخکې پلان کړي وي. چې دویم حالت یې سم دی هر څه له مخکې پدې توګه؛ سازمانونه، ډلې او خلک یا افراد جوړوي او آماده کوي یې د نړۍ ټولو هیوادونو په خلکو یې له هرې لارې چې کیږي، غواړي او که نه یې غواړي داسې پېښې پرې تحمیلوي.

[2] درانه لوستونکي کولای شي پخپله دا ویډیو چې دې سړي (انتوني فاوچي) په ۲۰۱۷م کال کې د کوید-۱۹ کرونا ویروس په اړه یې پکې خبرې کړې وي په یوټیوب کې یې ولټوي پخپلو سترګو یې وګوري او خبرې یې واوري چې څه وایي؟ تر اوسه دا ویډیو شته ده په یوټیوب کې، پاکه شوې نده خو ډیرې ویډیوګانې چې د کوید-۱۹ کرونا ویروس ربښتیاوې یې څرګنده کړې وې له یوټیوب څخه پاکې شوي دي یا له مینځه یې وړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library






پانګې په ناسمې استفادې تورن دي. د ۲۰۱۹م کال په اکتوبر میاشت کې د کوید-۱۹ کرونا ویروس سره مشابه یو پروګرام یې د دوه - او - یو (2O1) په نوم د بیل ګیټس پواسطه په لاره واچول شو او سپانسر شو چې پدې پروګرام کې وړاندوېونه شوي وه چې نږدې (۶۵) میلیونه کسان د کوید-۱۹ کرونا ویروس له امله له مینځه ځي او مړه کیږي. د ۲۰۱۹م کال په [1]نوامبر کې په پیربرایټ انسټیټیوټ کې (Pirbright Institute) کې چې


(19) European Patent Office
EP 3 172 319 B1 (11)

(12) EUROPEAN PATENT SPECIFICATION

(45) Date of publication and mention of the grant of the patent: 20.11.2019 Bulletin 2019/47

(51) Int Cl.: C12N 7/04 (2006.01) C07K 14/165 (2006.01) A61K 39/00 (2006.01) A61K 39/215 (2006.01)

(21) Application number: 15750093.5

(86) International application number: PCT/GB2015/052124

(22) Date of filing: 23.07.2015

(87) International publication number: WO 2016/012793 (28.01.2016 Gazette 2016/04)

(54) CORONAVIRUS
CORONAVIRUS
CORONAVIRUS

(84) Designated Contracting States: AL AT BE BG CH CY CZ DE DK EE ES FI FR GB GR HR HU IE IS IT LI LT LU LV MC MK MT NL NO

• V. D. MENAC[illegible] Restoration of Severe Acute Respiratory Syndrome Coronavirus Mutant Lacking



د بیل ګیټس سازمان یې مالي ملاتړ په غاړه لري، یو واکسین یې د (EP 3 172 319 B1) کود سره جوړ کړ او دې انسټیټیوټ یاده کړې وه چې دا واکسین د کرونا ویروس د مخنیوي او تداوۍ لپاره دی او دا واکسین به د انسانانو د تداوۍ او اعلاج لپاره به د استفادې (کارونې) وړ وګرځي. ډاکټر انتوني فاوچي د کوید-۱۹ کرونا ویروس د ناورین په وخت کې ویل: چې د کوید-۱۹ کرونا ویروس کال په کال به را ګرځي او یوازینی د حل لاره یو نوی واکسین به وي. په آسټرالیا کې د هغه هیواد صدراعظم خپلو خلکو ته ویل: چې د قرنطین پای ته رسولو او د خلکو

---

[1] په ۲۰۱۹م کال د ډیسامبر په میاشت کې وویل شو چې د کوید-۱۹ کرونا ویروس په چین کې خپور شوی دی خو واکسین یې یو میاشت مخکې (د ۲۰۱۹م کال په نوامبر میاشت کې) جوړ شوی وو. اوس مهال ویل کیږي چې په ۲۰۲۱م کال کې د کوید-۱۹ کرونا ویروس واکسین به بازار ته راووځي. په اروپایي هیوادونو، آمریکا او هند کې د کوید-۱۹ کرونا ویروس بازار لا تر اوسه هم تود دی. زمونږ ګران هیواد افغانستان کې له نیکمرغه زمونږ زړور خلک په عملي توګه پوه شول چې د کوید-۱۹ کرونا ویروس ډیر تبلیغات او وېره د ویروس پر ځای شتون لري. رسنۍ، د عامې روغتیا وزارت او ځینې نورې اداري ترې ګټه پورته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوتل د کورونو څخه؛ استفاده او د واکسین منل یوازینۍ د حل لاره ده. پـه ملـل متحد (UN) کې یو ساینس پوه وویل: چې د یـو شـمیر خلکـو د مړینـې لامـل واکسینونه دي او ملل متحد باید د دې مړینې په اړه وضاحت ورکړي. تر اوسه پـه علمي بڼه څرګنده شـوې نـده چـې یـوازینۍ د حـل لاره د کویـډ-۱۹ کرونا ویروس د مخنیوۍ او تـداوۍ واکسین دی.





## د پنځم نسل ټکنالوژۍ (5G) ونډه په بحران کې:



د (5G) ټکنالوجي یا پنځم نسل ټکنالوجي د انسانانو د بدن دفاعي سیستم ته زیان رسوونکي ده او د انسانانو د دفاعي سیستم د کمزوري کېدلو لامل کیږي. ډیرې څیړنې پدې اړه طبي ډاکټرانو او د مالوماتي ټکنالوجۍ کارپوهانو ترسره کړي دي او څرګنده شوې ده چې د پنځم نسل تکنالوجۍ الکترومقناطیسي موجونه (څپې) د دویم نسل، دریم نسل او څلورم نسل په پرتله څو ځله زیاتې زیان رسوونکې دي. د پنځم نسل تکنالوجۍ په پلي کولو کې ډیرو زیاتو الکترونیکي وسایلو او آنټنونو ته اړتیا ده؛ د آنټنونو او وسایلو شبکه د پنځم نسل تکنالوجۍ بڼه جوړوي. د کویډ-۱۹ کرونا ویروس د خپرېدو پر مهال زیات شمیر طبي ډاکټرانو یادَونه وکړه چې د پنځم نسل ټکنالوجۍ پلي کول د انسانانو د دفاعي سیستم د کمزوري کېدلو لامل کیږي او د

دي ټکنالوجۍ پلي کول وځنډول شي یا ودرول شي، خو بېلابېلو رسنیو کې دا خبرې یې داسې تعبیر او ځای پرځای کړې چې د پنځم نسل ټکنالوجي په مستقیمه توګه د کوید-۱۹ کرونا ویروس د اخته کېدو لامل کیږي پداسې حال کې چې هغوی هیڅکله داسې ندي ویلي چې د پنځم نسل ټکنالوجي د کوید-۱۹ کرونا ویروس د اخته کېدو سبب کیږي. پنځم نسل ټکنالوجي د کوید-۱۹ کرونا ویروس ناورین سره مستقیمه اړیکه لري ځکه د پټو موخو او اجنډاوو څخه د کوید-۱۹ کرونا ویروس تر شا دا ده چې د نړۍ ټول خلک یو ډول تر څارنې او تعقیب لاندې وي او پلمه غواړي چې د انسانانو په سر کې الکټرونیکي چیپ کارټونه ونښلوي او د کوید-۱۹ کرونا ویروس ضد واکسین له پلي کولو څخه وروسته د نړۍ په ټولو هیوادونو کې تر څو معلومه کړي چې کومو کسانو ته واکسین شوی دی او کومو کسانو ته واکسین ندی شوی، خو اصلي موخه یې د نړۍ د ټولو هیوادونو د خلکو څارل او کنټرول دی او دا کار د پنځم نسل ټکنالوجۍ په مرسته کولای شي ترسره یې کړي. د پنځم نسل ټکنالوجۍ پلي کول (تطبیق) لویو شرکتونو ته په میلیاردونو ډالر ګټه لري او هغوی غواړي چې هر


**Scientists warn of potential serious health effects of 5G**

**September 13, 2017**

We the undersigned, more than 180 scientists and doctors from 35 countries, recommend a moratorium on the roll-out of the fifth generation, 5G, for telecommunication until potential hazards for human health and the environment have been fully investigated by scientists independent from industry. 5G will substantially increase exposure to radiofrequency electromagnetic fields (RF-EMF) on top of the 2G, 3G, 4G, Wi-Fi, etc. for telecommunications already in place. RF-EMF has been proven to be harmful for humans and the environment.

(Note: Blue links below are references.)

5G leads to massive increase of mandatory exposure to wireless radiation

5G technology is effective only over short distance. It is poorly transmitted through solid material. Many new antennas will be required and full-scale implementation will result in antennas every 10 to 12 houses in urban areas, thus massively increasing mandatory exposure.


څومره ژر دا کار وکړي. په آمریکا، چین، انګلستان، آسټرالیا او یو شمیر اروپایي هیوادونو او یو شمیر عربي هیوادونو کې غواړي چې د پنځم نسل ټکنالوجي پلي کړي. پنځم نسل ټکنالوجي د انسان د دفاعي سیستم د کمزوري کېدلو لامل کیږي او کله چې د انسان د بدن دفاعي سیستم کمزوری وي هر ډول ویروس،

(c) ketabton.com: The Digital Library



باکټریا او ناروغي پرې اغېزه کولای شي. یو شمیر پوهان وایي چې د پنځم نسل ټکنالوجی الکټرومقناطیسي موجونه (ځپې) د سردرد، بې خوبۍ، ناسم آوازونه په غوږونو کې او د مغز د سټریا لامل کیږي. د خلکو عادي ژوند په خطر کې اچولای شي. پنځم نسل ټکنالوجي او وسایل یې [1] الکټرومقناطیسي موجونه (ځپې) (Electronic Magnetic Fields = EMFs) لري. ډیرې څیړنې چې ترسره شوي دي څرګنده شوې ده چې الکټرومقناطیسي موجونه (ځپې) (EMFs) سرطان خپرونکي (Carcinogenic) دي. په ۲۰۱۷ م کال کې نږدې ۱۸۰ تنه ساینس پوهان د ۳۵ هیوادونو څخه د پنځم نسل ټکنالوجۍ په اړه یې نظر ورکړ او یادَونه یې وکړه چې د پنځم نسل ټکنالوجي د انسانانو روغتیا ته زیان رسوونکې او چاپیریال ته هم زیان اړوي، یوازې په نږدې واټن کې ګټوره ده او د پنځم نسل ټکنالوجۍ د عملي کولو لپاره په هر ۱۰ - ۱۲ مترو واټن کې نویو آنټنونو ته اړتیا ده؛ چې پدې ډول سره د اوسیدېلو ځایونه او خپله انسانان د دې ټکنالوجۍ (پنځم نسل ټکنالوجۍ) د الکټرومقناطیسي موجونو (ځپو) لاندې راځي.

## د نړۍ په ټولو هیوادونو کې د خلکو د قرنطین کولو موخې:




د انسانانو طبیعت داسې دی چې باید په یو کار کې بوخت وي، خو د خلکو قرنطین کول د نړۍ په ټولو هیوادونو کې په همغږۍ او یو وخت کې د کوید-۱۹ کرونا ویروس په لاره اچولو او خپریدو سره ژوره اغېزه یې پرې واچوله. د تاریخ په اوږدو کې د ځمکې پر مخ داسې وضعیت پېښ شوی نه وو لکه د کوید-۱۹ کرونا

---

۱ درانه لوستونکي کولای شي د الکټرومقناطیسي موجونو (ځپو) یا EMFs په اړه په انټرنیټ کې لټون وکړي ډیر مالومات شتون لري چې پکې بیان شوي دي چې کومې ټکنالوژۍ او د هغوي الکټرومقناطیسي موجونه د انسانانو روغتیا ته زیان رسوونکي دي او د څه ډول ستونزو لامل د انسان په ژوند او چاپیریال کې کېدلای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویروس په لاره اچولو کې چې پېښ شو او په یو وخت کې یې هـر څـه ودرول او بیړنی حالت او قرنطین یې د نړۍ په ټولو هیوادونو کـې اعـلان کـړ. د کویـډ-۱۹ کرونا ویروس په لاره اچولو او خپرېدو په وخت کې د نړۍ د ټولو خلکو قـرنطین کولو سره فردي (شخصي) روغتیا - یې د هر فعالیت او کار څخـه اړینـه وګڼلـه، هوټلونه او رستورانتونه یې بند کړل، ورزشي فعالیتونـه یـې ودرول، سـوداګرۍ او سوداګریزې او مالي راکړې ورکړې یې ودرولې، تـګ او سـفر کـول یـې د نـړۍ د هیوادونو تر منځ بند کړل، مراسمو ته تلل، دیني ځایونو ته، مسجدونو او آن د الله (ج) کور (کعبې شریفې) ته تګ او د حج مراسمو ترسره کول یې هـم وځنـډول. دې ډول قرنطین او د ټولو فعالیتونو او کارونو ځنډولو سره د نړۍ د ټولو هیوادونـو خلک بلد نه وو؛ او دا کار د ژور خفګان او روحي ناروغیو، مالي سـتونزو او آن د کورنیو ستونزو لامل په ډیری هیوادونو کې وشو. یو شمیر روحي، رواني او طبـي ډاکټرانو یادَونه وکړه چې: له طبي پلوه کله چې خلک په کور کې قـرنطین شـي او هیڅ فزیکي او ورزشي فعالیت ونلري وزن یې ډیرېږي، باطني ستونزو، د خپلو او نورو د ننه عیبونو ته یې پام کیږي، د ښځې او میړه کورنی ژوند خرابوي او د یو بل کمیو او عیبونو ته یې پام کیږي او هر څوک یوازې ځان ته فکر کوي او پدې حـال کې د انسانانو دفاعي سیستم د بدن ډیر کمزوری کیږي او په ښه توګه ویروسونه او باکټریاوې جذبولای شي او د ناروغۍ او مریضۍ لامل یې کیدای شي. په ځینـو هیوادونو کې په خاصه توګه د جنوبي آمریکا هیوادونو کې یو شمیر خلکو د خپلې کورنۍ غړي یې د ژورخفګـان لـه امله ووژل. د نـړۍ د ټولـو هیوادونـو د خلکـو قرنطین کولو څخه یـې یـوه موخـه دا وه چـې د انسـانانو د بـدن دفـاعي سیسـتم کمزوری شي تر څو د کویډ-۱۹ کرونا ویروس ډیر خلک اخته کړي او لوی د دوا جوړولو شرکتونه خپل تولیدات او دواګانې ډیرې په خلکو خرڅې کړي. د فلمونو د تولید شرکتونه او د انټرنیټي خدماتو شرکتونه په ټوله نړۍ کې د خلکو د قـرنطین کولو پر مهال د نړۍ په ټولو هیوادونو کې یې غټې ګټـې ترلاسـه کـړې. د لومړنیـو توکو د تولید لویو شرکتونو او د خوراکي توکو جوړولو لویو شرکتونو هم د قـرنطین

(c) ketabton.com: The Digital Library



شخه يې په خپله ګټه استفاده وکړله. د قرنطین او کوید-۱۹ کرونا ویروس په سخت وخت کې بیل ګیټس چې د روغتیا نړیوال سازمان مالي ملاتړ، مالک او سهم لرونکی په ډیری د دوا جوړولو او واکسین جوړولو لویو شرکتونو کې دی؛ په ټول ځواک سره د نړۍ خلک یې په وېره او ډار کې اچول او ویل یې چې: یوازینۍ د حل لاره او بیرون راوتل د نړۍ د ټولو خلکو له کورونو شخه او د قرنطین دورې پای ته رسول د کوید-۱۹ کرونا ویروس پر ضد واکسین دی. یو بل کس د انتوني فاوچي په نوم هم په همدې نظر وو چې یوازینۍ د حل لاره او د فعالیتونو بیا پیلېدل او د قرنطین دورې پای ته رسېدل د کوید-۱۹ کرونا ویروس پرضد واکسین دی. دې دوه کسانو د کوید-۱۹ کرونا ویروس په جوړولو، په لاره اچولو او اجنډاوو کې لاس درلود او تل د نړۍ خلک یې په مستقیمه توګه په خپلو ټلویزیوني ناستو او بېلابېلې بیانو یوو کې او د روغتیا نړیوال سازمان په واسطه یې په ډار او وېره کې اچول. خو د نړۍ ډیری خلکو او د افغانستان زړورو خلکو ته د کوید-۱۹ کرونا ویروس پټې موخې[1] او اجنډاوې ښکاره شوې او د قرنطین دوره یې پای ته ورسوله.

## د بېلابېلو رسنیو ونډه په بحران کې:




د کوید-۱۹ کرونا ویروس د ناورین پر مهال رسنیو د نړۍ په ټولو هیوادونو کې یې لویه ونډه درلوده او اوس مهال د نړۍ په نورو هیوادونو کې تر اوسه هم رسنۍ د کوید-۱۹ کرونا ویروس د بحراني ښودلو لپاره کار کوي، خو له نیکمرغه د افغانستان خلک پوه شول چې خپله ویروس داسې له خطره ډک ندی لکه څنګه چې په رسنیو کې

[1] درانه لوستونکي کولای شي د انټرنټ په لاسرسی سره د کوید-۱۹ کرونا ویروس او د قرنطین د پټو اجنډاوو په اړه په یوټیوب کې لټون وکړي تر اوسه هم ویډیوګانې او واقعیتونه شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې ښيي. بېلابېلې رسنۍ په تبليغاتو، آوازو، د کچو خپرول او د بېلابېلو اعلانونو جوړول د کوید-۱۹ کرونا ویروس لپاره او د خلکو د ذهنونو کنټرول د نړۍ په ټولو هيوادونو کې په لويه کچه فعاليت يې سرته ورساوه. بېلابېلې رسنۍ د هغه سوداګريو څخه شمېرل کيږي چې د کوید-۱۹ کرونا ویروس له ناورين څخه يې ګټه پورته کړه او ډېرې پيسې يې ورڅخه لاسته راوړې. موخه د بېلابېلو رسنيو څخه يوازې ټلويزيونونه او راډيوګانې ندي بلکې بېلابېلې رسنۍ ( Mainstream Media) دي. په بېلابېلو رسنيو کې ټولې رسنۍ او ټلويزيوني شبکې، راډيوګانې، ورځپاڼې، مجلې، ويب پاڼې او ټولنيزې رسنۍ شامليږي. کم شمير رسنۍ او خلک سم مالومات او ربښتيا هم بيانوي خو هغه رسنۍ د مالي ستونزو سره مخوي، د هغوی مالومات له مينځه وړي، آن کله هغه کمې رسنۍ له مينځه وړي. هغه کسان چې ربښتيا بيانوي هغوی ته آوازې خپروونکي وايي؛ حقيقتونه او نظرونه چې مستند او د اسنادو سره هم بيان کړي هغو ته آوازه خپروونکې تيوريګانې وايي. مستند او د اسنادو سره حقيقتونو ته د آمريکا د استخباراتو ادارې - سي آی ای (CIA) آوازه اچوونکې تيورۍ اصطلاح يې څو لسيزې مخکې را مينځ ته کړه. هغه کسان چې حقيقتونه مستند او د اسنادو سره د بدو او شومو پروګرامونو په اړه لکه د کوید-۱۹ کرونا ویروس په لاره اچول او نورو پروګرامونو په اړه بيانوي د هغوی ويناوې او مالومات په ډېرى رسنيو کې نه خپريږي کله چې هغوی خپله يې خپروي هغه مالومات او څيړنې له مينځه وړي. هغه کم خلک چې ربښتياوې د نړۍ خلکو ته بيانوي هغوی پدې نظر ندي چې هر نظر او خبره زمونږ ومنئ بلکې هغوی په ځغرده وايي چې خپله لټون وکړئ او له ځان څخه پوښتنه وکړئ؟ د هرې موضوع له منلو مخکې چې له رسنيو يې ګورئ يا يې اورئ. کله چې په ربښتيا سره د حقيقتونو په اړه لټون وشي هر څه د بېلابېلو رسنيو او هغوی د موخو په اړه څرګنديږي او د پټو سترګو قضاوتونو او د موضوعاتو له منلو چې دا بېلابېلې رسنۍ يې خپروي مالومات او خبرتيا ورڅخه لاسته راځي. يو شمېر څيړونکي چې د نړۍ بېلابېلو موضوعاتو په اړه څيړنې ترسره کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیلابیلې رسنۍ او په خاصه توګه تولنیزې رسنۍ تر ټولو لویه وسیله د پوروپاګند (Propaganda) او د خلکو د تېرابستلو ګڼي. واک او ولکه د بېلابېلو رسنیو اوس مهال د نړۍ د هیوادونو په وضعیت اغیزناکه ده. د بېلابېلو رسنیو سوداګري یوه ځواکمنه سوداګري په نړۍ کې ده او د دې بیلابیلو رسنیو مالکان؛ افراد، سازمانونه او لوی شرکتونه دي. بېلابېلې رسنۍ د (The Big Media[1]) - ده بیګ میډیا (لویو رسنیو) په نوم هم یادېږي چې اصلي سرچینه یې آمریکا ده؛ دا رسنۍ مالومات او سرچینې لومړی د آمریکا خلکو لپاره او بیا وروسته د نړۍ نورو هیوادونو خلکو لپاره یې خپروي. ده بیګ میډیا (لویې رسنۍ) نږدې ۱۰- ۱۵ لویې رسنۍ په آمریکا کې او یو شمیر اروپایي هیوادونو لکه انګلستان او آلمان کې دي چې ټول خبرونه او د نړۍ حالات لومړی د هغوی لخوا خپرېږي او وروسته د نورو هیوادونو رسنۍ او ځایي رسنۍ سرلیکونه او خبرونه له هغوی



[1] The Big Media: (لویې رسنۍ)


د بیلابیلو او لویو رسنیو لیست په آمریکا کې اویو شمیر اروپایي هیوادونو کې په لاندې ډول دی:

BBC, CBS, CNN, Facebook, Fox, NPR, Twitter, Wall Street Journal, ABC, NBC, CNBC, MSNBC, PBS, New York Times, Washington Post, Associated Press (AP), GANNETT, United Press International (UPI).

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه را اخلي په مستقیمه توګه یا د نقل قول (د خبر لیږد) او د سرچینې په یادولو سره یې خپروي. یوازې د هغوی خبرونه او د موضوعاتو بیانوول د عامو خلکو لخوا د منلو وړ دي، یا که چیرې خپله خلک (افراد) د موضوع څېړنه وکړي او خپل ځان خبر کړي. د بېلابېلو رسنیو منتقدین پدې آند دي چې ټول خبرونه، د موضوعاتو بیان او ډیالوګونه د دې رسنیو د سیاستمدارانو او نفوذ لرونکو شتمنو کسانو په واسطه کنټرولیږي. د هغوی په اجازه مالومات د عامو خلکو لپاره خپروي. دا مخالفین بیانوي چې د رسنیو مالکان، مدیران او تولیدونکي پدې بېلابېلو رسنیو کې پریکړه کوي چې کوم مالومات عامو خلکو ته خپاره شي؟ تر څو د لیدونکو، اورېدونکو او لوستونکو پام واړوي او د هغوی ذهنونه تر کنټرول لاندې راولي. مالومات او سرچینې د نورو رسنیو بې لدې لویو رسنیو د منلو وړ نه شمیرل کیږي. لویې رسنۍ (ده بیګ میډیا) د یوې تیوري څخه د اجنډا ترتیب تیوري (The-Agenda-Setting-Theory[1]) په نوم څخه استفاده کوي. د اجنډا ترتیب تیوري د ویکي پیډیا د تعریف له مخې: هغه وړتیا او ظرفیت چې




موضوعات او مالومات عامو خلکو ته په نفوذي بڼه اړین او مهمه وښیي ویل کیږي. لویې رسنۍ او ډیری رسنۍ لدې تیوري څخه استفاده کوي. د دې تیوري

[1] درانه لوستونکي کولای د اجنډا ترتیب تیوری (The Agenda Setting Theory) او مخالفتي ژورنالیزم یا مارپیچه ژرونالیزم (Adversarial Journalism or Gotcha Journalism) په اړه په انټرنټ کې لټون وکړي او نور لا ډیر او بشپړ مالومات وګوري او ولولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وضاحت کې باید وویل شي: یو موضوع یا خبر چې څو ځله او څو واره په تکراري ډول خپور شي عام خلک فکر کوي چې مهم دی که څه مهمه وي او که نه وي؟ لدې تکتیک څخه لویې رسنۍ د خلکو پام اړولو او د ذهنونو د کنټرول لپاره ورڅخه استفاده کوي. د کوید-۱۹ کرونا ویروس د ناورین پر مهال دا تیوري مو په عمل کې د نړۍ په رسنیو کې او د افغانستان په رسنیو کې مو ولیدله او تجربه مو کړله. ده بیګ میډیا (The Big Media) له یوې بلې لارې او میتود څخه د خلکو د پام را اړولو لپاره استفاده کوي چې دا لاره یې مخالفتي ژورنالیزم یا رقابتي ژورنالیزم (Adversarial Journalism)، او یا دوراني یا مارپیچه ژورنالیزم (Gotcha Journalism) په نوم یادیږي. پدې لاره او میتود کې د مصاحبې (مرکې) په وخت کې د مصاحبې اصلي معلومې موضوع څخه بیرون وتل او یوې له شرمه ډکې موضوع ته داخلیږي؛ (مصاحبه کوونکی یا د پروګرام کوربه، د پروګرام مېلمه یا مصاحبه کېدونکی پداسې دفاعي حالت کې را نیسي چې تر څو هغه له ځان څخه دفاع وکړي او له هغه څخه داسې پوښتنې کوي چې په مستقیمه توګه ورته سپکاوی وي او یا هغه په مستقیمه توګه سپک او بې قدره کوي). په مخالفتي یا رقابتي ژورنالیزم کې په قصدي توګه هر څه د مخه تیار او آماده وي تر څو مصاحبه کېدونکی یا مېلمه د پروګرام بې اعتباره کړي یا هغه



# Gotcha journalism

From Wikipedia, the free encyclopedia

**"Gotcha journalism"** is a pejorative term used by media critics to describe interviewing methods that appear designed to entrap interviewees into making statements that are damaging or discreditable to their cause, character, integrity, or reputation.[1] The term is rooted in an assertion that the interviewer may be supporting a hidden agenda, and aims to make film or sound recordings of the interviewee which may be selectively edited, compiled, and broadcast or published in order to intentionally show the subject in an unfavorable light.[2]

The term derives from the word gotcha, a contracted form of "got you", and emerged in political journalism during the 1980s and 1990s.[3]

رسوا کړي. اوس مهال جګړه او سیالي د رښتیاوو په پوهاوي کې شتون لري. بېلابیلې رسنۍ خبرونه، وضعیت او حالات د نړۍ په خپله خوښه خلکو ته یې ښیي که سم وي که ناسم؟ هغوی ته توپیر نه کوي خو په اوږد مهاله کې به ډېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلکو ته حقیقتونه معلوم شي او دروغ او غلطۍ د بېلابېلو رسنیو به ښکاره شي. له یو کال څخه ډېر وخت په تېرېدو سره د کوید-۱۹ کرونا ویروس له ناورین څخه اوس هم د نړۍ په رسنیو کې او د افغانستان په رسنیو کې اعلانونه او تبلیغ د کوید-۱۹ کرونا ویروس لپاره دوام لري. هغو خلکو او سازمانونو چې لدې ناورین څخه یې ګټه پورته کوله او ګټه پورته کوي د خپلو شومو او بدو موخو څخه لاس اخیستونکي ندي. د کوید-۱۹ کرونا ویروس د ناورین پر مهال په افغانستان کې، یوې رسنۍ چې په افغانستان کې ډېرې پیسې لاسته راوړې وې او لدې ناورین څخه یې ډېره ګټه پورته کوله په افراطي او ډېره لویه کچه اعلانونه او تبیلیغات یې د کوید-۱۹ کرونا ویروس لپاره جوړول. یو خاص شعار یې د کوید-۱۹ کرونا ویروس لپاره جوړ کړی وو (**کرونا جدي وګڼئ!**) دا شعار او جمله به یې پداسې ځغرده او تاکید سره تلفظ کاوه لکه داسې چې وایي (**کرونا جدي وګڼئ!**). د یو کال څخه زیات وخت په تېرېدو او د کوید-۱۹ کرونا ویروس د تود بازار نه شتون سره په عجیبه توګه دا رسنۍ اوس مهال د کوید-۱۹ کرونا ویروس پر ضد خبرې کوي او وایي: د کوید-۱۹ کرونا ویروس له صحي پلوه ډېر خطرناکه ندی او ډېر جدي هم ندی؛ اوس مهال ډېرې پیسې او مالي ګټه ورته نلري د کوید-۱۹ کرونا ویروس په ضد خبرې کوي. که د دې رسنۍ په اړه مو ذهن کې پوښتنه پیدا شوې وي چې دا کومه رسنۍ ده؟ دا هغه رسنۍ ده چې په ډېر ګومان سره په افغانستان کې ډېر لیدونکي لري د دې رسنۍ نوم په **(ط)** توري یا حرف سره پیلیږي. د روغتیا نړیوال سازمان تصویري اعلانونه چې د کوید-۱۹ کرونا ویروس لپاره یې جوړ کړي دي، تر اوسه هم د افغانستان په رسنیو کې خپریږي خو له نیکمرغه د افغانستان هوښیار خلک د کوید-۱۹ کرونا ویروس په اړه په برابره کچه پوهیږي او په عملي توګه یې د خطر او نه خطر په اړه او د پټو موخو په اړه یې چې شاته شته دي پرې پوهیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نړیوال روغتیا سازمان ونډه په بحران کې:

د کوید-۱۹ کرونا ویروس ناورین کې روغتیایي بین المللي سازمانونو، داخلي روغتیایي سازمانونو د هیوادونو په کچه او دولتي روغتیایي ادارو په بیلابیلو هیوادونو کې اړینه ونډه درلودله. کچې او ډول ډول راپورونه په وېرونکې او ډیکتې شوې بڼه به لدې سازمانونو لخوا د بېلابېلو رسنیو په مرسته یې خلکو ته وړاندې کول او د خلکو تر مینځ د ډار او ویرې لامل شو. د روغتیا نړیوال سازمان، یو شمیر د واکسین جوړولو او دوا جوړولو شرکتونو او د هیوادونو روغتیا وزارتونو د کوید-۱۹ کرونا ویروس د ناورین پر مهال لویه ونډه درلودله. دې سازمانونو د کوید-۱۹ کرونا ویروس ناورین (بحران) یې د صحي پلوه ډیر لوی او له خطره ډک یې ښودِه له هغه څه نه چې په رښتیا سره وو. دلته په جلا ډول د دې سازمانونو د حقیقتونو او ونډې په اړه د کوید-۱۹ کرونا ویروس په ناورین کې به درته لا ډیر مالومات درکړل شي.

### - نړیوال روغتیا سازمان (WHO) ونډه په بحران کې:




د کوید-۱۹ کرونا ویروس په ناورین کې د روغتیا نړیوال سازمان ډیره اړینه ونډه درلودله، دا چې ونډه یې مثبته او ګټوره که منفي او پلان شوې وه؟ پدې سرلیک کې به تاسو درنو لوستونکو ته وویل شي. د تېرو سرلیکونو څخه په یو سرلیک (عنوان) کې د ډیری نړیوالو سازمانونو د بنسټ ایښودنې او مالي ملاتړ په اړه د روغتیا نړیوال سازمان په ګډون مالومات درته وړاندې شول. نړیوال روغتیا سازمان او ډیری نور سازمانونه د نړیوالو سازمانونو په نوم د دویمې نړیوالې جګړې څخه وروسته د آمریکا په واسطه او د آمریکا مالي ملاتړ سره د آمریکا په ګټه بنسټ یې کېښودل او تاسیس شول، د بیلابیلو لسیزو په اوږدو کې د بیلابیلو ناروغیو د خپرېدو پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مهال په بیلابیلو هیوادونو کې په ښکاره بڼه کار او دنده د روغتیا نړیوال سازمان دا ده چې د دې ناروغیو مخنیوي او له مینځه وړلو کې مرسته وکړي، خو د دې پر خلاف د روغتیا نړیوال سازمان په ډېر پلان شوي او ډیکټې شوي شکل عمل کوي، ځکه چې مالي ملاتړ یې د آمریکا د دولت او د مایکروسافټ شرکت د مالک[1](بیل ګیټس) په لاس کې دی. د روغتیا نړیوال سازمان د لویو اقتصادي سازمانونو او د واکسین جوړولو او دوا جوړولو د شرکتونو په ګټه کار او عمل کوي. کیدای شي په ذهن کې مو دا پوښتنه پیدا شي چې ولې؟ د دې په ځواب کې باید یوه بله پوښتنه وشي بیل ګیټس چې د روغتیا نړیوال سازمان مالي ملاتړ له ځان سره لري ولې تل د واکسین په اړه خبرې کوي؟ په ۲۰۱۱م کال کې د ساري (ټول نیوونکو) ناروغیو او واکسین په اړه یې خبرې کړې وې، په ۲۰۱۵م کال کې بیاځل هغه د ساري ناروغیو او واکسین په اړه یې خبرې وکړې. بیا یو څو پوښتنې باید وشي: آیا بیل ګیټس ډاکټر دی؟ آیا هغه صحي کارپوه او متخصص دی؟ نه. نو ولې تل د ساري ناروغیو او واکسین په اړه د نړۍ د ټولو خلکو لپاره خبرې کوي؟ په مطلب باندې هرومرو پوه شوي یاست؛ ځکه بیل ګیټس د ډېرى دوا جوړولو او واکسین جوړولو شرکتونو مالک او سهم لرونکی دی. د دې سازمانونو په اړه به درته په راتلونکو سرلیکونو کې مالومات درکړل شي. څو لسیزې مخکې نړۍ په بیلابیلو هیوادونو کې د پولیو ناروغۍ د خپرېدو په وخت کې د روغتیا نړیوال سازمان د افرادو، واکسین او دوا جوړولو شرکتونو او د آمریکا دولت په ګټه یې عمل وکړ او هغوی ته یې په ملیاردونو ډالر یا هم تریلیونونو ډالر ګټه په وخت سره ورسوله. واکسینونه چې د ناروغیو لپاره جوړېږي د صحي پلوه باید وخت، ګټورتوب او جانبي عوارض یې باید په پام کې ونیول شي خو د روغتیا نړیوال سازمان دا شرایط په پام کې نه نیسي کله چې د مالي ملاتړ کوونکو لخوا یې ډیکټې شي یوازې د هغوی له اوامرو څخه پیروي کوي. د کویډ-۱۹ کرونا ویروس ناورین پر مهال مونږ او تاسو ولیدل چې پروګرامونه او آن د روغتیا

---

۱- د دې کتاب هوښیار لوستونکي کولای شي د لا ډېرو مالوماتو لپاره په انټرنټ کې د بیل ګیټس د مرکو (مصاحبو) په اړه لټون وکړي او هغه خبرې یې چې د ساري ناروغیو او واکسینونو په اړه یې کړي دي ویې ګورئ او ویې لولئ، تر څو ښه پوه شئ او خبر شئ. د دې کتاب په مأخذونو کې د دې ویډیو لینک شته دی کولای ورته لاړ شئ او خپله دا مالومات وګورئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړیوال سازمان رئیس به چې خبرې کولې له مخکې آماده شوې او د نورو په امر به وې، د خبرو په وخت کې معلومېده چې کومې خبرې کوي خپلې يې ندي د نورو په امر او ډیکټې شوې خبرې به وې. د کوید-۱۹ کرونا ویروس د ناورین پر مهال د پوهانو، روغتیایي کارپوهانو او ربښتونې ډاکټرانو چې سمې خبرې يې کولې د هغوی خبرې به د منلو وړ نه وې د بیلابیلو رسنیو له لوري به نه خپرېدې او یا هم که خپرې به شوې په ناسم تعبیر او مانا سره به خپرېدلې ځکه هغوی د روغتیا نړیوال سازمان په کړنلارو او پلانونو کې شامل نه ول. د کوید-۱۹ کرونا ویروس ناورین پر مهال یو شمیر ډاکټرانو او طبي متخصصانو وویل چې هایډروکسي کلوروکین او زینک ګولۍ د کوید-۱۹ کرونا ویروس د اخته کسانو د ښه کېدلو لپاره ښې دي، خو د روغتیا نړیوال سازمان له لوري ژر دا خبرې رد شوې ځکه د دوا جوړولو او واکسین جوړولو شرکتونو په پلانونو او پروګرامونو کې دا شامل نه وو. په ډیری د نړۍ هیوادونو او افغانستان کې دا څرګنده شوه چې د کوید-۱۹ کرونا ویروس ټسټ (آزمایښت) وسیلې (ماشینونه) چې د روغتیا نړیوال سازمان له لوري هیوادونو ته ورکړل شوي وو په هغو کې له مخکې د کوید-۱۹ کرونا ویروس پکې شتون يې درلود او کله به چې څوک پرې اخته شو ژوندی به نه پاتې کېدِه. روغتیا نړیوال سازمان د کوید-۱۹ کرونا ویروس په ناورین کې اعلانونه، تصویري او صوتي اعلانونه يې جوړول او بیلابیلو رسنیو ته به يې ورکول تر څو د نړۍ خلک ډیر په وېره او ډار کې واچوي تر څو اشخاص، سازمانونه او هغه هیوادونه چې دا ډول پلانونه، اجنډاوې او موخې يې درلودلې ژر ورته ورسیږي. مونږ او تاسو ولېدل چې اعلانونه، تبلیغ او ډول ډول کمپاینونه د روغتیا نړیوال سازمان له لوري جوړېدل د نړۍ ټولو خلکو ته خپرېدل، د افغانستان نړدې ټولو ټلویزیونونو او رسنیو کې چې د نورو هیوادونو د ګټو لپاره کار کوي او ملي ګټې، د افغانستان فرهنګ، فردي او ټولنیز اخلاق نږدې ټولو پروګرامونو کې يې په پام کې نه نیسي په دغو کې هم ډیر زیات د کوید-۱۹ کرونا ویروس اعلانونه خپرېدل. له یو کال څخه زیات وخت په تیرېدو سره د کوید-۱۹ کرونا ویروس له را مینځ ته کولو څخه اوس هم د کوید-۱۹ کرونا ویروس اعلانونه د نړۍ او افغانستان په یو شمیر رسنیو او ټلویزیونونو کې د پیسو په بدل کې خپریږي. یو راز باید وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي: کله چې د هر څه لپاره اعلانونه، تبلیغ، کمپاین او بازارموندنه ترسره کیږي موخه یې پلورل (خرڅول) د یو تولید یا خدمت او یا یو ځانګړې موخه پکې ترلې وي. یو شمیر ډاکتران او طبي متخصصین په آمریکا کې پدې آند او نظر دي چې د دوا جوړولو او واکسین جوړولو شرکتونه؛ واکسینونه چې د نړیوالو ناروغیو لپاره جوړوي او د روغتیا نړیوال سازمان له خوا منل کیږي نه یوازې چې ګټور ندي بلکې د [1](آټیزم – Autism) ناروغۍ یا د مغزي لیونتوب او جنون لامل کیږي. دا ډاکټران او طبي متخصصین وایي: چې د دې واکسینونو په جوړښت او ترکیب کې نیکل، سیماب، نور ویروسونه د سپیو او نورو ځارویو څخه اخیستل شوي پکې شتون لري؛ په قصدي توګه غواړي چې وروستني نسلونه او انسانان هوښیارتیا، پوهه او عقل ونلري او د روحي او رواني پلوه روغ نه وي؛ آن ویل کیږي: چې یو شمیر خلک او سازمانونه غواړي چې د انسانانو نسل په بیلابیلو لارو چارو او د دولت نړیوالو کارونو او پروګرامونو سره یې له مینځه یوسي.

## - د افغانستان عامې روغتیا وزارت ونډه په بحران کې:




د کوید-۱۹ کرونا ویروس ناورین پر مهال په افغانستان کې د عامې روغتیا وزارت اړینه ونډه درلودله. نړیوال پټ پلانونه او اجنډاوې یې په خبره یا ناخبره توګه عملي کولې. د کوید-۱۹ کرونا ویروس د خپریدو په وخت کې د افغانستان عامې روغتیا وزارت لکه د نړۍ نورو صحي سازمانونو په څیر د میرینې کچې یې په ورځني دول د مطبوعاتي کنفراس په بڼه د رسنیو په مرسته خپرولې؛ او د ویرې او ډار لامل زمونږ د خلکو ترمینځ کېدل. په یاد مو دی چې د

---

۱ – د کتاب په مأخذونو کې دهغو ویډیوګانو لینکونه یا آدرسونه چې د آټیزم او واکسینونو په اړه دي لیکل شوي دي. د دې کتاب درانه لوستونکي کولای شي هغو آدرسونو ته لاړ شي او پخپله دا مالومات وګوري. د دې نه چې د ټیک ټاک او مسخرګۍ ویډیوګانې وګورئ، یا د فیسبوک، انسټاګرام، ټویټر او یا ناسمو پروګرامونو او سندرو لکه ستاره افغان او نور داسې شیانو باندې خپل وخت ضایع کوئ او تېروئ! دا به ښه وي چې ګټورې ویډیوګانې وګورئ له خپل ځان، هیواد او نړیوالو پلانونو او پروګرامونو څخه ځان خبر کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان د لویدیځو ولایتونو څخه د یو ولایت والي د هغه ولایت او د افغانستان خلکو ته یې اخطار ورکاوه او د خلکو د ویرې او ډار لامل کېدِه، ویل یې: چې د کویډ-۱۹ کرونا ویروس به خلک په عامه توګه له مینځه یوسي، که دا کار او هغه کار ونکړئ د خلکو جنازې به د ټولولو وړ نه وي. باید وویل شي: چې دا سرې د خپلې ناپوهۍ او ناخبرۍ له مخې یې دا ډول خبرې کولې یا د کویډ-۱۹ کرونا ویروس د پټې اجنډاوو او موخو په عملي کولو کې یې مرسته کوله یا موخه یې خپله فردي او مالي ګټه او هغه ولایت ته ګټه رسول ول؛ د دې نه غیر داسې مناسبه نه وه چې پدې ډول ناورین کې پدې شکل یو څوک خبرې وکړي. په لومړیو که داسې معلومېده چې د افغانستان عامې روغتیا وزارت سم کار کوي او د افغانستان خلکو ته د خدمت کولو لپاره کار کوي خو لږ وروسته ښکاره شوه چې د افغانستان د عامې روغتیا وزارت موخه د مالي مرستو او پیسو لاسته راوړل له نړیوالو سازمانونو څخه ده؛ ډېره اندازه مالي مرستې د نړیوالو سازمانونو او ځانګړې شوې بودیجه د کویډ-۱۹ کرونا ویروس سره د مبارزې او مخنیوي لپاره خپله د عامې روغتیا وزارت لخوا وخوړل شوې او د ځان په ګټه ورڅخه استفاده وشوه. د کویډ-۱۹ کرونا ویروس ناورین پر مهال د افغانستان د عامې روغتیا وزارت په یو خبر جوړونکې سرچینې بدل شوی وو، پداسې حال کې چې د افغانستان خلکو ته یې باید روغتیایي خدمتونه چمتو کولای، یو شمیر روغتونونه چې د کویډ-۱۹ کرونا ویروس د تشخیص، تداوۍ او مخنیوۍ لپاره ګمارل شوي وو د روغتیایي خدمتونو پر ځای به ډیر د وېرې او ډار لامل کېدل او آن د ځینو ناروغانو د مړینې لامل شول. د کویډ-۱۹ کرونا ویروس له ناورین او تود بازار څخه وروسته په افغانستان کې معلومه شوه هغه وسایل چې د روغتیا نړیوال سازمان لخوا د افغانستان عامې روغتیا وزارت ته ورکړل شوي وو پکې له مخکې نه د کویډ-۱۹ کرونا ویروس له ډیر ځواک سره شتون درلود؛ د تشخیص پر ځای د خلکو د اخته کېدلو لامل په کویډ-۱۹ کرونا ویروس کېدل. ځینې نورې خبرې هم را مینځ ته شوې چې یو شمیر روغتونونه د خپلو مالي ګټو لپاره هره ناروغي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه زکام، عادي ټوخی او هر ډول بله ناروغي يې ویـل چـې د کویـد-۱۹ کرونـا ویروس دی. په ځینو ولایتونو کې د عامې روغتیا ریاستونو یې د مالي ګټو او پیسو خوړلو لپاره خالي تابوتونـه بـه یـې لیـږدول او راپـور بـه یـې ورکـاوه چـې افـراد (اشخاص) په کوید-۱۹ کرونا ویروس اخته ول او ژوند یې له لاسه ورکـړی دی. د افغانستان عامې روغتیا وزارت ډول ډول راپورونه او کچې به یې خپرولې، هغـه کسان به چې خپله مړه شوي وو یا د هر بل لامل په پایله کې به یې ژوند له لاسـه ورکړی وو هغوی به راپور ورکاوه چې د کوید-۱۹ کرونا ویروس له امله ژوند یـې له لاسه ورکړی دی. د ناورین پر مهال اعلانونه، بازارموندنه او تبلیغ د کویـد-۱۹ کرونا ویروس؛ د افغانستان د عامې روغتیا وزارت په واسطه او د پیسو وړو رسـنیو پواسطه په افغانستان کې ډېر له ځواک سره وو، آن تر دې چې د دولت ځو وزیرانو په واسطه یو تصویري اعلان د کوید-۱۹ کرونا ویروس لپاره په رسنیو کې خپـور شو خو وروسته بیا دا اعلان بل ځل خپور نه شو. وروسته له څو میاشتو هیـاهو او تود بازار د کوید-۱۹ کرونا ویروس، ډار او وېره د افغانستان د خلکو تر مینځ؛ یـو زړور او زمونږ هیوادوال حکیم الکوزي په افغانسـتان کـې دوا یـا واکسـین یـې د کوید-۱۹ کرونا ویروس پر ضد جوړ کړ او د خلکو لپاره یې پـه وړیـا او اتلـولۍ سره ووېشه او ضمانت یې ورکاوه چې په یو ساعت یا څو ساعتونو کـې نـاروغ یـا اخته کس د کوید-۱۹ کرونا ویروس څخه ښه کوي، تر کوم ځایه چې مالومـات شته دي دا ادعا او وینا یې سمه وه او خلکو په عملي توګه ولیدل چې جوړه شـوې یا آماده شوې دوا یا واکسین د حکیم الکوزي په واسطه په ریښتونې توګه ګټور او د کارولو وړ ده، جلا لدې څخه چې له صحي پلوه منل شوې وو یا که نه وو زمـونږ خلکو ته یې مثبته روحیـه او د ژونـد لپـاره هیلـه یـې ورکـړه او ډار او وېـره یـې د دافغانستان د خلکو ترمینځ لـه مینځـه وېـوړه. د افغانسـتان هوښـیارو خلکـو تـه معلومه شوه چې د کوید-۱۹ کرونا ویروس له ډېر زیات خطـر سـره نـده بلکـې آماده شوي پروګرامونه، د رسـنیو او روغتیـا نړیـوال سـازمان منفـي اعلانونـو او د کوید-۱۹ کرونا ویروس پټې موخې له خطر سره دي. د یو کال او څو میاشـتو لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېرېدو وروسته د کویډ-۱۹ کرونا ویروس له جوړولو او خپرولو تر اوسه هم په یو شمیر د نړۍ په هیوادونو کې د کویډ-۱۹ کرونا ویروس تود بازار شتون لري او اعلانونه ورته جوړوي او تبلیغ ورته کوي، ماسک په خوله کول یې جبري کړي دي په ځینو پېښو او کارونو یې محدودیتونه لګولي دي لکه په ورزشي څیزونو یې محدودیتونه لګولي دي. کله کله په آمریکا او یو شمیر اروپایي هیوادونو کې د کویډ-۱۹ کرونا ویروس د دویم موج (څپې) یا نوي ډول په اړه خبرې کیږي، که چیرې په رښتیا سره داسې وي په ډیر ګومان سره اوسنی د کویډ-۱۹ کرونا ویروس یې په لابراتوارونو کې ځواکمن کړی او وده یې ورکړې ده او بیاځلي غواړي چې نړۍ په ټولو هیوادونو کې خپور شي تر څو دا خلک، سازمانونه او هیوادونه چې پکې لاس لري خپلو شومو او بدو موخو ته ورسیږي. په افغانستان کې له نیکَمرغه ناورین او تود بازار د کویډ-۱۹ کرونا ویروس شتون نلري خو په ځینو رسنیو کې یې یو څه اعلانونه او تبلیغات د کویډ-۱۹ کرونا ویروس لپاره ترسره کیږي. د افغانستان عامې روغتیا وزارت یو ځل د کویډ-۱۹ کرونا ویروس د دویم موج (څپې) په اړه یې خبرې وکړې، خو د افغانستان هوښیار خلک له موخو څخه یې خبر دي دا ځل چې هغوی کومې لارښوونې کوي زمونږ خلکو ته د منلو وړ ندي ځکه په عمل کې یې ولیدل چې د کویډ-۱۹ کرونا ویروس څه شی دی؟ او څنګه خلکو ته ښودل کیږي؟ د افغانستان ټولو خلکو ته یو ځل لارښوونه کیږي چې لږ تر لږه دا کتاب یو ځل ولولئ تر څو رښتیاوې در ته ښکاره شي او وروسته د دې کتاب له لوستلو یوازې پدې کتاب بسنه مه کوئ خپله لټون او څیړنه وکړئ ډیر حقیقتونه او رښتیاوې چې باید پوه شئ پرې به پوه شئ.

## - روغتیايي شرکتونو ونډه په بحران کې:

روغتیايي شرکتونو د کویډ-۱۹ کرونا ویروس په ناورین کې ډیره مهمه ونډه درلودله، د نړۍ په ټولو هیوادونو کې زیات شمیر روغتیايي شرکتونو د کویډ-۱۹ کرونا ویروس په ناورین کې د پیسو لاسته راوړلو او مالي ګټو چانس ولیدِه او ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخپله ګټه یې استفاده وکړه، دولت دولت د دواګانو کځورپې یې آماده کړې او په خلکو یې په ډېره لوړه بیه وپلورلې تر څو پیسې او لوړه مالي ګټه تر لاسه کړي. روغتیایي شرکتونه د کوېډ-۱۹ کرونا ویروس پر مهال ډېر د پیسو لاسته راوړلو او مالي ګټو په لټه کې ول او د دې پر ځای چې د خلکو د روغتیا په فکر وي او د هر دولت دوا څخه یې چې غوښتل په خلکو یې وپلوري د هغو د خرڅلاو څخه یې ډډه ونکړه. د واکسین جوړولو او دوا جوړولو شرکتونو د کوېډ-۱۹ کرونا ویروس په ناورین کې مهمه ونډه درلودله، د کوېډ-۱۹ کرونا ویروس ناورین پر مهال د کوېډ-۱۹ کرونا ویروس واکسین جوړولو لپاره د نړۍ په ټولو هیوادونو او په آمریکا کې سیالۍ پیل شوې، نږدې ۶۰۰ د واکسین جوړولو او دوا جوړولو شرکتونو په ټوله نړۍ کې او د نړۍ په ټولو هیوادونو کې یې د کوېډ-۱۹ کرونا ویروس د واکسین جوړولو لپاره کار پیل کړ؛ او یوازې د دوو واکسین جوړولو او دوا جوړولو شرکتونو واکسینونه په آمریکا کې او په انګلستان کې د یو شرکت واکسین د روغتیا نړیوال سازمان لخوا د منلو وړ دي، د نورو شرکتونو جوړ شوي او آماده شوي واکسینونه د روغتیا نړیوال سازمان لخوا د منلو وړ ندي، د مثال په توګه هغه واکسینونه چې د هند او روسیې هیوادونو لخوا آماده شوي وو په خپلو هیوادونو کې یې ګټور وو د [1]د روغتیا نړیوال سازمان لخوا د منلو وړ ندي او خلکو ته یې د کارولو اجازه نشته خو هغه واکسینونه چې دوو شرکتونو (مُډرنا – Moderna) او (فایزر – Pfizer) آماده کړي دي د نړۍ ټولو هیوادونو خلکو ته توصیه او لاربښوونه یې کوي او د روغتیا نړیوال سازمان لخوا د منلو وړ دي. ولې؟ یوازې د دې دوو شرکتونو واکسینونه د روغتیا نړیوال سازمان ته د منلو وړ دي؟ د دې پوښتنې په ځواب کې باید وویل شي: د دې دوو شرکتونو شاته هغه سازمانونه

۱ – د روغتیا نړیوال سازمان مالي ملاتړ بیل ګیټس د مایکروسافټ شرکت مالک یې په غاړه لري. یوازینی طرفداره د جبري واکسین په ټوله نړۍ کې د نړۍ د ټولو هیوادونو خلکو لپاره دی او موخه یې ځان ته د مالي ګټو لاس ته راوړل او هغه پټ سازمانونه چې بیل ګیټس یې غړیتوب لري هغوی هم د بیل ګیټس سره نظر یی یو دی، یو بل سړی د انتوني فاوچي په نوم چې د (مُډرنا – Moderna) شرکت مالک دی او د روغتیایي ادارو ریاستونه یې په آمریکا کې په لاس دي د جبري واکسین طرفداره په ټوله نړۍ کې د نړۍ د ټولو هیوادونو خلکو لپاره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او خلک شتون لري چې د نړۍ خلکو لپاره شـومې مـوخې او مـالي او اقتصـادي ګټې په ملیادرونو او آن په ټریلیونونو ډالر د ځانونو لپاره يـې لـري، د واکسـین پـه وېشلو او ورکولو کې د نړۍ ټولو هیوادونو ته؛ کولای شي خپلو موخو او مالي ګټو ته ورسیږي. د روغتیا نړیوال سازمان او د مالي ملاتړ په اړه يې تېرو سرلیکونو کې درته مالومات درکړل شول هرومرو مطالعه مـو کـړل چـې کومـو کسـانو د کومـو موخو لپاره د روغتیا نړیوال سازمان په واک کې لري؟ دلته د دوو شرکتونو (مُـډرنا – Moderna) او (فایزر – Pfizer) په اړه، جوړولو، تأسیس او موخو په اړه به يې مالومات درکړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## - د مُډرنا (Moderna) شرکت ونډه په بحران کې:




د مُډرنا (Moderna) شرکت د کویډ-۱۹ کرونا ویـروس د جوړولـو او مـالي ګټو لپاره په لویه کچه، له لومړۍ ورځې د کویډ-۱۹ کرونا ویروس په ناورین کې یې ونډه درلودله او د کویډ-۱۹ کرونا ویروس له نـاورین څخـه یـو کـال او څـو میاشتې وروسته تر اوسه هم دا شرکت خپله ونډه لري. لا ډیرو مالوماتو لپاره باید د مُډرنا[1] (Moderna) شرکت په تاریخچې باید پوه شئ تر څو درته معلومه شي چې ولې؟ د دې شرکت د کویـډ-۱۹ کرونـا ویـروس واکسـین د روغتیـا نړیـوال سازمان لپاره د منلو وړ دی؟ د سلګونو نورو شرکتونو واکسـینونه د روغتیـا نړیـوال سازمان لپاره د منلو وړ ندي؟ په دوېمه نړېواله جګړه کـې یـو شـرکت د آی جـي فاربین (IG FARBEN) په نوم یو یهودي سړي د جـورج سـوروس ( George Soros) په نوم چې وروسته د نازیانو سره یو ځـای شـو او بیـا وروسـته د آمریکـا تابعیت یې واخیست، جوړ او تاسیس شو چې بېلابېل طبي آزمایښتونه یې په هغه وخت کې پکې ترسره کول. جورج سوروس د آی جي فاربین (IG FARBEN)

---

۱- که چیرې غواړئ د مُډرنا - (Moderna) شرکت په اړه ویډیو وګورئ لینک یې په مأخذونو کې شته ده، کیدای شي دا ویډیو او نورې ویډیوګانې او نور مالومات پاک شوي وي د لیکونکي (زما) ایمیل شته کولای شئ ایمیل را ته وکړئ د ټولو ویډیوګانو او مالوماتو غوښتنه وکړئ ټول مالومات به درته در ولیږل شي تر څو په خپلو سترګو دا ویډیوګانې وګورئ او مالومات یې ولولئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرکت یې له مینځه وېوړ او مُډرنا – (Moderna) شرکت یې جوړ کړ د مُډرنا – (Moderna) شرکت له جوړولو وروسته لومړنی رئیس یا (CEO) یې بل څوک نه بلکې انتوني فاوچي وو. د مُډرنا – (Moderna) شرکت مالکان او سهم لرونکي بیل ګیټس، انتوني فاوچي او جورج سوروس دي، دا درې سرې د مُډرنا – (Moderna) شرکت په ټولو موضوعاتو کې، مالي موخو، پټو موخو او د مُډرنا – (Moderna) شرکت واکسین جوړولو کې لاس لري. د ۲۰۲۰م کال جون میاشت کې د مُډرنا – (Moderna) شرکت لخوا وویل شو: چې د کوید-۱۹ کرونا ویروس د جوړولو په درېمه مرحله کې دي، پداسې حال کې چې واکسین دې شرکت له مخکې جوړ کړی وو او یوازې د جوړولو تمثیل (پېښې) یې کولې. د مالي ګټو لاسته راوړلو لپاره دا شرکت خپل جوړ کړی واکسین چې په هره لاره کیږي غواړي ووېشي. مُډرنا – (Moderna) شرکت او مالکان یې وایي: واکسین به جبري نه وي، له تخنیکونو او تکنیکونو څخه کار اخلي چې خلک اړ شي چې د واکسین څخه استفاده وکړي. په آمریکا کې یو له تکنیکونو څخه چې دا شرکت د واکسین وېشلو لپاره خلکو ته یې استفاده کوي هغه دا وو چې دې شرکت به هغو کورنیو ته چې د آمریکا دولت ته یې پاتې مالیه درلودله، مالیه یې نه وه ورکړې او پوروړي (قرضداره) ول دې کورنیو ته یې پیغام لیږه چې که چیرې غواړئ ماشومان مو واکسین شي د هرې شپې په بدل کې ۳۰ ډالره مالیه به درته کمه شي، که چیرې دې کورنیو به دا پیغام نه مانه، تر هغه وخت پورې د هرې شپې په بدل کې به یې ۳۰ ډالره د مالیې او قرضې کمولو وړاندیز یې ورته کاوه تر څو د ماشومانو لپاره واکسین کول قبول کړي. هغو کورنیو چې عاید نه درلود دا غوښتنه به یې منله او خپل ماشومان یې واکسین کړل او واکسین ورته کوي، پدې ډول تخنیکونو او تکنیکونو مُډرنا – (Moderna) شرکت غوښتل خپل واکسین په آمریکا کې ووېشي. مُډرنا – (Moderna) شرکت پداسې ډول د آمریکا خلکو ته به یې وضاحت ورکاوه او ویل یې: چې واکسین جبري ندی بلکې مونږ له تاسو او د تاسو له ماشومانو ساتنه کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## - د فایزر (Pfizer) شرکت ونډه په بحران کې:

د فایزر - (Pfizer) شرکت د کوید-۱۹ کرونا ویروس واکسین جوړولو لپاره نوماند شرکت وو او مهمه ونډه یې د کوید-۱۹ کرونا ویروس په ناورین کې درلوده. فایزر او مُډرنا دوه د منلو وړ شرکتونه د روغتیا نړیوال سازمان لخوا د




کوید-۱۹ کرونا ویروس واکسین لپاره ول او دې دوه شرکتونو د ۲۰۲۰م کال نوامبر میاشت وروستیو کې او د ډیسامبر میاشت په لومړیو کې یې د کوید-۱۹ کرونا ویروس د واکسین جوړولو او وېشلو ژمنې یې د آمریکا خلکو او د نړۍ خلکو ته یې ورکولې. د انتوني فاوچي په نوم یو سړي د دې دوه شرکتونو د سهامو لوړولو او مالي ګټو لپاره بازارموندنه ترسره کوله. په مخکینیو سرلیکونو کې د کوید-۱۹ کرونا ویروس په جوړولو کې د مالي ګټو او پټو موخو په اړه درته مالومات درکړل شول. دلته به درته په ارقامو او عددونو یادونه وشي چې واکسین جوړونکو دې شرکتونو مخکې له واکسین جوړولو د کوید-۱۹ کرونا ویروس لپاره د سهامو[1] په بازارونو کې څومره ګټې لاسته راوړې؟ مُډرنا شرکت د ۲۰۲۰م کال

۱- په آمریکا، انګلستان، جاپان او ځینې د نړۍ هیوادونو کې د سهامو بازارونه (Stock Markets) شتون لري، پدې سهامو بازارونو کې لوی شرکتونه سهم یا سهام (Shares) د شرکت پلوري (خرڅوي) خلک هغه اخلي پرې پانګه اچوونه کوي او بېرته یې خرڅوي چې له څو خواوو خپله شرکت ته چې سهام یې د سهامو په بازار کې اېښې ګټه ورته ورسیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مۍ میاشت کې د واکسین جوړولو خبرتیا خپره کړه او یادونه یې وکړه چې د کویډ-۱۹ کرونا ویروس د جوړولو په لومړۍ مرحله کې دي. د ۲۰۲۰م کال مۍ میاشت په ۱۸مه او ۱۹مه نېټه په دوه ورځو کې نږدې ۳۰ میلیونه ډالر د سهامو له خرڅلاو څخه دې شرکت د سهامو په بازارونو کې ګټه لاسته راوړه. د ۲۰۲۰م کال د مۍ میاشت په ۲۱مه او ۲۲مه نېټه د سهامو له خرڅلاو څخه یې نږدې ۶۹.۵ میلیونه ډالر د سهامو په مارکیټ یا بازار کې یې لاسته راوړې، پدې ډول لوېې ګټې یې په دوه دوه ورځو کې د مُډرنا واکسین او دوا جوړولو شرکت ورته ورسید، آیا که د کویډ-۱۹ کرونا ویروس شتون نه درلودلای؟ یوازې په څلورو ورځو کې دا شرکت (مُډرنا) نږدې ۱۰۰ میلیونه ډالر ګټې ته ورسید؛ اوس په اړه یې لږ فکر وکړئ! د فایزر شرکت مالي ګټو په اړه مخکې له واکسین جوړولو د کویډ-۱۹ کرونا ویروس لپاره به درته یادونه وشي، خو مخکې لدې څخه د فایزر شرکت د جوړېدو او تأسیس په اړه به درته مالومات درکړل شي. فایزر شرکت په ۱۸۴۹م کال کې د دوو مهاجرو په واسطه په آمریکا کې د چارلز فایزر او چارلز ایرهارټ په نومونو چې اصلیت یې له جرمني (آلمان) څخه وو د آمریکا په بروکلین سیمه کې جوړ او بنسټ یې کېښودل شو. دا شرکت په ۲۰۰۴م کال کې د آمریکا د لویو شرکتونو په لیست کې ځای یې ونیوُه، د آمریکا د لویو شرکت لیست کې[1] (۳۰) لوی شرکتونه (کمپنۍ) ځای لري چې د فایزر شرکت هم پدې لیست کې په همدې کال کې اضافه شو. په ۲۰۱۸م کال کې فایزر شرکت د دوا جوړولو او واکسین جوړولو په برخه کې د آمریکا او نړۍ له لویو شرکتونو څخه وشمېرل شو. په ۲۰۲۰م کال کې د نوامبر په میاشت کې د فایزر شرکت ارزښت او پانګه یې ۵۱ میلیارده ډالره وه. په ۲۰۲۰م کال د نوامبر میاشت په ۱۳مه نېټه

۱- د آمریکا لوی شرکتونه چې شمیر یې ۳۰ ته رسیږي د ډاو جونز (Dow Jones) په نوم د سهامو په بازار کې ثبت دي او د دې شرکتونو سهام هلته خرڅیږي فایزر شرکت هم په ۲۰۰۴م کال کې پکې اضافه شو. د نورو شرکتونو نومونه هم په انګلیسي ژبه به درنو لوستونکو ته یاد شي تر څو مالومات مو ډېر شي او ویې پېژنئ: شامل شرکتونه: Dow, Exxon Mobil, American Express, Apple, Boeing, Caterpillar, Chevron, Cisco, Coca-Cola, Walt Disney, DuPont, Home Depot, Goldman Sachs, General Electric, IBM, JPMorgan Chase, McDonald's, Merck, Microsoft, Nike, **Pfizer**, Procter & Gamble, Traveler Companies, United Technologies, United Health, Verizon, Google ... او نور دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فایزر شرکت نږدې ۳۸ میلیونه ډالر ګټه یې د سهامو له خرڅلاو څخه درلـوده او سهم (Share) یې له (۲.۸٪ - ۷.۷٪) وده او ګټـه یـې درلـوده. فـایزر او مُـډرنا شرکتونو د کوید-۱۹ کرونا ویروس د واکسین جوړولو څخه مخکې او د کویـډ-۱۹ کرونا ویروس په ناورین کې یې دا تـولې ګټـې لاسـته راوړې وې. د **۲۰۲۱م** کال په جنورۍ، فبرورۍ او مارچ په میاشتو کې فایزر او مُډرنا شـرکتونه د کویـډ-۱۹ کرونا ویـروس واکسـین وېشـل یـې د نـړۍ هیوادونـو تـه د دې شـرکتونو پـه لارښوونه او موخو په عملي کولو سره او د روغتیا نړېوال سازمان پـه مرسـته پیـل کړل او د نړۍ هیوادونه یې د واکسین لاسته راوړلو لپاره په برخو برخو ووېشل چې وار په وار دا واکسین لاسته راوړي. د کوید-۱۹ کرونا ویروس په ناورین کـې دا د واکسین جوړولو او دوا جوړولو شرکتونه دا ډول خپلو مالي ګټو او موخـو پـه فکـر کې ول او دا مالي ګټې یې هم لاسـته راوړې. اوس فکـر وکـړئ چـې څـومره؟ او څنګه؟ موخې او مالي ګټې یې د کوید-۱۹ کرونا ویروس د واکسین له خـرڅلاو څخه په پام کې نیولي دي او غواړي لاسته یې راوړي؟ زما په فکر چې لږ مالي او اقتصادي مسائلو کې مالومات لرم؛ دې شرکتونو میلیاردونه او آن ټریلیونونـه ډالـر مالي ګټې یې د کوید-۱۹ کرونا ویروس د واکسین په خرڅولو کې پـه نظـر کـې نیولي دي او غواړي چې دا مالي ګټې لاسته راوړي. په ذهن کې مو کیدای شي دا پوښتنه پیدا شي چې د نړۍ درېمه درجه هیوادونو لکه افغانستان ته دا واکسین پـه وړیا توګه ورکوي، مخکې د واکسین له وېشلو، هغوی د بېلابېلـو لارو څخـه څـو برابره پیسې او ګټې یې لاسته راوړي او وروسته کیـدای شـي د وړیـا پـه نـوم یـې ووېشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## - نړیوال اقتصادي ټولنې سازمان ونډه (World Economic Forum) په بحران کې:




لــدې مخکــې چــې نړیــوال اقتصــادي ټــولنې ســازمان (WEF) ونـډې په اړه د کویـډ-۱۹ کرونـا ویروس په ناورین کــې او هغه نقشــې چــې د نـړۍ خلکو لپاره یــې پــه کلنــې ډول باسې وویل شي؛ د دې سازمان د جوړولو، موخو او اجنډاوو په اړه بــه درتــه مالومات درکړل شي. نړیوال اقتصادي ټولنې سازمان (WEF) په ۱۹۷۱م کال کې د کلاز شواب په نوم د یو سړي په واسطه جوړ او بنسټ یې کېښودل شو او مرکزي دفتر یې د سویس هیواد د ډاواس په نوم سیمه کې دی. هر سازمان یو لیدلوری او ماموریت لري، دې ســازمان پــه خپــل ماموریــت کــې لیکلــي دي چــې: نړیــوال اقتصــادي ټــولنې ســازمان (WEF) د نـړۍ حـالاتو پرمختـګ تـه د ســوداګریزو سیاسي، اقتصادي او د ټولنې نورو رهبرانو په راټولولو ســره چــې نړیــوالې، ســیمه ایزې او صنعتي اجنډاوې جوړې کړي ژمن دی. په ساده ژبه که وویل شي: د دې سازمان موخه ډول ډول او پټې (نامعلومې) اجنډاوې جوړول د نړۍ ټولــو خلکــو لپاره دي، بې لدې چې د نړۍ خلک ترې خبر وي او د خلکو ګټه او زیان پــه پــام کې ونیول شي دا کارونه ترسره کوي. اجنډاوې او پروګرامونه له مخکې جوړوي او هر څه ترتیبوي او وروسته خلکو ته ښیي چې دا پېښې او حوادث طبیعي دي، لکه د کویډ-۱۹ کرونا ویروس ناورین په لاره اچول، د نـړۍ اقلیمــي بــدلون، نړیــوال ترووریزم او نور. نړیوال اقتصادي ټولنې سازمان (WEF) د جنورۍ میاشت په پای کې هر کال یــو کنفــرانس جــوړوي چــې نــږدې ۳۰۰۰ زره کســان ســوداګریز او اقتصادي رهبران، سیاسي رهبران، نوم لرونکــي (مشــهور) کســان، د ټولنــو نفــوذ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرونکي خلک او خبریالان سره را ټولیږي تـر (۵) پنځـه ورځـو پـورې د نړېوالـو موضوعاتو په اړه خبرې او بحثونه کـوي چـې (۵۰۰) ناسـتې (جلسـې) لـري. دا




سازمان هر کال نږدې ۶ څخه تر ۸ ناستې (جلسې) په افریقا، ختیځه آسیا، لاتینه آمریکا او هند کې ترسره کوي او دوه کلنۍ ناستې په چین او متحده عربي اماراتو کې سره جوړوي. سربېره پر کلنیو ناستو دا سازمان د رهبرانو، شـاملو ګروپونـو او نړېوالو شریکانو لپاره یو مجازي ګردی میـز یـې برابـر کـړی دی چـې د پـروژو، سوداګریزو او مالي چارو او کړنو په اړه د دولتونو پـه کچـه او د ټولنـو پـه سـطحه خبرې او پرېکړې کوي. دا سازمان همدارنګه یو شمېر راپورونـه او د خپلـو غړیـو کړنې په بېلابېلو سکټورونو او برخو کې جوړوي او ډیری وخت یې په خپل ویـب پانه کې خپروي. په نړېوال اقتصادي ټولنې سازمان (WEF) کې لوی او اغیزناکه شرکتونه او د ټولنو نفوذ لرونکي خلک د مالي، اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو چارو له پلوه غړیتوب اخیستلی شي. نږدې ۱۰۰۰ نړېوالې کمپنۍ (شرکتونه) چې پانګه یې ۵ پنځه میلیارده ډالره ده پـه نړېـوال اقتصـادي ټـولنې سـازمان (WEF) کـې غړیتوب لري او د مالي پلوه پدې سازمان یې پانګه اچوونه کړې ده. هغه کسانو او شرکتونو چې د دې سازمان غړیتوب لري نظر په سیمه، اقتصاد او صنعت، ناستو، پروژو، پروګرامونو او اجنډاوو دې سازمان ته فـیس (پیسـې) ورکـوي. هـر کـال نړېوال اقتصادي ټولنې سازمان (WEF) د سویس هیواد پـه ډاواس سـیمه کـې د جنورۍ میاشتې ناسته ترسره کوي؛ چې (۱۰۰۰) غړي لـوی شـرکتونه، انتخـاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي سیاستمداران، د ټولنې اغیزناکه اکاډمیک استازي، غیر دولتي سازمانونه (NGOs)، مذهبي رهبران او بېلابېلې رسنۍ پکې ګډون کوي او د نړیوال کېدلو (ګلوبلایزیشن)، نړیوالو د پانګو بازارونو، د پانګو مدیریت او د چاپېریال ستونزو په اړه سره خبرې کوي، اجنډاوې، پروګرامونه او ډول ډول نقشې د نړۍ خلکو لپاره جوړوي. شتمن کسان او د ټولنې نفوذ لرونکي کسان چې د نړیوال اقتصادي ټولنې سازمان (WEF) غړیتوب لري هغوی دا دي: بیل ګیټس سره د سازمان یې (د بیل او میلینډا ګیټس سازمان) په نوم، موکیش امباني هندي میلیاردر، د انګلستان شاهي کورنۍ، د سعودي عربستان شاهي کورنۍ، کاتولیک پاپان د واټیکان، د بېلابېلو رسنیو مالکان او یو شمېر خبریالان پدې سازمان کې غړیتوب لري.

په ۲۰۱۷م کال کې یو سازمان د نویټوب یوځای تیاری د ساري ناروغیو لپاره (Coalition for Epidemic Preparedness Innovations = CEPI) په نوم د نړیوال اقتصادي ټولنې سازمان (WEF) لخوا جوړ شو او موخه یې له جوړولو پخپله وېنا یې د ساري او ټولنیونکو ناروغیو مخنیوی، واکسین جوړول او د نړیوالو ساري ناروغیو د له مینځه وړلو لپاره دی. دا پروژه یې د خصوصي او دولتي پانګې اچوونکو د مالي ملاتړ په مرسته پیل شوه، د جرمني (آلمان) دولت په (۴۶۰) میلیونه ډالرو، جاپان، ناروې او د بیل او میلینډا ګیټس سازمان په پانګې اچوونې سره دې سازمان (نویټوب یوځای تیاری د ساري ناروغیو لپاره – CEPI) کار یې خپل پیل کړی دی. د ۲۰۲۰م کال د جنوري میاشت له ۲۰-۲۴مې نیټې د کوید-۱۹ کرونا ویروس ناورین په لومړیو کې د (نویټوب یوځای تیاری د ساري ناروغیو لپاره - CEPI) سازمان د مُډرنا شرکت سره یو ځای ناستې یې د کوید-۱۹ کرونا ویروس د واکسین جوړولو په اړه د ډاواس په سیمه کې ترسره کړې. د دې ناستې څخه ۶ شپږ ورځې وروسته د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) کړکیچن یا اضطراري حالت او د روغتیایي نړیوال ناورین اعلان یې د کوید-۱۹ کرونا ویروس له امله وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۲۰۲۰م کال په مې میاشت کې د نړیوال اقتصادي ټولنې سازمان (WEF) او د ویلز شهزاده یوه پنځه مخې پروژه د لویې بیاځل جوړونې (The Great Reset) په نوم را مینځته کړه، پخپله وېنا موخه یې لدې پروژې څخه د نړیوالو اقتصادي بازارونو ښه کېدل وروسته د کوید-۱۹ کرونا ویروس له ناورین څخه ده. د ۲۰۲۱م کال د اګسټ میاشت په ناسته کې د نړیوال اقتصادي ټولنې سازمان (WEF) اصلي موضوع او اجندا یې د لویې بیاځل جوړونې (The Great Reset) پروژه ده. د دې پروژې او پروګرام په اړه به درته په بل سرلیک کې لا ډیر مالومات درکړل شي.

په ۱۹۹۰م کې د نړیوال اقتصادي ټولنې سازمان (WEF) ناستې (جلسې) د (۷) لویو اقتصادي هیوادونو (G7) سره او د هغو هیوادونو سره چې اټومي (هستوي) وسلې لري، نړیوال بانک (World Bank)، سوداګریز نړیوال سازمان (World Trade Organization) او د پیسو بین المللي سازمان (International Monetary Fund = IMF) سره د نړیوال کېدلو (ګلوبلایزیشن) د نظریې ضد فعالانو د کلک انتقاد او غبرګون لاندې راغلل او هغوی پدې باور وو چې پانګولي یا سرمایه داري (کپیټالیزم) نظام او نړیوال کېدل (ګلوبلایزیشن) د فقر او غریبۍ د زیاتېدو او د نړیوال او چاپیریال نظم د له مینځه تللو لامل کیږي. څو کاله مخکې نږدې لس زره (۱۰۰۰۰) لاریون کوونکو د آسټرالیا په میلبورن ښار کې د نړیوال اقتصادي ټولنې سازمان (WEF) د سیمه ایزې ناستې مخنیوی یې د آسټرالیا په هیواد کې وکړ. پدې وروستیو کلونو کې لاریونونه د نړیوال اقتصادي ټولنې سازمان (WEF)[1] د ناستو پرضد د سویس په بازل ښار کې او په یو شمیر ښارونو کې د نورو هیوادونو ترسره شوي دي. یو شمیر منتقدین او مخالفان د نړیوال اقتصادي ټولنې سازمان (WEF) د کلنیو ناستو ترسره کولو سره د ډاواس په سیمه کې مخالف او پرضد یې دي؛ ځکه خطر د

۱- د ډیرو مالوماتو لپاره د نړیوال اقتصادي ټولنې سازمان په اړه کولای شئ په انټرنټ کې لټون وکړئ او پروګرامونو د لیدلو لپاره یې کولای شئ ویب پاڼې ته یې لاړ شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نړیوال او عمومي امنیت ته ده، د یوې سرمایه داري (پانګه والو) ډلې او د نه لاسرسي ټولنې لامل شوې ده، د پریکړو او تصمیمونو نیول د خلکو د رضایت پرته او د شفافیت نه شتون په مالي او اقتصادي چارو کې په نړۍ کې لامل یې شوې دی.

## - لویه بیاځل جوړوني نظریه (The Great Reset) او نوی عادي حالت (The New Normal):




هغه کسان او سازمانونه چې د دې پروګرامونو او اجنډاوو شاته دي په ځغرده وایي چې هغه ژوند چې د کویډ-۱۹ کرونا ویروس له ناورین څخه مخکې یې شتون درلود هیڅکله به شتون ونلري او د ژوند نوې بڼه د نوي عادي حالت (The New Normal) په نوم به په نړۍ کې حاکمه وي، له همدې امله د بېلابېلو رسنیو او هر ډول وسایلو څخه کار اخلي او د نوي عادي حالت (The New Normal) او د لویې بیاځل جوړوني (The Great Reset) نظریې په اړه خلکو ته اعلانونه خپروي او خپل پیغام ورته رسوي. نړیوال اقتصادي ټولنې سازمان (WEF) هر کال د جنورۍ په میاشت کې د سویس هیواد په ډاواس سیمه کې ناستې ترسره کوي، د دې ناستې غړي خپلو ځانونو ته یوه اصطلاح د ډاواس سړی (Davos Man) په نوم او د شتمنې غوره کسان ( Global Elites of Wealthy) ځانونو ته کاروي؛ چې په رښتیا سره پدې اصطلاح کې یو شمېر شتمن کسان او یو شمېر متعصبَ میلیاردران، د واتیکان کاتولیک پاپان، شهزادګان او شاهي کورنۍ، سیاستمداران او سیاسي رهبران د هیوادونو پکې شاملېږي چې هر کال د ډاواس په سیمه کې سره لیدنه کوي او د خلکو د آیندې لپاره نقشې جوړوي. د ۲۰۲۱م کال د ډاواس ناسته د نورو ناستو په پرتله توپیر یې درلود، نړیوال اقتصادي ټولنې سازمان (WEF)، د ملل متحد سره، د پیسو بین المللي

(c) ketabton.com: The Digital Library






سازمان سره، په زرګونو نړېوالو لویو شرکتونو سره، د شتمنو او ځواکمنو کسانو سره او د سیاسي رهبرانو سره راټولیږي؛ او د ټکنالوژۍ لویو شرکتونو څخه په استفادې سره، طرفداره مدني فعالان یې په آنلاین (پرلیکه) ډول، هغه دولتونه یې چې تر امر لاندې په سیمه ایزه توګه او په بین المللي توګه یو پروګرام یې پخپله اصطلاح د لویې بیاځل جوړونې (The Great Reset) په نوم د نړۍ خلکو ته معرفي کړ. د کوید-۱۹ کرونا ویروس ډار او وېره یې په نړۍ کې پلمه نیولې ده او هوډ او تصمیم لري او غواړي چې ټول قوانین او اقتصاد د نړۍ د هیوادونو بیاځل ورته بڼه ورکړي، او د کپیټالیزم (سرمایه دارۍ) یوه نوې بڼه را مینځته کړي چې د پانګې (سرمایې) بهر وتل پکې صفر ته رسیږي. د لویې بیاځل جوړونې (The Great Reset) د پروګرام د معرفي کولو لپاره په انګلستان، اروپا او آمریکا کې له مخکې بازارموندنه ترسره شوې ده؛ په لویو





ډیجیټلي لوحو او ډول ډول پوسټرونو کې دا پروګرام یې معرفي کړی وو. یو د بازارموندنې له شعارونو څخه د لویې بیاځل جوړونې پروګرام لپاره یې دا دی چې: **تاسو به د هیڅ شي مالک نه یاست خو بیا هم خوښ به یاست!** پلان لري چې کوچنۍ او خصوصي سوداګرۍ په لویو سوداګریو او لویو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټکنالوژیکي شرکتونو تبدیل کړي، فردي او ټولنیزه خپلواکۍ غوارې لـه مینځـه یوسي او ډیکتاټوري او له ظلمه ډک دولتونه د کنټرول سره غـوارې ځـاي پرځـای کړي. دا پروګرام يې لويه بیاځل جوړونـه (The Great Reset) نـه، بلکـې يـوه لويه دسيسه ده. د نړۍ د خلکو حقونه او خپلواکۍ اخلـي او پـه قصـدي توګـه د کویډ-۱۹ کرونا ويروس ناورين د يوې پلمې او عذر په توګه کاروي تر څو خپلې شومې او ډول ډول بدې موخې په نړۍ کې پلي (تطبیق) کړي، د نـړۍ خلکـو تـه تبليغ کوي چې ژوند به عادي حالت ته د کویډ-۱۹ کرونا ويروس ناورين څخـه مخکې حال ته ونه ګرځي او يو نوی حالت به يې ځای ونيسـي. د لـويې بیاځـل





جوړونې پروګرام او نوي عادي حالت په اړه د نړيـوال اقتصـادي ټـولنې سـازمان (WEF) رئيس، عمومي منشي د ملل متحد او د ويلـز (انګلستان) شهزاده جالبې خبرې وکـړې او د نړۍ خلکو تـه يـې دا پروګـرام او مـوخې يـې معرفي کړې. د نړيوال اقتصادي ټولنې سازمان (WEF) رئـيس کـلاز شـواب يـو کتـاب د څلورم اقتصادي انقلاب (The Fourth Industrial Revolution) په نوم يـې ليکلی؛ او د ۲۰۱۷م کال په چاپ کې دې سرې په خپل کتـاب کـې ليکلـي دي: چې د نړۍ لوی قدرتونه (واکونه) د کویډ-۱۹ کرونا ويروس ناورين به د مخکـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



آزمايښت او امتحان په توګه د يو حکومت جوړولو لپاره په نړۍ کې، يوه پېسـه پـه نړۍ کې او يو دين په نړۍ کې به ترې استفاده وکـړي او د نـړۍ خلکـو حقونـه او خپلـواکۍ بـه تـرې واخيسـتل شـي. نـورې موضـوعګانې لکـه د دجـال راتـګ، بيولوژيکي بدلونونه، ټکنـالوژيکي بدلونونـه، مصـنوعي هوښـيارتيا (ذکـاوت)، د چاپېريال بدلونونه، اقليمي بدلونونه، جنسيتي موضـوعګانې، اقتصـادي او مـالي


deep dive into the coming "Global Reset" and how *we are witnessing a "controlled demolition of the 'Old World Order' to reset for the 'New World Order'"*:

***I want to talk with you about how what I see as the pre-planned, even staged events, that we're witnessing today are bringing about a coming global reset.***

*After the Rapture, the Antichrist will be revealed, and a powerful delusion with lawlessness will ensue. I'll take it a step further and suggest that as Paul says in 2 Thessalonians 2, the mystery of* **lawlessness** *is already at work.*

*This is what I want to talk about; it's creating the perfect storm for the Antichrist and his complete totalitarian control. By "totalitarian," I mean a global system that is both centralized and dictatorial, requiring a complete subservience to the Antichrist who will control a one-world economy, a one-world government, and a one-world religion.*

*I am of the belief that we today are witnessing an orchestrated dismantling or, if you prefer, controlled demolition of the "Old World Order" to reset for the "New World Order." It's important to understand that this agenda, and that's what it is an agenda, has been in the works for decades. But now, today, it is reaching its final stage.*

If you would like to learn more about the "Great Reset" and how it relates to Bible Prophecy, read JD Farag's article in full – Here

بدلونونه، سياسي او ټولنيز بدلونونه په ټوله نړۍ کې پدې کتاب کـې ليکـل شـوي دي. د لويې بياځل جوړونې پروګرام د شومو او بدو موخو سـره هيڅکلـه نـه يـې پټوي، بلکې په ډېره څرګنده او ښکاره توګه دا پروګـرام د نـړۍ خلکـو تـه معرفـي کوي. د نړېوال اقتصادي ټولنې سازمان (WEF) په ويب پاڼه کې پدې اړه ليکـل شوي دي: يوازينۍ د حل لاره او د منلو وړ ځـواب د کويـډ-۱۹ کرونـا ويـروس ناورين لپاره [1]لويه بياځل جوړونه زمونږ د اقتصادونو، زمونږ د سياستونو او زمـونږ د ټولنو ده.

۱- د لويې بياځل جوړونې او نوي عادي حالت په اړه کولای شئ په انټرنټ کې لټون وکړئ ډېر مالومات شته دي چې ربښتياوې يې ويلې دي. د هغې ويډيو لينک چې دا موضوعګانې پکې يادې شوي دي د کتاب په مأخذونو کې شته ده کولای شئ ويې ګورئ تر څو خپله وکورئ او واورئ او په ربښتياوو پوه شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم څپرکی

## له مخکې وړاندوېنې د کوېډ-۱۹ کرونا ویروس د خپریدو په اړه

### کتابونه او لیکل شوې کیسې د کوېډ-۱۹ کرونا ویروس د خپریدو په اړه:

د کوېډ-۱۹ کرونا ویروس د ناورین پر مهال د آخرالزمان کیسې او خیالي کیسې او داستانونه داسې ښکاریدې چې په رښتیا بدلې شوي دي او په همدې وخت کې پیښ شوي دي. یو شمېر کتابونه او خیالي کیسې او داستانونه چې د ویروس یا مشابه ناروغۍ د کرونا ویروس سره پکې شتون یې درلود د ځینو




لیکوالانو لخوا لیکل شوي دي. یو له کتابونو څخه چې د کوېډ-۱۹ کرونا ویروس ناورین پر مهال د رسنیو پام یې واړاوه او بحثونه یې را مینځته کړل؛ هغه کتاب د " تیارې سترګې " (The Eyes of Darkness) په نوم وو چې د ډین کونټز (Dean Koontz) په نوم د یو سړي پواسطه نړېدې ۴۰ کاله مخکې په ۱۹۸۱م کال کې لیکل شوی وو. د ۱۹۸۱م کال په اصلي چاپ کې یې یو وژونکی ویروس د (ګورکي-۴۰۰) په نوم پکې یاد شوی دی چې په روسیه کې جوړ شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي. د نوي چاپ سره يې په ۱۹۸۹م کال کې د دې ويروس نوم يې (واهان-۴۰۰) ته تبدیل کړی دی. د (واهان-۴۰۰) وژونکی ويروس چې پدې کتاب کې يې يادَونه شوې ده د چين په واهان ښېرنيز او روغتيايي مرکز کې جوړ شوی وي، د بيولوژيکي وسلې په توګه چې د ستونې توله او پښتورګي له مينځه وړي او هيڅ تداوي نلري پدې ډول دا ويروس پکې ياد شوی دی. د کتاب په يوه برخه کې راغلي دي چې د (واهان-۴۰۰) وژونکی ويروس د چين واهان ښار څخه بهر په ښيرنيزو او آر ډی ان ای (R-DNA) روغتيايي مرکزونو کې جوړ شوی دی او ۴۰۰ ام بريالی ويروس دی چې د انسانانو په لاس په لابراتوارونو کې جوړيږي. يو شمېر خلک پدې باور دي چې د دې کتاب په ناول (رُمان) کې د چين د ويروس پيژندنې موسسې او بيولوژيکي وسلو لابراتوارونو ته پکې اشاره شوې ده. د (واهان-۴۰۰) ويروس لکه څنګه چې پدې کتاب کې له خطره ډک ياد شوی دی له نيکَمرغه د کوېډ-۱۹ کرونا ويروس اصلاً داسې نه وو او ډير توپير يې درلود. د خلکو او رسنيو تر مينځ دا بحثونه روان ول چې ډېرن کونټز (۴۰) کاله مخکې د کوېډ-۱۹ کرونا ويروس وړاندوېنه يې کړې وه. وړاندوېنه يوازې هغه څوک کولای شي چې غيبي علم ولري د ځمکې پر مخ اوس مهال داسې څوک نشته چې څرګند او ښکاره غيبي علم ولري. د آمريکا دولت، سازمانونه او هغه ډلې چې شومې او بدې موخې د آمريکا او د نړۍ خلکو لپاره يې لري او خپلې پټې اجنډاوې په خپل لاس جوړوي او کتابونه، کيسې او فيلمونه د سرچينې يا مرجع په توګه يادوي تر څو د خلکو په ذهنونو کې، روح او روان کې ښه ځای ونيسي تر څو دوی خپلو شومو او بدو موخو ته ورسيږي. دلته به درته يو شمير نور کتابونه هم ياد شي چې اصلي موضوع او متن د کتابونو ويروس، ناروغي او تولنيوونکې (ساري) ناروغی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نور کتابونه. . . د ویروسونو او نړیوالو وباوو (ناروغیو) د خپریدو په اړه:

یو شمیر کتابونه چې اصلي موضوع یې نړېوال ساري (ټولنیوونکي) ویروسونه او ناروغۍ دي او په تېرو پخوانیو کلونو کې لیکل شوي دي درته به یې یادونه وشي:

**۱- دربېدېنه (The Stand):** دا وېرونکی او د آخرالزمان داستان (کیسه) د استیوَن کینګ پواسطه لیکل شوی او پکې د یوې ټولنې کیسه ده چې په تصادفي ډول د انفلونزا ویروس پکې خپرېږي او دا یاد شوی ویروس د بیولوژیکي وسلې (سلاح) په توګه لاسوهنه پکې شوي وي.

**۲- زي نړېواله جګړه (World War Z):** دا کتاب د مکس بروکس پواسطه لیکل شوی او د دې کتاب لیکل شوی داستان (کیسه) د یو ویروس په اړه ده چې خلک وروسته له اخته کېدو په زامبیانو بدلېږي او لومړی اخته یا ناروغ یې یو ځوان د چین له هیواد څخه وي.

**۳- د آندرومډا ویروس ډول (The Andromeda Strain):** دا کتاب د مایکل کریکټون پواسطه په ۱۹۶۹م کال کې لیکل شوی، پدې کتاب د یو شمېر پوهانو داستان (کیسه) ده چې غواړي د یو وژونکي او طبیعي ویروس د خپرېدو لامل په آریزونا کې پیدا کړي.

**۴- تګ (The Passage):** دا کتاب د جاسټین کرونین پواسطه لیکل شوی، پدې کتاب کې یو داستان (کیسه) ده چې یو خطرناکه ویروس انسانان له ډېر زور سره په وینې څښوونکي او زامبیانو بدلوي.

**۵- دوزخ (Inferno):** دا کتاب د ډان براوڼ پواسطه لیکل شوی، او هغه داستان (کیسه) چې پدې کتاب کې ده هغه دا ده چې یو ویروس په تصادفي ډول فعالیږي او د خلکو په ډي ان ای (DNA) کې داسې بدلونونه را مینځ ته کوي چې د فکرونو د خرابېدو او د بې باورۍ لامل کیږي او دربمه برخه د نړۍ خلکو (بشر) پرې اخته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۶- طاعون (La Peste)**: دا کتاب د آلبر کامو پواسطه په ۱۹۴۹م کې خپور شو؛ او پکې د یو طاعون خپرېدل د الجزائر په وهران ښار کې ځای لري.

**۷- یوولسم پته ځای یا ایستګاه (Station Eleven)**: دا داستان د امیلي سِنټ جان منډل پواسطه لیکل شوی، د دې کتاب داستان (کیسه) داسې ده چې په آمریکا کې د انفلونزا یو ډول د جورجیا انفلونزا په نوم خپرېږي او وروسته بیا ټوله نړۍ کې خپرېږي او د نړۍ ډېر خلک له منځه وړي.

**۸- زه مسافر یم (I am Pilgrim)**: دا کتاب ټرې هېز لیکلی، د دې کتاب داستان (کیسه) داسې ده چې یو په لاسونو جوړ شوی ژنیټیکي ویروس د واکسین په مقابل کې قوي وي او له مینځه نه ځي او یو ټرورېسټ غواړي چې دا ویروس د بیولوژیکي وسلې (سلاح) په توګه وکاروي.

**۹- زه داستان (کیسه) یم (I am Legend)**: دا د آخرالزمان کتاب د ریچارډ ماتیسن پواسطه لیکل شوی، او د رابرټ نویل داستان (کیسه) پکې ده او داسې ښکاري چې یوازینی پاتې کس د یوې ساري (ټولنیوونکې) ناروغی یا ویروس څخه وي، دې ویروس د نړۍ ډېر خلک له مینځه وړي وي او پاتې خلک یې په وینې څښوونکي ژویو (موجوداتو) باندې بدل کړي وي. د دې کتاب څخه د هالیووډ سینما یو فیلم هم ورڅخه جوړ کړی دی.

**۱۰- د کُبرا پېښه (The Cobra Event)**: دا کتاب ریچارډ پرسټون لیکلی، دې کتاب کې د یو بیو - ټرورېستي برید داستان (کیسه) پکې ده چې د یو ډول ویروس څخه جوړ شوی وي چې کُبرا پکې ښیي. دا ویروس د خطرناکه زکام او یو ډول بل ویروس له برخو او ترکیب څخه جوړ وي چې د یوې مغزي ناروغۍ لامل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فیلمونه د ویروسونو او نړیوالو وباوو (ناروغیو) د خپریدو په اړه:

هغه کتابونه چې په تېر سرلیک او عنوان کې یاد شول له هغو څخه یو شمېر فیلمونه جوړ شوي دي، سربېره پُر دې یو شمېر نور فیلمونه هم د ویروسونو او نړېوالو ټولنیوونکو ناروغېو په اړه جوړ شوي دي چې درته به یاد شي. د کویډ-۱۹ کرونا ویروس په را مینځته کولو، خپرولو او په لاره اچولو کې یې لدې علمي تخیلي (خیالي) فیلمونو څخه یې الهام اخیستی وو؛ سربېره پُر دې چې بېلابېلې موخې یې د کویډ-۱۹ کرونا ویروس تر شا درلودې؛ د یوې سرګرمۍ او مستۍ په توګه یو خیالي او آن غیر ممکن کار یې هم د نړۍ په ټولو هیوادونو کې عملي کړ. هغه لیست د فیلمونو د مفهوم او موضوع سره به دلته درته یاد شي:

**۱- سحر وېښودونکي (The Daybreakers):** دا له وېرې ډک فیلم په ۱۹۹۳م کال کې جوړ شوی او پکې یو طاعون یا ټولنیوونکې ناروغي په انځور کې راغلې ده چې هر کس پرې اخته شي په وینې څښوونکي موجود بدلیږي. د انسان د نسل ژوندي پاتې کېدو او د انسان د وینې د بدیل هڅه پکې کیږي.

**۲- دولس بیزوګانې (12 Monkeys):** دا فیلم په ۱۹۹۵م کال کې د یوې ناروغۍ په اړه جوړ شوی چې ټوله نړۍ یې نیولې وي، یو مجرم (تورن) کس هغې سیمې ته چې پکې ناروغي شتون لري لیږل کیږي تر څو مالومات د انسان جوړو شویو ناروغېو په اړه راټول کړي.

**۳- خپرېدل (Outbreak):** په ۱۹۹۵م کال کې دا فیلم جوړ شوی او پکې یو ساري ناروغي د بیزو پواسطه له یو بل براعظم څخه آمریکا ته لیږدول کیږي، یو بشپړ ښار په کالفورنیا کې نیسي او نظامي ډاکټران پکې زیار باسي چې د ویروس درملنه پیدا کړي.

**۴- فاکولته (The Faculty):** دا فیلم په ۱۹۹۸م کال کې جوړ شوی، پدې فیلم کې وروسته له څو ناسمو او نامعلومو پېښو د هارنګټون پوهنتون زده کړیالان (محصلین) پخپلو ښوونکو (استادانو) شک من کیږي چې په کوم نامعلوم او غیرمعمولي څیز باندې اخته شوي دي او د فضایي (آسماني) موجوداتو څخه د نړۍ د ژغورلو په لټه کې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۵- ځايي بلا يا شيطان (Resident Evil):** په ۲۰۰۲م کـال کـې دا فـيلم جـوړ شـوی، پـدې فـيلم کـې يـو شـرکت د چتـرۍ ( The Umbrella Corporation) په نوم د زامبيانو يا وينې څښونکي او خرابوونکي موجودات په نړۍ کې خوشې کوي او هغه څوک (ميرمن) چې د دې فيلم مرکزي رول لـري او د زامبيانو سره جګړه کولای شـي او د زامبيـانو يـا د وينـې څښـوونکو موجوداتـو مخنيوی کولای شي هغه پټوي يا يې بندوي او نږدې د نړۍ ټول انسانان په زامبيانو بدلیږي. د دې فيلم څخه (۶) جلا فيلمونه شتون لري او د دې فيلم جوړول يې د ځايي بلا ويډيويي لوبو (Resident Evil Video Games) څخه يې اخيستی دی.

**۶- ۲۸ ورځـې وروسـته (28 Days Later):** دا لـه وېـرې ډک فـيلم پـه ۲۰۰۲م کال کې جوړ شوی، پدې فيلم کې يو نـامعلوم ويـروس ټـول انګلسـتان نيسي او نږدې ټول خلک اخته کوي؛ يو کم شمېر خلک روغ پاتې کيږي او لـدې ويروس سره مقابله کوي او اخته کېدو څخه يې مخنيوی کوي.

**۷- د مرګ پیل (Dawn of the Dead):** دا فـيلم؛ د ۱۹۷۸م کـال بيائـل جوړول په ۲۰۰۴م کال کې دی، دا فيلم د يوې ټولنيوونکې ناروغۍ د پاتې کسانو په اړه دی چې هر کس يې پرې اخته کيږي په زامبي يا وينې څښـوونکي موجـود بدليږي.

**۸- د بشر (انسان) ځامن (Children of Men):** دا فيلم په ۲۰۰۶م کال کې جوړ شوی؛ پدې فيلم کې يو طاعون د ۱۸ کالو په دوام تر ۲۰۲۷م کال پورې د فيلم داستان له مخې، هيڅ د انسانانو زيږېدل يا پيدا کېدل پـدې نـړۍ کـې نـه ترسره کيږي خو په پای کې يو ماشوم نړۍ ته راځي.

**۹- نقاشي شوی نقاب (The Painted Veil):** دا فيلم پـه ۲۰۰۶م کـال کې جوړ شوی؛ پدې فيلم کې يو ساينس پوه يا طبي پوه چين ته سفر کوي او هلته د يوې ټولنيوونکې کولرا ناروغۍ سره مقابله کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۰- زه داستان یم (I am Legend):** دا فیلم د ریچارډ ماتیسن لـه کتـاب څخه چې په همدې نوم دی، په ۲۰۰۷م کال کې جوړ شوی ده؛ پدې فـیلم کـې ټولنیوونکی ویروس یا طـاعون ډیـری انسـانان لـه مینځـه وړي او هغـوی وینـې خوړونکو ځناورو ته بدلوي؛ او یوازینی کس (ویل سمیټ) چـې د فـیلم مرکـزي رول لري په نیویارک ښار کې د ویروس سره مقابله کوي او د واکسین او تداوئ په لټه کې وي.

**۱۱- پېښېدونکی (The Happening):** دا فیلم په ۲۰۰۸م کال کې جـوړ شوی دی؛ پدې فیلم کې یو د ساینس ښوونکی د خپلې میرمنـې او لـور سـره یـو ځای له یو زهري ویروس څخه چې په هوا کې خپور شـوی وي تېښـته کـوي. دا زهري ویروس د اخته کسانو د ځان وژنې لامل کیږي.

**۱۲- قرنطین (Quarantine):** دا فیلم په ۲۰۰۸م کـال کـې جـوړ شـوی؛ پـدې فـیلم کـې د آمریکـا نـاروغیو د کنټـرول مرکـز ( Center for Disease Control - CDC) د یوې ودانۍ اوسیدونکي قرنطین کوي چې د یو ویروس له امله په زامبیانو بدل شوي وي؛ یوه خبریاله سره د انځـور اخیسـتونکي یـې پـدې ودانۍ کې بند پاتې کیږي. دا فیلم بیاځل جوړونه د یو اسپانیوي فیلم د ریـک پـه نوم په ۲۰۰۷م کې دی.

**۱۳ـ د قیامت ورځ (Doomsday):** دا فیلم هم په ۲۰۰۸م کال کـې جـوړ شوی؛ پدې فیلم کې یو شمېر طبي ډاکټران د یو وژونکي ویروس په نوم د ریک د تداوئ او واکسین د پیداکولو لپاره اسکاټلنډ ته ځـي، خـو د زامبیـانو پواسـطه لـه مینځه ځي.

**۱۴- لیږدوونکي (Carriers):** دا فیلم په ۲۰۰۹م کـال کـې جـوړ شـوی؛ پدې فیلم کې څلور تنه ملګري پـه آمریکـا کـې لـه یـوې سـاري او ټولنیـوونکې ناروغۍ څخه تېښتي خو یو له ملګرو څخه یې پدې ویروس اخته کیږي.

**۱۵- لیوني (The Crazies):** دا فیلم په ۲۰۱۰م کال کې جوړ شوی؛ پدې فیلم کې یو زهري ویروس په یو ښایسته او شین ښارګوټي کـې د یـوې الـوتکې د نسکوریدو (سقوط) څخه وروسته خپریږي، د یـو پـولیس او میرمنـې او دوه تنـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورو پرته، نور ټول کسان پرې اخته کیږي. د دې ویروس اخته کسان په وژونکو او رواني جنایتکارانو بدلیږي.

**۱۶- بشپړ حس (Perfect Sense):** دا فیلم په ۲۰۱۱م کال کې جوړ شوی؛ پدې فیلم کې له یو ناروغ سړي او ښځې څخه یو حسي ساري او ټولنیوونکی ویروس نورو خلکو ته ورځي (لیږد مومي).

**۱۷- خپرېدل یا لیږد (Contagion):** دا فیلم په ۲۰۱۱م کال کې جوړ شوی؛ پدې فیلم کې بې نظمي او ګډوډي ټوله نړۍ نیسي وروسته لدې څخه چې یو وژونکی ویروس یو مور او ځوی له مینځه وړي او لومړني کسان وي چې لدې ویروس څخه مري. د آمریکا ناروغېو کنټرول مرکز ( Center for Disease Control - CDC) کوښښ کوي چې د دې ویروس له خپرېدو مخنیوي وکړي. د دې فیلم یادول په بهرنېو رسنیو کې د کوید-۱۹ کرونا ویروس ناورین پر مهال ډیر تود وو. ډیر خلک پدې باور دي چې د کوید-۱۹ کرونا ویروس جوړول، په لاره اچول او خپرول یې لدې فیلم څخه په الهام ډول اخیستي وو.

**۱۸- زي نړېواله جګړه (World War Z):** دا فیلم له هغه کتاب څخه چې په همدې نوم دی په ۲۰۱۳م کال کې جوړ شوی؛ پدې فیلم کې د ملل متحد یو پخوانی کارمند د خلکو د ژغورلو لپاره د وخت سره مقابله کوي، ترڅو له یو خطرناکه ویروس څخه چې انسانان په زامبیانو بدلوي او دولتونه نګوي مخنیوی یې وکړي.

**۱۹- ګرم بدنونه (Warm Bodies):** دا فیلم په ۲۰۱۳م کال کې جوړ شوی؛ پدې غیر طبیعي فیلم کې داسي زامبیان شتون لري چې د ویروس له امله داسې شوي وي؛ او یو زامبي د یو برید څخه چې په یوې انجلۍ (انسان) کیږي مخنیوی کوي. په نا باوره توګه انسان او زامبي د یو بل په خبرو پوهیږي.

**۲۰- زکام (Flu):** دا فیلم په ۲۰۱۳م کال کې په جنوبي کوریا کې جوړ شوی؛ پدې فیلم کې یو ډول ویروس د اچ ۵ان۱ -H5N1 ډول څخه اخته کسان په ۳۶ ساعتونو کې له مینځه وړي، دا ویروس په هوا کې خپریږي، د سیول په ۲۰ کیلو متری کې یو ښار په ټولییزه توګه اخته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲۱- مګي (Maggie):** په ۲۰۱۵م کال کې دا فیلم جوړ شوی؛ پدې فیلم کې یوه ځوانه انجلۍ د مګي په نوم په یو ساري او ټولنیوونکې ناروغۍ (ویروس) اخته کیږي، د دې ناروغۍ اخته کسان په غوښې خوړونکو زامبیانو بدلیږي، خو د مګي پلار پدې فیلم کې آرنولډ سچوارزینګر د خپلې لور د اخته کېدو سره پدې ویروس بیا هم څنګ ته یې پاتې کیږي.

**۲۲- په شپه کې راځي (It Comes At Night):** دا فیلم په ۲۰۱۷م کال کې جوړ شوی؛ پدې خطرناکه فیلم کې وروسته لدې چې پاتې کم کسان د یوې ناروغۍ (ویروس) له امله چې ټوله نړۍ ننګوي، دوه کورنۍ دې ته اړ کیږي چې په یو کور کې یو ځای واوسیږي تر څو د بهرنیو بلاګانو څخه په امن کې پاتې شي او پدې دوه کورنیو کې چې څوک بلا ده هغه هم وپیژندل شي.

**۲۳- روغ شوی (The Cured):** دا فیلم په ۲۰۱۷م کال کې جوړ شوی؛ پدې فیلم کې وروسته له کلونو راهېسې چې یو طاعون د اروپا خلک یې په زامبیانو بدل کړي وي، خلک کوښښ او مقابله کوي چې مخکینې زامبیان تداوي کړي او هغوی بیاځلي انسانانو ته بدل کړي.

**۲۴- چوپ (خاموشه) ځای(The Quiet Place):** دا فیلم په ۲۰۱۸م کال کې جوړ شوی؛ پدې فیلم کې یو طاعون ټوله نړۍ یې خرابه کړي وي او یوه کورنۍ پاتې وي په خاموشۍ کې هغوی ځانونه یې پټ کړي وي له یو ویروس او ناروغۍ څخه چې د هر ډول غږ سره په خلکو برید کوي او خلک اخته کوي.

**۲۵- ویروس (Virus):** دا فیلم په ۲۰۱۹م کال کې په هندوستان کې جوړ شوی؛ پدې فیلم کې یوه ساري ناروغي او ویروس په ډیرې چټکتیا سره خپریږي، یو شمېر خلک خپل ژوند په خطر کې اچوي تر څو د ویروس له خپرېدو څخه مخنیوی وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هغه فیلمونه چې پکې د کوید-۱۹ کرونا ویروس په اړه یې اشاره ورته کړې وه:**




په ۱۹۸۸م کال کې په یو فیلم کې د *هغوی ژوند کوي (They Live)* په نوم د ناورینونو جوړولو موخو ته لکه د کوید-۱۹ کرونا ویروس ناورین او د نړۍ ټولو خلکو کنټرول ته پکې اشاره شوې وه. دا جملې او متن د دې فیلم څخه اخیستل شوي دي. " زمونږ وړاندوینې ښیي چې تر ۲۰۲۵م کال پورې نه یوازې آمریکا بلکې ټوله ځمکه (نړۍ) به د یو ملاتړ او ولکې او متحد قدرت لاندې وي "




په ۲۰۱۱م کال کې په یو بل فیلم کې د * لومړی غچ اخیستونکی - د آمریکا کپتان ( The First Avenger - Captain America) * په نوم فیلم کې د ویروس انځورونه، کرونا ویروس (د تاج په څیر سمبول د کوید-۱۹ کرونا ویروس) او د ماسک انځورونه په لوحو او بوردونو کې د نیویارک په ښار کې پکې ښودل شوی وو؛ چې ډیری خلک پدې باور دي چې دا کار یې د کوید-۱۹ کرونا ویروس ته یوه اشاره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اقتصادپوه (The Economist) په نوم یوه مجله ده چې هر کال یو پټ مانا لرونکی انځور (تصویر) پخپله لومړنۍ پاڼه کې خپروي چې د هماغه کال یا څو کلونو پېښې پکې ښيي. آیا دا مجله یا د دې مجلې مالکان غیبي علم لري چې د یو کال یا څو کلونو پېښو وړاندوینې کوي؟ نه! هر څـه لـه مخکـې جـوړوي؛ او د مالي، اقتصادي، صحي پلوه او نړېوالې پټې اجنـډاوې د هیوادونـو او دولتونـو پـه سطحه جوړوي او وروسته یې د پټ مانا لرونکي انځور په بڼه یې د دې مجلې او نورو بېلابېلو رسنېو له لارې خلکو ته ښيي. ځینو خلکو ته دا کارونه یې جالبه او د یوې سرګرمۍ او مستۍ په شان ښکاري، ځینې خلک له رواني پلوه په وېـره کـې اچوي، او ځینې خلک هوښیاروي کله چې لټون کوي رښتیاوو باندې پـوهېږي او د پټو موخو او اجنډاوو څخه یې خبرېږي. بایـد یـاد شـي چـې دې مجلـې (دي اکونومیسټ ـ The Economist) د ۲۰۲۰م کال د وړاندوینې لپاره یو پـټ مانـا لرونکی انځور خپور کړی وو چې د ۲۰۲۰م کال لومړنۍ شپږ میاشتې یې په سور رنګ او له خطره ډک او د ځینې ښاروېو (حیوانـاتو) سـره یـې ښـودلې وې: چـې اشاره یې حتماً د کوید-۱۹ کرونا ویروس ناورین ته د خپرېدو په وخت کې وه. د ۲۰۲۰م کال شپږ وروستنۍ میاشتې یې په شـین رنـګ ښـودلې وې: چـې حتمـاً اشاره یې د کوید-۱۹ کرونا ویروس ناورین کمېدو او د کوید-۱۹ کرونا ویـروس واکسین جوړېدو ته وه؛ البته د واکسین په جوړولو کې هم میلیاردونه او ټریلیونونه ډالره د ګټې موخې او اجنډاوې پرتې دي.

د سمپسونونو (Simpsons) په نوم کارټون فیلم هم شتون لري، هیله ده چې املا مې ورته سمه لیکلې وي، دا کارټون فیلم برخې، برخې جوړېږي او په نـړې کـې چې کومې پېښـې واقـع کیـږي پکـې ښـودل کیـږي. آیـا دا کـارټون فـیلم خپلـه جوړېږي؟ نه! دا فیلم یو شرکت او د دې شرکت کارکوونکي یې جـوړوي. د منلـو وړ ده چې پټې اجنډاوې او موخې د نړۍ خلکو ته یې جوړوي په یوه بڼه نه یوه بڼه خلکو ته یې ښيي تر څو عام خلک د نړۍ په هیوادونو کې ورسـره ډیـر نابلـده نـه وي. هغه وړاندوینې چې پدې کارټون فیلم کې شوي یو لیست بـه یـې درتـه یـاد

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي: د دې کارټون فيلم په يوه برخه کې يو ويروس د کويډ-۱۹ کرونا ويروس په څېر خپرېږي او د نړۍ خلک پرې اخته کيږي چې دا برخه يې د کويډ-۱۹ کرونا ويروس له پېښېدو څخه مخکې جوړه شوې او خپره شوې وه. لويه چاودنه په يو ښار کې؛ د دې کارټون فيلم په يوه برخه کې يوه لويه چاودنه ترسره کيږي چې هغه ټول ښار له مينځه وړي چې دا چاودنه په ربښتوني توګه په يو عربي هيواد کې واقع شوه. په لبنان هيواد کې دا لويه چاودنه ترسره شوه، چې ډير زيات وراني او خرابوالی يې درلود او نږدې ډيره برخه د بيروت ښار يې وران کړ او په مالي او ځاني ډول خلکو ته يې زيان ورساوه. نورې وړاندوينې يې هم په آمريکا کې د اوسکار جايزو ورکولو په پروګرام کې د هاليووډ سينما لوبغاړو جايزو ګټلو په اړه وې چې په ربښتوني توګه هم همداسې وشول. يوه جالبه وړاندوينه چې د دې کارټون فيلم په يوه برخه کې يې شتون درلود د آمريکا مخکيني رئيس جمهور (ډونالډ ټرمپ) وژل کېدل د ۲۰۲۰م کال په پای کې وو؛ خو دا پېښه په ربښتوني توګه ترسره نه شوه خو د دويم ځل رياست جمهورۍ څخه لېرې شو؛ په آمريکا کې ډيری وخت (نږدې ۹۰٪) هر رئيس جمهور چې د لومړي ځل لپاره وټاکل شي د دويم ځل لپاره بيا هم د رئيس جمهور په توګه ټاکل کيږي، خو د ډونالډ ټرمپ سره داسې و نه شول. کېدای شي د دې کارټون فيلم وړاندوېنه د هغه دويم ځل نه ټاکل يې د رئيس جمهور په توګه، د هغه د مرګ (مړينې) سره تشبيه کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم څپرکی

# پایله اخیستل

## پایله اخیستل او په هوښیارۍ سره د کوید-۱۹ کرونا ویروس سره مقابله:

د کوید-۱۹ کرونا ویروس سره د مقابلې لپاره اړتیا نشته چې په ډار او وېره کې واوسو، تبلیغات او پورو پاګند د بېلابېلو رسنېو لـه لـوري او عجیبـې اوغریبـې لارښوونې د روغتیا نړیوال سازمان له لوري لکه د لاسونو مینځل د ۲۰ ثانیو دوام سره، د ګوتو او د لاسونو هـره برخـه تـاوول او پټـول، د ځـانکړو کـالیو او خـولۍ اغوستل چې خپله د وېرې لامل کېږي، د یو متر او دوه متره واټن مراعت کـول، د عفونت ضد مایع کارول په اړینه توګه، ماسک لرل په هر ځای کې په جبري توګـه دا ډول بېلګې د کوید-۱۹ کرونا ویروس د ناورین پر مهال خلکو ته لارښـوونه او توصیه کېدله، چې دا ډول کارونه روغ کس ته وسواس او تشویش پیدا کوي چـې هغو سازمانونو او ډلو چې د کوید-۱۹ کرونا ویروس یې پـه لاره اچـولای وو پـه قصدي توګه دا لارښوونې یې د نړۍ خلکو ته کولې تر څو خپلې اجنـډاوې پلـې (تطبیق) کړي او خپلو موخو ته ورسیږي. د پاکوالي او نظافت مراعت کول لکـه د لاسونو مینځل په صابون باندې او د عفونت ضد مایع باندې بد کار ندی، بلکـې ښه کار دی خو نه دا ډول پلان شوی او د نړۍ ټولو خلکو ته یو شان او په یو وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې چې د وسواسو، تشویشونو، روحي او رواني تکلیفونو لامل د نړۍ خلکو ته شي. د کرونا ویروس په طبیعي توګه آن په موږکانو چې ډیر واړه ژوي (موجودات) دي اغېزه نلري او د مړینې لامل يې نشي کيدلای، کرونا ویروس په طبیعي توګه د انسانانو د بدن د ویروسونو ناقل (لیږدونکي) سره هیڅ مطابقت نلري که چیرې په طبیعي توګه د انسانانو بدن ته انتقال هم شي بیا هم د انسانانو د مړینې لامل نشي کېدلای. د کویډ-۱۹ کرونا ویروس شتون يې درلود او لري یې خو دا ویروس طبیعي نده بلکې په لابراتوارونو کې دا ویروس يې ځواکمن، ټولنیوونکی او ساري کړی او په یوه بڼه يې په لاره اچولی او خپور کړی يې دی او په ذهني، روحي او رواني توګه د بېلابېلو رسنیو په مرسته، د اخته کسانو کچې ښودلو او تبلیغاتو سره يې وکولای شو دا ویروس ډیر د خطره ډک او وژونکی وښيي. د کویډ-۱۹ کرونا ویروس ناورین او تود بازار پر مهال پدې کارونو کې يې په ډیره بریالۍ توګه عمل وکړ. د افغانستان هوښیار او پوه خلک له نیګمرغه سم پوه شول چې د پردې تر شا پلانونه او اجنداوې شته دي. په افغانستان کې له نیګمرغه د کویډ-۱۹ کرونا ویروس ناورین ډیر زیات بحراني او اغیزناک نه وو، که څه هم په لومړیو کې یو څه ډار او وېره، روغتیایي اغیزې، مالي او اقتصادي اغېزې يې درلودې. د یو کال او څو میاشتو وروسته د کویډ-۱۹ کرونا ویروس له ناورین څخه تر اوسه هم په نورو هیوادونو او په افغانستان کې د روغتیا نړېوال سازمان او بېلابېلو رسنېو پواسطه تبلیغات او اعلانانونه د کویډ-۱۹ کرونا ویروس لپاره ترسره کیږي. کویډ-۱۹ کرونا ویروس وایي: چې ډیر له خطره ډک دی، یوه نوې خبره هم کوي: چې لومړی موج (څپه) د ویروس پای ته رسېدلې ده، دویم موج (څپه) د ویروس په ټولو هیوادونو کې خپور شوی ده، پدې وروستېو کې وایي: چې د کویډ-۱۹ کرونا ویروس درېمه څپه یا موج په نړۍ کې خپور شوی ده؛ د خپلې وېنا پر بنسټ يې د کویډ-۱۹ کرونا ویروس درېم موج (څپې) ته بازارموندنه او تبلیغات کوي. کله چې د لومړي موج، دویم موج او درېم موج د کویډ-۱۹ کرونا ویروس خبرې کوي: هر ځل وایي چې درېم موج (څپه) يې له دویم موج (څپې) څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خطرناکه او دوېم موج (څپه) یې له لـومړي مـوج (څپـې) څخـه خطرناکـه دی. لدې خبرو څخه یې معلومېږي چې د کوید-۱۹ کرونا ویروس یې په لابراتوارونو کې جوړ کړی ده، ډول ته یـې وده ورکـوي هـر ځـل د مخکینـي ډول څخـه یـې ځواکمن، ساري او تولنیوونکی کوي او په لاره یې اچوي او وروسته بیـا د روغتیـا نړېوال سـازمان، بېلابېلـې رسنـۍ او د ټولـو هیوادونـو دولتونـه ورتـه تبلیغـات او بازارموندنه کوي تر څو پټې موخې او اجنډاوې چې لري غوارې هغو ته ورسیږي. د کوید-۱۹ کرونا ویروس د لومړي مـوج، دوېـم مـوج او درېـم مـوج د مطلـب پوهېدلو لپاره کولای شو ووایو: که چیرې یـو پروګـرام یـا سـافټوېر د کمپیـوټر یـا موبایل په نظر کې ونیسو یو ځل جوړ شي او لومړۍ نسخه یې یو خاص کار سرته رسوي؛ دوېمه نسخه یې او په همدې ډول درېمه نسـخه یـې او نـورې یـې د دې پروګرام یا سافټوېر د لومړنېو نسخو څخه یې پرمختللې او قوي وي. لدې بېلګـې سره کولای شو لومړی موج، دوېم موج او درېم موج د کوید-۱۹ کرونا ویـروس سره تشبیه کړو. کوید-۱۹ کرونا ویروس ته په لابراتوارونو کې وده ورکوي او د هر ځل ودې سره یې قوي کوي او د لومړي موج، دوېم موج او درېم موج په نوم یـې یادوي. د هندوستان په هیواد کې د کوید-۱۹ کرونا ویروس درېم موج پخپله وېنا یې ډېر خطرناکه وو او د ډېرو زیاتو خلکو د اخته کېدو او مړینې لامل شـوی دی او په بېلابېلو رسنیو کې د نړۍ ټولو هیوادونو خلکو ته وښـودل شـو. د هندوسـتان هیواد ځکه چې میلیاردي نفوس لري د کوید-۱۹ کرونا ویروس په لاره اچـول او خپرول یا درېم موج یې پدې هیواد کـې د کویـد-۱۹ کرونـا ویـروس د واکسـین پلورلو (خرڅولو) په موخه او په میلیاردونو ډالره ګټې لاسته راوړل ډېره بده هم نـه ښکاري او نه لاسته راوړونکي موخه یې نده. په اروپایي هیوادونـو، آمریکـا او یـو شمېر د نړۍ نورو هیوادونو کې د کوید-۱۹ کرونـا ویـروس د درېـم مـوج آوازې شتون لري. پدې ورستېو کې یو شمېر رسنېو کې وویل شول چـې ۴۸ پرمختللـي ډولونه د کوید-۱۹ کرونا ویروس په نړۍ کې خپاره شوي دي او په هندوستان کې د کوید-۱۹ کرونا ویروس ډول ته هندی کرونا وایي. لېرې نده چې دا ویروس به

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور په کومو نومونو یاد کړي؟ څه لوبې، اجنداوې او بېلابېلې موخې د کویډ-۱۹ کرونا ویروس په نوم او پلمې به یې تعقیب او تطبیق کړي؟ په پایله کې باید ووایو: چې الله (ج) د نړۍ ټولو انسانانو ته یې ژوند ورکړی دی، هغه د نړۍ ټولو انسانانو ژوند په وخت او ترتیب سره یې ترې اخلي، څه کرونا ویروس وي یا که نـه وي د انسانانو عمر او ژوند یوه ورځ د ناروغېو یا نورو لاملونو له املـه بلاخـره پـای تـه رسیږي. هره آسماني یا طبیعي وبا (ناورین) د تاریخ په اوږدو له ۴۰ ورځو څخـه یې زیات دوام ندی کړي، ګورو چې د کویډ-۱۹ کرونا ویروس لـه یـو نـیم کـال څخه زیات وخت کیږي چې دوام لري، لـدې ځایـه معلـومیږي چـې دا نـاورین طبیعي نه بلکې په لاره اچول شوی ده. د دې موضوع څخه سترګې نشې پټېـدلای چې د کویډ-۱۹ کرونا ویروس شتون نلري، د کویـډ-۱۹ کرونـا ویـروس شـتون لري او شته دی خو په طبیعي بڼه نده بلکې د انسانانو په لاس په لابراتوارونو کـې جوړ شوی او په لاره اچول شوی ده. په پای کې باید یاد شي: چې هـر څـه چـې مونږ له خلکو، سازمانونو، بېلابېلو رسنیو او دولتونو څخه اورو (۱۰۰٪) سل سلنه رښتیا نه وي. له ډار، وېرې، پرېکړې او پټو سترګو قضاوت څخـه مخکـې؛ مـونږ پخپله باید د خپل ژوند مسائلو په اړه لټون او څارنه وکړو تر څو پـه رښـتیاوو پـوه شو. د ذهنونو کنټرول، فکرونه او د ژوند واک مو باید په خپل لاس کې وي. له بده مرغه [1]زمونو خلک (د افغانستان خلـک) ډیـری وخـت سمدسـتي او سمدلاسـه قاضیان دي د موضوعاتو د نه پوهېدو سـره قضـاوت کـوي او ژر پرېکـړه کـوي او ځینې وختونه ډېر د بدو او ناسمو پایلو لامل کیږي.

پای

---

۱- یوه د سمدستي قضاوت پېښه، چې په پټو سترګو او په بې شعورۍ سره زمونږ خلکو (د افغانستان خلکو) ترسره کړه، کولای شو په کابل ښار کې د **شهید فرخندې** په بې رحمۍ او ظلم سره وژل یې یاد کړو. په سلګونو او زرګونو نورې پېښې په افغانستان کې واقع شوي دي چې د سمدلاسه او پټو سترګو قضاوت له امله ډیرې بدې، ناسمې او خطرناکې پایلې یې درلودلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سرچینې او مأخذونه:

### یادَونه:

لینکونه او آدرسونه چې لاندې لیکل شوي دي؛ ډېری مالومات او ویډیوګانې اوس مهال شته دي؛ یو څه اندازه یې له مینځه وړي دي، او پاک شوي دي، که چېرې تاسو د دې مالوماتو او ویډیوګانو غوښتونکي یاست کولای شئ دې ایمیل آدرس (برښنالیک) ته (rasheedsamadi.najab@protonmail.com) یو ایمیل راولیږئ او د مالوماتو غوښتنه مو وکړئ ټول مالومات او ویډیوګانې به درته ولیږل شي.


https://en.m.wikipedia.org/wiki/coronavirus_disease_2019

https://www.medscape.com/answers/2500114-197401/what-is -covid-19

https://www.healthline.com/health/coronavirus-types

https://www.globalresearch.ca/covid-19-further-evidence-virus-orginated-us/5706078

https://www.youtube.com/user/drbutter

https://www.askdrbutter.com/ask

https://www.askdrbutter.com/join-iadfw-2/join-iadfw-va/

---> Invitation Code: 24091

https://www.advancedmedicine.com/

https://www.youtube.com/watch?v=oyijHfL-W7w&t=237s

https://www.brucelipton.com

https://www.youtube.com/user/biologyofbelieve

https://www.youtube.com/RTuf7OfZ-yY

(c) ketabton.com: The Digital Library



https://www.youtube.com/HaVRnxhf_Ol
https://www.youtube.com/manifestyourself
https://www.drjoedispenza.com/
https://www.youtube.com/watch?v2eiw2CRdQ98&t=577s
https://www.youtube.com/GreggBradenOfficial
https://www.greggbraden.com/
https://www.londonreal.tv/butter
https://www.londonreal.tv/episodes
https://www.londonreal.tv/latest
https://www.globalresearch.ca/planetary-hysteria-manufactured-covid-19-health-crisis-pushes-humanity-global-society-total-shutdown/5707607
https://www.worldometers.info
https://www.youtube.com/user/SheikhImranHosain
https://www.youtube.com/watch?v=uczcql8RdxI
https://www.seratnews.com/fa/فراماسونری چیست؟.html
مالومات د اِوَنجليزم په اړه د بې شعورۍ له کتاب څخه اخيستل شوي دي.
https://www.youtube.com/watch?v=i5kpCMz8yXk
https://www.youtube.com/watch?v=KvC4r2SuvGk
https://www.globalresearch.ca/video-plandemic-documentary-hidden-agenda-behind-covid-19/5712013
https://www.globalresearch.ca/the-real-coronavirus-victims-relations-between-people/5712970

(c) ketabton.com: The Digital Library



https://www.globalresearch.ca/video-corona-virus-economic-and-social-collapse-bankruptcy-debt-and-poverty/5709883

https://www.youtube.com/watch?v=MjNUA8I3W_g

https://www.youtube.com/watch?v=AbUAnMUs4H8

https://www.youtube.com/watch?v=3kntCEsU70Y

https://youmatter.world/en/definition/difinitions-globalization-difinition-benfits-effects-examples/

https://www.investopedia.com/terms/g/globalization.asp

https://www.youtube.com/watch?v=XdSrY9-viEA

https://www.youtube.com/watch?v=ymmuc15ayNI

https://www.youtube.com/watch?v=bGk5usgRrao

https://www.youtube.com/watch?v=kw4ZiucARH8

https://www.youtube.com/watch?v=27OmxHr6Zm0

Go to → Dr. Rashid Buttar YouTube Channel you will find more information. **[If you want]**.

https://www.youtube.com/watch?v=lrg2yjUImqc

https://www.youtube.com/watch?v=yfthWQ_-8eQ

https://iranintl.com/جامعه/آیا-شیوع-کرونا-۴۰-سال-قبل-پیش‌بینی-شده-بود؟

https://en.wikipedia.org/wiki/World_Economic_Forum

https://www.youtube.com/watch?v=JQulGSF18OM

https://edition.cnn.com/2020/01/30/entertainment/contagion-and-pandemics-in-movies/index.html

(c) ketabton.com: The Digital Library



https://gulfnews.com/photos/entertainment/pandemic-films-25-movies-people-are-watching-during-the-coronavirus-outbreak-1.1585481864446?slide=15

ARSN

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**